# دریمه لاره

غفور لیوال

**Download from:aghalibrary.com**

WWW.KITABTOON.COM کتابتون ټولنه

# فهرست

ولې درپیمه لاره؟ ........ 4
ملامت ملت ........ 8
ټولنیز معافیت ........ 13
یوه بله ستونزه : ........ 16
شتمني، ټولیزه شتمني، ملي شتمني ........ 19
ملي ګټې ........ 25
ملي بې باوري ........ 29
موږ او دیموکراسی ........ 37
د ښار او کلي جګړه ........ 44
زموږ کافر(!) حکومتونه ........ 50
بې قانونه ملت، بې ملته قانون ........ 54
موږ او خپلواکي ........ 58
زموږ وطندوستي ........ 62
موږ او «ایزمونه» ........ 65
زموږ انتقادي اخلاق ........ 69
د ملي مشرۍ تشه ........ 73
درپیمه لاره ........ 76
د ویښنتیا پړاو ........ 76
هره ښېګڼه د افغان انسان لپاره! ........ 76
د اور پرتوګ ........ 80
د سولې وزارتونه ........ 83
ویښنتیا : ........ 87
د سولې ښوونځي ........ 87



Download from:aghalibrary.com

د افغانستان د ایل کولو لپاره پینځه نسخې ................................ 92
چې په تنګ شي نو په جنګ شي ................................ 100
افغانستان،دوېښتیا غورځنګ ................................ 103
او بهر میشتي افغانان................................ 103
له نویو سیاستونو سره زموږ زوړ چلند ................................ 107
ملت–دولت ................................ 111
داړیکو اروا پوهنه................................ 111
ګوندونه ، سیاسي ځواک او خلک ................................ 115
ملي شرم ................................ 117
دانسل دې نور تاوان نه ورکوي ! ................................ 121
کوم نسل؟ ................................ 121
ستونځه: ................................ 122
درپیمه لار: ................................ 124
ما ولې (افغان انسان) دهرې هڅې منځپکی کړ؟ ................................ 126
بدلون څه مانا ؟................................ 131
موږ و لې همدردي نلرو ؟ ................................ 134

Download from:aghalibrary.com

# ولې درېیمه لاره؟

داسې هېوادونه شته چې هم خواري کوي اوهم فکر، پرمختللي او ماړه هېوادونه دي لکه جاپان، دجاپان خلک خواریکښ او ذهین دي، د ماشین په څېر کار کوي او د کمپیوټر په شان فکر.
داسې هېوادونه شته چې نه خواري کوي نه هم فکر، خو ماړه دي، د خلیج ځینې هېوادونه لکه عربي متحده امارات او نور داسې دي، د دوی لپاره بهرنیان هم فکر کوي او هم خواري ، اروپاییان ورته فکر کوي او آسیایان ورته فزیکي کار، دغه هېوادونه ماړه دي خو پرمختللي نه دي، پرمختګ د فرهنګي ودې له یوه ټاکلي برید (حد) څخه اوښتل دي. دغه هېوادونه پراخه طبیعي سرچینې لري. عربو ته خدای (ج) تیل او انرژي ورکړې ده. داسې هېوادونه هم شته، چې خواري او زحمت باسي،خو فکر نه کوي،خواراو غریب دي، لکه افغانستان. افغانان فزیکي خواري کوي، ډېر فکر نه کوي د تعلیم کچه یې ټیټه ده ځکه خو هم خوار دي او هم بې ثباته، له دې اړخه د نړۍ هېوادونه په نورو ډولونو هم ویشلی شو؛ ځینې هېوادونه پرمختللي دي خو ماړه نه دي، دوی فکر کولای شي خو د عربي نړۍ د هېوادونو په څېر سرچینې نه لري. یو شمېر اروپایي هېوادونه لکه یونان په دې ډله کې راځي.
څه هېوادونه هم سخته خواري کوي او هم فکر کولای شي خو ډېر ماړه او پرمختللي نه دي یو دلیل یې د ګڼ نفوس درلودل دي لکه چین او هندوستان، دغه دوه هېوادونه خورا چټک پرمخ ځي او د نړۍ په اقتصادي وده کې یې ځانته لومړي ځایونه نیولي دي، خو چین د سیاسي نظام ستونزه لري او هندوستان د نفوسو او فقر له ستونزې څخه ځورېږي.
ځینې هېوادونه داسې دي چې نه طبیعي سرچینې ډېرې لري، نه ډېر فکر کوي، او نه یې هم خواري ځای نیسي، افریقایي وروسته پاتې هېوادونه همداسې دي.



Download from:aghalibrary.com

د بېلا بېلو هېوادونو په اړه له داسې سرسري انګېرنو څخه وروسته راځم خپلو ستونزو ته:

دا به منو چې موږ افغانان هم وروسته پاتې یو، هم خوار، هم وران شوي او هم وژل شوي. نه خواري کوو (او که یې کوو نو ځای نه نیسي) او نه هم فکر کولای شو، یو خو د فکر کولو مشق نه لرو او بل یې تعلیم.

دا چې ولې دومره بدمرغه یو، لاملونه یې ډېر دي: سیاستپوهان وایي چې موږ په بد سیاسي موقعیت کې پراته یو او د خپل موقعیت بلهاریان یو، ټولنپوهان وایي چې زموږ ټولنیز جوړښت سم نه دی، په قومي، ژبني، مذهبي او . . . ویشو نو سره ویشل شوي یو، انتروپولوژستان وایي: چې زموږ ټولنیزه ارواپوهنه همداسې ده چې خواري او فکر کول مونه خوښېږي، دا مو ټولنیز عادت دی، چې ژمی پیتاوي ته ناست یو او اوړی سیوري ته، لږ کار کوو، لږ فکر کوو او ډېر خورو او ډېرې خبرې کوو، تاریخ پوهان وایي: له تاریخي پلوه موږ ټول عمر په جګړو کې تېر کړی دی او فکر و کار ته نه یو وزګار شوي، انقلابیون وایي: موږ مستبدو او مرتجع حکومتونو ویده اوو روسته پاتې ساتلي یو او د ویښتیا او روښانیتا پړاوونو ته یې نه یو پرېښي، ملایان وایي: چې زموږ اعمال او نیتونه خراب دي، د خدای(ج) له لارې څخه مو ځان نه دی خبر کړی ځکه نو د خدای(ج) قهر را باندې نازل شوی دی. نړیوال وایي: چې افغانان تیار خواره دي، کار او فکر نه کوي بس لاس یې اوږد دی او ټول عمر مرسته او خیرات غواړي. افغانان وایي: نه دا د نړیوالو ګناه ده چې موږ داسې یو، د دوی سیاسي لوبې ددې لامل شوې چې موږ خراب او وروسته پاتې یو، اوس چې همدې نړیوالو خراب کړي یو، دا د دوی مسؤلیت دی چې بېرته مو جوړ کړي، دا مرسته او خیرات نه، بلکې زموږ پرې پور دی . . .

هر څه چې وي، وي به، کیدای شي دا ټول دلایل سم وي خو حقیقت دا دی چې موږ پرېوتي، ژوبل، وروسته پاتې او زخمي یو.

عجیبه داده چې په دې لیکنه کې (خواري) او (فکر) ډېر یاد شول، داسې ګومان پیدا کېږي چې د پرمختګ لپاره دا دوه کاره په کار دي (زحمت، فزیکي کار، تولید او بشري



Download from:aghalibrary.com

ځواک) او ( فکر، پوهه، تجربه او تعلیم) که څه هم موږ ولیدل چې ښه، سالم او دیموکراتیک لیډرشپ ( سیاسي مشري)، طبیعي سرچینې، جغرافیایي موقعیت، نفوس او سیاسي ثبات هم د پرمختګ او مرښت لپاره مهم دي، خو د منځ ټکي یې هماغه زحمت ایستل او پوهه ده.

دا فکر ماته په جاپان کې پیدا شو. د هوکایدو پوهنتون د یوه لکچر لپاره میلمه کړی وم، د دغه پوهنتون له استادانو سره مې په ځینو مسلو خبرې وکړې هڅه مې وکړه چې د پرمختګ، تکنالوژۍ او پوهې د دغه افسانوي هېواد د پرمختګ په رازونو پوه شم.

او کیدای شي زه، د خدای(ج) دغه بېچاره بنده، ډېر ناوخته په دې پوه شوم چې فکر کول ( د پوهې پیاوړي کول) او جسمي خواري او زحمت هم وګړی ( فرد ) پرمخ بیایي او هم ټولنې ته د پرمختګ لار هواروي.

خو دلته د فردي پرمختګ او د ټولنیز پرمختګ ترمنځ د مخامخ اړیکې ترڅنګ توپیر هم شته د فردي پرمختګ لپاره د شخص اراده، استعداد او توانمندي ضروري ده خو ټولنه چې د اشخاصو مجموعه ده، د پرمختګ لپاره سالمې، روښانه او ژمنې رهبرۍ او مشرتابه ته اړتیا لري. د همداسې مشرتابه د رامنځ ته کولو لپاره هم خلک مسؤل دي، ځکه : « هر ملت په هغه حکومت ارزي چې لري یې» په دوه مره لانجمنه نړۍ کې موږ افغانان په عجیب نامتوازن حالت کې یو ؛ په ګڼو عرصو کې د پنځلسمې او شپاړلسمې میلادي پیړۍ له فکري عصر سره ژوند کوو، خو په ځینو برخو کې یوویشتمې پیړۍ ته ننوځو، په افغانستان کې د مدرنیزم او زوړپال دودیال ژوند ترمنځ واټن د ټولنیز ټکر او ګډوډۍ لامل ګرځي.

په سرو ـ شنو انقلابونو کې زموږ یوه جدي ستونزه داوه، چې په کلکه د پردیو په مرستو پورې تړلي عادت شو. د افغانانو په عامه ذهنیت کې یو باور داسې دی چې تل به پیسې له بهره راځي، بهرنیان به راته پالیسي جوړوي، بهرنیان به راڅخه دفاع کوي او عقل به راښیي، تکنالوژي به رالیږي،فکر به راته کوي او خواري به هم راته باسي.

ددې په وړاندې به موږ دوه برخې کېږو : یوه برخه به له بهرنیو سره جګړه کوو، د جهاد، مقاومت، آزادۍ او خپلواکۍ شعارونه به مو پر سر نیولي وي او ډېر ځله به خپل خلک

وژنو، دوهمه برخه به د بهرنیانو تر تخرګ لاندې ننوځو او د هغو په مرسته به نیم ونیمکله واک چلوو، هغه د خپلواکۍ په نامه هم چې راپاڅېدلي یو، په دې به نه پوهېږو چې سم خپلواک نه یو او د خپلواکۍ غوښتنې سرچینې مو هم له نورو بهرنیانو څخه او به څښي. بس نیم قاتل شوو، نیم مقتول. همدادی زموږ سیاسي ژوند.

موږ ته له اوږدې مودې راهیسې دا سودا او دا اندیښنې لوی لوی ماران او ښاماران شي او موږ وخوري، چې ایا د همداسې دوه اړخیزه ټکرونو ترمنځ به تر کله یو بل وژنو؟ واکمن به د مقاومت بهیر ځپي او مقاومت به دا بل وژني خو په حقیقت کې به ریښتنې صدمه او زیان ملت ته رسېږي.

ددې دوه اړخیزه جګړې ترمنځ «درېیمي لارې» ته لږ سوچ نه کوو، د افراط او تفریط ترمنځ د تعادل خیال نه ساتو او د حل پر لارو فکر نه کوو، موږ افغانان دعمل او عکس العمل ترمنځ تباه شو، پوزیشن او اپوزیشن مو وسله وال دي، دواړه ډزې کوي او ترمنځ یې خلک وژل کېږي.

د فکر او خوارۍ خلک یا نه لرو، یا یې لږ لرو، یا بهر ته تښتېدلي، یا یې څوک غږ نه اوري او اهمیت نه ورکوي.

د فکر او خوارۍ ایستلو خلک همدا د درېیمې لارې خلک دي، چې بالاخره به افغانستان ژغوري. دا وطن په څوکۍ، ټوپک او پیسو نه، بلکې په فکر، قلم او خوارۍ جوړېږي.

ددرېیمې لارې لارویانو ته د سټېج ورکولو لپاره د لیکنو دا لړۍ پیل کوو او هیله ده چې هېوادوال مو ملاوتړي او د قدرمنو قلموالو او روښانفکرو نظریات مو پر سمه لاره ورسیخ کړي، په همدې هیله

یاهو

ستاسو لېوال

# ملامت ملت

څو ورځې مخکې مې له یوه هندي څېړونکي سره د ټولنیزې پراختیا په اړه خبرې کولې، د هندوستان مثال یې راکړ، ویل یې : ګاندي زموږ لپاره خپلواکي وګټله او یو خپلواک هېواد یې په لاس راکړ، مګر خوار، وږی، تش کړل شوی، له ټولنیزو ستونزو ډک، په کاستونو ویشلی او له فرهنګي پلوه ځپلی هندوستان. د دغه هندي څېړونکي په وینا هغه مهال هندوستان شاوخوا څلور سوه میلیونه خلک درلودل او په دوی کې یې تر پنځوس سلنه ډېر د بېوزلۍ تر کرښې لاندې وو، خود جواهر لال نهرو د مدبرانه رهبرۍ له برکته د هندوستاني ادارې داسې اساسات رامنځ ته شول چې همدې خوار هندوستان د پرمختګ مخه ونیوله او اوس چې تر یو میلیارده ډېر وګړي لري، د فقر کرښه په مراتبو په کې راکوزه شوې ده او یو له چټکو پرمختلونکیو هېوادونو څخه دی، هیندو څېړونکی هی لګیا و او د خپل ښه سیاسي مشرتوب (لیډرشیپ) ستاینې یې کولې او زه یې درګرده په غوږ وهلم چې تاسو داسې لیډرشپ نه لرئ. هیندو خپل دیموکراتیک سیستم هم ستایه او دا یې هم نه پټوله چې د ښه مشرتوب تر څنګ د ملت ملاتړ هم خورا مهم و. دلته نو موږ ته دوه پوښتنې په مخ کې درېږي چې زموږ په دغه ناورین کې د کیوتو لپاره څوک مسؤل دي؟ مشرتوب که ملت؟ یا دواړه؟ او یا یو هم نه؟

زموږ د ناورین، کړکېچ او ملي غمیزې لاملونه له بهره هم را ننوتي، د ګاونډیو مداخله، د زبرځواکو سیاستونه او د نړیوالو استخباراتي لوبې، خو آن همدغو ډېرو ته د سر نیولو لپاره هم زموږ سیاسي لیډرشیپونه او یا ولس ملامتېدای شي. ځکه له غرض ومرضه ډک بهرنیان خو به هر څه کوي نو موږ ولې د دوی د لاس ګوډاګیان شوو؟

لږ تر لږه له ۱۳۵۷ کال څخه را په دې خوا دغه بې پردې منطق زموږ د خلکو ترمنځ شاربل کېږي. په ملي بس کې، په ټولګي، بازار، دفتر او مطبوعاتو کې هر چیرې لګیا یو، یو سړی شکایت پیل کړي : فساد دی، رشوت دی، ښار مردار دی، شار ناپرسان دی، دولت کار نه کوي . . . بل ورته وایي: ټول زما او ستا له لاسه وروره! نفسونه مو خراب

دي، بل وايي: په دې ټولو کې د خارجیانو لاس دی، ایران او پاکستان مو په کرار نه پرېږدي، بل وايي : چې د ځپلی بند مو هم وشکېږي امریکا ملامتوئ، وه وروره! موږ خپله د خارجیانو د لاس آله یو . . . د خلکو تبصرې سمې دي، دا هر څه شته خو هېڅ ځوک د شکایت له بریده وړاندې نه ځي، هېڅ ځوک د حل لاره نه وړاندې کوي او بالاخره هېڅ ځوک د حل لارو په عملي کولو فکر نه کوي.

دیرش کاله کافي وخت دی چې د یوه عمل تکرارډې په یوه ټولنیز عادت بدل شي، مانا دا چې زموږ ډېر وخت په شکایت او تکراري ګیلو تېر شوی، پرته له دې چې حل لارې ته ورسېږو، که کله کوم بدلون غوښتونکی په مجلس کې حاضر وي او په ګډونوالو غږ وکړي، چې : راځئ یو څه وکړو او له همدې ځایه یې اصلاح پیل کړو، نو نور به پرې غږ وکړي چې : دا زموږ کار نه دی ... ستا څه زړه دی چې بیا مو په چا خرڅ کړې؟ . . . هر سړی پیدا دی خپل خپل کار لره که نه. او تر ټولو یې بده دا، چې په دیرشو کلونو کې د بهرنیو ځواکونوپرله پسې حضور او اغیز هم له موږه دعملي نوښت امکان اخیستی دی،ځکه فکر کوو چې هر څه له واشنګتن یا مسکو څخه جوړېږي یا ورانېږي.

یعنې له موږ څخه د ملي ارادې پر اساس د بدلون راوستلو باور هم اخیستل شوی دی یا مو له لاسه ورکړی دی.

له دې لنډکي بحث څخه بېرته راځو اصلي بحث ته، چې ددې ناخوالو لپاره سیاسي مشرتوبونه ملامت دي که ملت؟

که پردې منطق یې وتلو چې: « هر ملت د خپل برخلیک په ټاکلو مسؤل دی!» بیا خو ملت ملامت دی، خو که د ملت دلایل واورې چې : « د ملت خبره څوک اوري یا ملت د همدې لپاره له مکتبه لرې ساتل شوی و چې خپله اراده تمثیل نه شي کړای یا بهرنیانو تل په هر څه کې لاس درلوده او په دیرشو کلونو کې مو خپلواک حکومت نه درلوده . . .» بیا نو د ملامتۍ فکتورونه نور دي. مسئله د چرګې او هګۍ ده چې کومه یوه اوله پیدا شوې ده؟ که چرګه اوله پیدا شوې نو له هګۍ پرته څنګه؟ او که هګۍ اوله پیدا شوې نو چا کړې ده؟ که یو کس یا ټیم راپانه ځي او د سالم لیډرشیپ په توګه د ملت سمه لاربښوونه ونه کړي ستونزه به څنګه حل شي؟

او ددی لپاره ګڼ مثالونه هم شته، خو ددې په وړاندې جدي پوښتنه داده چې که ملت آماده نه وي او له بدلون سره مرسته ونه کړي، د سالم مشرتوب ملا ونه تړي نو دا څو کسه به څه وکړي؟ دواړه خبرې رېښتیا دي او بالاخره دغه باطله کړۍ باید له یو ځای څخه ماته شي.

اوس راځو چې له کومه ځایه یې پیل کړو :

یو ویښ ملت کولای شي سالم مشرتوب تشخیص کا او تر شایې ودرېږي، نو د همدې لپاره موږ د ویښتیا او روښانتیا یوې دورې ته اړتیا لرو. ژمن روښنفکران، ملي بنسټونه لکه ګوندونه، مدني ټولنه، فرهنګیان، رسنۍ، حکومتي بنسټونه دا مسؤلیت لري چې دغه دورې پیل کړي او د یوې علمي او عملي ستراتیژۍ پر بنسټ دې قدم په قدم پر مخ یووړل شي.

همیشه د دیموکراسۍ په اړه د بحث په وخت کې د «ملي ارادې» یا ولسي پرېکړو د توانمندۍ مسئله مخې ته راځي. دا اراده روزل کېږي، موږ یې رېښې له لومړۍ او دوهمې مشروطه غوښتنې څخه لرو، سرو.شنو انقلابونو دغه رېښې وځپلې خولا وچې شوي نه دي. په دې اړه ملي تفاهم ته ضرورت شته، چې له بدمرغۍ څخه د راوتلو یوازینۍ لاره له ولس سره ده او دا ملت دی چې خپل برخلیک بدلولای شي او که د خپل برخلیک د بدلولو لپاره خپله اراده نه کاروي نو دا ملامت ملت دی. لوی خدای (ج) په خپل مبارک کلام کې فرمایي :

(ان الله لا یغیرو ما بقوم حتی یغیرو ما باانفسهم)

«په تحقیق سره خدای(ج) نه بدلوي حال د یوه ملت څو چې دغه ملت په خپله خپل حالت بدل نه کا».

دا شعارونه نه دي، بلکې د ملي حل لارو لومړني ګامونه دي.

تر هر څه وړاندې ښایي یو شمېر ملي محورونه او ارزښتونه رامنځ ته کړو چې ټول لوستي او زړه سوانده افغانان پرې را ټول شي، هغه پولې چې په سرو.شنو انقلابونو کې یې ددې ملت وګړي یو له بله سره بیل ساتلي، باید له منځه وایستل شي نور نو په دې ایډیولوژۍ یا پر هغه طرز تفکر متهمول ښایي هېر شي، هغه ټاپې چې د ځینو په

جیبونو کې دي او د چا د میز په کورګې کې، باید وسیزل شي، نور نو په چپ و ښي، هغه ایست او دغه ایست له منځه شړل پای ته رسیدلي، هر هغه څوک د داسې هڅو په محور کې راتلای شي چې افغان – افغانستان او ددې هېواد ملي ګټو ته وفادار دی او کولمه یې په کوم بهرني تار پورې نه وي تړله شوې.

د سمون په خوا د لومړي ګام ایښودلو لپاره «افغان» کېدل په کار دي. موږ به په خپل ملت کې دا مفکوره عاموو، چې د یوې کورنۍ غړي یو او همدا هېواد مو یا کور دی یا ګور، بهر ته د وتلو، بهرنیانو ته د راتللو او په بهرنیو اشارو ځغلېدل پای ته رسېږي.

ګورئ! د سیمې او بهرنیو هېوادونو استخباراتو د ځینو افغانستان میشته وګړیو په منځ کې نفوذ کړی، له دې یې موخې دوه دي؛ یوه دا چې خپل سیاسي – ستراتیژیک اهداف عملي کا او بل یې دا چې ملي بې باوري رامنځ ته کړي، په خپله جاسوسي کړه د افغانانو په ملي ذهنیت دا او هغه په یوه او بل نوم بدناموي او دادی داسې حالت یې رامنځته کړی دی، چې یو افغان پر بل باور نه شي کولای، هر یو بل ته د کوم بهرني هېواد ګوډاګی ښکاري، دا ډول ملي بې باوري ملت او ټولنه پردیو او ګاونډیو هېوادونو ته راڅملوي. موږ یو ځل بیا له څو جدي او ضروري ګامونو سره مخامخ شو، چې باید ددغه بحث په پایله کې یې پورته کړو :

۱.افغانستان زموږ هېواد دی او ملي ګټې تر ټولو ګټو پورته دي.

۲.موږ پر خپله ملي اراده باور کوو، او د بې باورۍ فضا له منځه وړو.

۳.روڼ اندي، ملي بنسټونه، مطبوعات او مدني ټولنه چمتو ده چې د یوې منظمې ملي ستراتیژۍ اوعلمي . عملي پلان په رڼا کې د ویښتیا او روښانتیا پړاوونه پیل کړي( دویښتیا او روښانتیا دپړاوونو څرنګوالی د درېیمې لارې په رارونو بحثونو کې په ګوته کوو، انشاالله)

۴. په دې فکر کول په کار دي چې په روان ناورین او غمیزه کې د ملت مسؤلیت، مکلفیت او ستونزه څه ده، د دولت او لیډرشیپ څه ده، د روڼ اندو، مدني بنسټونو او ملي خوځښتونو نیمګړتیاوې او مسؤلیتونه څه او کوم دي؟

**۵.** که حکومتونه سم کار نه کوي ملامت دي خو که ملت سم حکومتونه، نه دي ټاکلي څه وکړو؟ او څوک ملامت کړو؟ د دوی دواړو ترمنځه که مکتب لوستیو، په اصطلاح روښانفکرو، ټولنیزو – فرهنګي مشرانو خپل مسؤلیت نه دی تر سره کړی نو ملامت څوک دی؟ دوی د ملت اودولت دواړو په وړاندې ملامت دي، د ولس د سیاسي – ټولنیز شعور لوړول او پر دولت درغوونکي فشار راوړل دا د منځنۍ ډلې کار دی.
چې راغونډه یې کړو زموږ ددغو کرښو پایله دا راخیزی چې:
دې ټولو شمېره بحثونو ته علمي – عملي کړنلاره جوړول په کار دي. موږ هغه باطله کړۍ ماتوو چې خلک ملامتي پر دولت او دولت یې پر خلکو اچوي، د چرګې او هګۍ لوبه له دې ځایه ماتوو چې، لوی خدای (ج) د هر څه خالق دی او په خپل الهی قدرت یې هر څه خلق کړي دي، او لوی خدای (ج) به موږ ته هم وس راکړي چې خپل حالت په خپله بدل کړو، او د الله تعالی په با ارادې او هوښیارو بنده ګانو کې به ځان وشمارو.
انشاالله

# ټولنيز معافيت

زه نه پوهېږم، چې عيب د ډوډۍ په وخت کې دی که د خبرونو په ساعت کې؟ هر بيګاه چې کور ته ورسېږو، نو څو شيبې وروسته د شپې پر ډوډۍ راټول شو، ټلويزيون يا راډيو چالانه وي، په يوه نه يوه موج کې خبرونه وي،خبرونه هم لکه د هرې ورځې تکرار چې وي، وايي :

” په . . . ولايت کې د بمي چاودنې له امله . . . تنه ملکي خلک ووژل شول،. د بهرنيو ځواکونو د بمبارۍ له امله، ماشومان او ښځې شهيدان شول . . . د ځانمرګي بريد له امله د سيمې اوسيدونکو ته مرګ ژوبله واوښته . . . دومره تنه پوليس، طالبان يا . . . ووژل شول ....“

تردې بده يې لا دا چې په ټلويزيونونو کې د مړو، ټپيانو او ورانيو تصويرونه هم را ښيي ،خو موږ لا ډوډۍ خورو، مړۍ وهو، کله کله د ډوډۍ پر سر ټوکې هم کوو؛ لکه هېڅ چې نه وي پېښ شوي.

يوه ورځ مې ماشوم زوی را څخه وپوښتل : پلاره! ما اوريدلي او ليدلي چې څوک مړه شي، خپلوان يې ورته ژاړي، ما چې ځواب ته ځان جوړوه بله پوښتنه يې وکړه، په خبرو کې هره ورځ وايي چې خلک مړه شول خو موږ نه ژاړو . . . ښه ساده ځواب خويې دا و، چې : (( زويه دا مړه شوي خلک خو زموږ څه نه کېږي، بس خپل خپلوان به يې ورپسې ژاړي نو . . .)) مګر آيا دا ځواب سم دی؟

دې پېښې په فکرونو کې راوپېچلم او د افغاني ټولنې يوې لويې، وحشتناکې او هولناکې نيمګړتيا ته مې پام شو او هغه د جنايت په وړاندې «ټولنيز معافيت» دی.

ولې ټولنيز معافيت ورته وايو؟

د وژنو، ورانيو او بدو پېښو پرله پسې خبرونو، تکرار او ډېرېدل موږ افغانانو په دوو معافيتونو واړولو چې اوس را باندې اغيز نه کوي؛ يو دا چې د قتلونو د خبرونو په اوريدو مو عواطف ټکان نه ويني او نه خپه کېږو، او بله دا چې دغه جنايت په موږ کې

عمومیت پیدا کړی دی او جګړه ماراو جنایتکاران ډاډه شوي، چې هسې هم زموږ اعمال په هېڅ محمکه کې نه ارزول کېږي، او د جنایتونو په اړه ملت ډېر سوړ دی، دا دیرش کاله خو عادت پردې و، چې جنایتکاران دې په هېڅ علني محکمه کې محاکمه نه شي، خو اوس خطر لا پسې زیاتېږي، او خدای(ج) مکړه داسې ورځ به راشي چې جنایتکاران او وژونکي دې د خلکو په روحي محکمو کې هم له محاکمې ځخه وتښتي او هغه کرکه اونفرت چې په ټولنه کې د دوی پر وړاندې شته ورو- ورو را کم شي، همدې ته وایي منفي ټولنیز معافیت.

دغه ټولنیز معافیت زموږ څو نسلونه خشن، بې رحمه یا لږ تر لږه بې عاطفې ورزول. زما ماشومان د وژلو او قتل د خبر په اوریدو ټکان نه خوري دا ورته عادي ده!!! اوزموږ ملي غمیزه (تراژیدي) له همدې ځایه پیلېږي.

زه چې ماشوم وم د پولیګونونو، او تنظیمي جګړو خبرونه وو، ما اوریدل چې ځینې خلک د لمانځه، د تذکرې سره پوښ . . . لپاره وژل کېږي، چې زلمی شوم نو بیا هم خبرونو ویل چې چا د چا په سرونو کې میخونه ووهل، ښځې . . . او خلک په کانتینرونو کې ستړ شول.

زوی مې هم خبرونه اوري: چې خلک د موچي په تار حلال شول او پر واده بمباري وشوه . . . خو موږ لا هم ډوډۍ خورو لکه هېڅ چې نه وي پېښ . . . زموږ ټولنیزه عاطفه چېرې ده؟ آیا نړیوالو ځکه په موږ پسې را اخیستي چې بې عاطفې، بې رحمه او وژونکي خلک یو؟ آیا ځکه موږ ټول تروریستان ګڼي؟ ښایي د دوی یو دلیل داوي، چې: بلا وریپسې له ماشومه تر زاړه ټول همداسې بې رحمه او وژونکي دي بس د دوی هم خون مباح دی...

بیا هم پوښتنه: موږ ولې داسې یو ؟

ټولنیزه اروا پوهنه Socio- Physiology حکم کوي چې د یوې ټولنیزې پدیدې متواتر تکرار او استمرار په ټولنیز عادت بدلېږي او بالاخره د کلتور برخه ګرځي. مشرانو ته احترام، اخلاق، انګیرنې، درې وخته ډوډۍ خوراک همداسې عادتونه دي، چې تکرارېږي عادت شي او دعادت تکرار یې دکلتور برخه شي. زموږ په ولس کې وژنه،

ځورونه او بې رحمي تکرار شوي، استمرار يې درلودلی، خدای (ج) دې هغه ورځ نه راولي چې په عادت بدله شي هغه هم په ټولنيز عادت او خدای(ج) دې نه کوي چې د کلتور برخه شي او دا په يوه عام عمل بدل شي، چې هر څوک دې هر څوک وژني، وژنه او قتل (دغه تر ټولو ستر جنايت) دې په يوه عادي کار بلکې د وياړ او افتخار وړ عمل باندې بدل شي، بيا به نو موږ څه کوو؟

موږ ولې تردې ځايه را ورسېدو؟

يو علت خو دادی، چې زموږ يې تاريخ ناسم ليکلی. زموږ د تاريخ پاڼې چې راواړوې له کتابه وينې راشي، سرونه ورغړي او ښارونه اور واخلي، تاسې باوراياست چې دا خو د ټولو بشري ټولنو په تاريخونو کې شته، خو زه وايم چې زموږ ورسره توپير دادی چې موږ په دې ټولو وژنو وياړو او نور ولسونه يې غندي. زموږ ټول اتلان د وژنو، ورانولو او سوزولو اتلان دي، له کلاسيکو تر اوسمهاليو څېرو پورې، هغه کسان چې وژل، ورانول او تالان کوي زموږ اتل دی او ډېر ځله همدا اتل زموږ سياسي رهبري هم کوي.

نو له تاريخي پلوه نسل په نسل همداسې روزل شوي يو، چې وژونکی يعنې ( ايډيال) شخصيت.

زموږ ماشومان د وژنو له خبرونو سره رالويږي او فکر کوي چې د هستۍ مفهوم وژل يا وژل کېدل دي. تاسو به وراياست چې په تاريخ کې خو ډېرو قهرمانانو له هېواد او ملي ګټو څخه دفاع کړې ده او د يرغلګرو په وړاندې جنګيدلي دي، دا خو د هغوی حق دی چې وستايل شي. ستاسو دا خبره بيخي سمه ده، خو زما او ستاسو دا بحث موږ اصلي خبرې ته ور نږدې کوي: له يرغلګرو سره دجنګېدونکو اتلانو، د هېواد لپاره د خپلواکۍ ګټونکو اتلانو ياد او لمانځل پر موږ فرض دي ، خو دا زموږ په تاريخ کې هومره نشته لکه د هغو تقلبی او جوړو شويو تش په نامه اتلانو چې خپل هېوادوال يې وژلي او په اصطلاح د کور دننه زمريان وو. موږ په خپل تاريخ کې په هغو ارزښتونو نه يو غږيدلي چې ريښتني اتلان د هغو لپاره له سرونو تېر شوي وو، وګورئ : هغه ارزښتونه ،چې ريښتينو اتلانو ژوند پرې ورکړ ، موږ يې لاپيژنو هم نه . سرسپارلي اتلان ستايوو خو که څوک رانه وپوښتي چې ارزښت څه و، اوتاسو څومره هغو

ارزښتونو ته وفادار یاست ؟ دې ته یيا ځواب نه لرو. موږ خپلو بچو ته د وطن مینه، د خپلواکۍ ارزښت، د پرمختګ لارې او د ښه سړیتوب تبلیغ نه دی کړی، بلکې یوازې مو د وژنو کیسې ورته کړي او جګړه مار اتلان مو ورته پرسولي دي. زموږ تاریخ سم نه دی کښنل شوی او موږ یې له عاطفي ځخه لرې کړي یو ، موږ خپلو نسلونو ته دا نه دي ویلي چې د رغېدو، پرمختګ ،وطن جوړونې او عواطفو د روزلو اتلان هم شته او هغوی هم باید وستایل شي. زما ماشوم همدې کیسو ته غوږ نیسي او خپل راتلونکی ایډیال ټاکي، دا ایډیال څوک دی؟ یو داسې څوک چې توره یا ټوپک ورسره دی او خپل خلک وژني. کاشکې دا ایډیال داسې وای چې بیل او ماشین، کتاب او کمپیوټر ورسره وای،افغانستان یې جوړولای خو د اړتیا په وخت کې یې د افغانستان ساتنه او دفاع هم کولای او هغه وخت یې د ټوپک خوله یوازې د پردي یرغلګر خواته وای نه د خپل هېوادوال د ټټر خواته.

زما دا کرښې له تاریخ څخه د خپلواکي غوښتونکو وطنپالو اتلانو دحذف په مانا نه دي، بلکې د هغو تقلبي وژونکو د غندنې په مانا دي، چې د افغانانو له تنو څخه سرونه له کورونو څخه ګیلمونه او له جیبونو څخه پیسې تښتولي خو تر هر څه یې ډېر ظلم دا کړی ،چې زموږ د ماشوم، زموږ د ځوان او زاړه له زړه څخه یې عاطفه، رحم او مینه هم غلا کړې ده.

### یوه بله ستونزه :

موږ لا هم نه پوهېږو چې که افغنستان جوړ، پرمختللی ځواکمن او ودان وای نو بیا د جګړې او ملي دفاع اتلانو ته اړتیا نه پیښېده، ځکه پر داسې یوه هېواد څوک د یرغل متره نه لري. یو ځل بیا اصلي قهرمانان دجوړولو، پرمختګ، ځواکمنتیا او ودانۍ قهرمانان دي. اصلي قهرمانان هغه دي چې په پوهه، تدبیر او عاطفي هېواد هومره پیاوړی کوي ،چې بیا د تورې او ټوپک دفاع ته اړتیا پیښه نه شي.

نو راځئ تاریخ له سره ولیکو او دې ته یې جوړ کړو چې را روان نسلونه، ماشومان او زلمیان خپل راتلونکي ایډیالونه د جوړولو، پرمختګ، ډوډۍ ورکولو، پوهې، تعلیم

او پراختیا څېرې وټاکي، نو په دې توګه به هم د جګړې له اتلانو څخه بې نیازه شو او هم به مو د اجتماعي حرکت مسیر مثبتې خواته ورسیخ شي.
درپیمه لاره : په دې بحث کې درپیمه لاره داده چې موږ بنایي د ټول ملت په سطح په زړونو او دماغونو کې عواطف راویښ کړو، او د اسلام د سپیڅلي دین د ارشاداتو، افغاني مثبتو دودونو او بشري عواطفو دحکم له مخې خپل خلک په دې وپوهوو چې : «د یوه مسلمان وژنه د ټول بشر وژنه ده» قتل تر ټولو ستر جنایت دی، او بل انسان ته درد پېښول د لوی خدای (ج) د نارضایتي عامل ګرځي.
زموږ ماشومان باید پوه شي چې د مرګونو، وژنو او ورانولو خبرونه عادي نه، بلکې ډېرټکان ورکوونکي او بد دي او که دوی را لوی شي باید د داسې خبرونو د پېښېدو مخه ونیسي. موږ ټول افغانان سره خپلوان یو او که په بدخشان یا بامیان کې څوک وژل کېږي نو ټول پرې ژاړو او که په کندهار یا شینوارو، خوست او بل ځای کې قتل کېږي موږ ۲۸میلیونه وګړي ټول پرې خپه کېږو، ویر کوو او که ۲۸میلیونه وګړي په خپل وژل شوي هېوادوال باندې ویر وکړي نو ټوله نړی به وارخطا کړي، بیا به څوک دلته بم، راکټ او ټوپک نه رالېږي. موږ به بې عاطفې، بې رحمه او وحشي نه بولي. موږ به د یوه ملت په توګه، د انسانانو د یوې مجموعې په توګه (بلا تشبیه او انساني کرامت ته له احترام سره) لږ تر لږه د اروپایي یا امریکایي کورنیو حیواناتو (پیشوګانو او سپیو) د ژوند د اهمیت په څېر اهمیت ولرو. موږ که په خپل وژل شوي نه ژاړو نړیوال به مو له وژلو ولې لاس اخلي، موږ که خپل هېوادوال په پڅه چاړه حلالوو، نړیوال به مو خود وراوې او واده ته روان خلک بمباروي، ددې هرڅه مسؤل موږ پخپله یو.

زموږ تاریخ، زموږ ادبیات، زموږ فولکلور، زموږ مطبوعات او زموږ اجتماعي قضاوت باید سم مسیر ته وربرابرشي، اصلي قهرمانان باید بهر راووځي او دخپلو هېوادوالو وژونکي باید د تاریخ هدیرو ته ولاړ شي. په سندرو، په شعرونو په کیسو او حماسو کې د وژنو، وژونکو، تورو اوورانولو ستاینې پرېږدې، د ودانوونکو، ډودی راوړونکو او پوهې ته د پراختیا ورکوونکو حق پر ځای کړئ. د تاریخ له حافظې څخه

کله منارونه وران کړئ او پر ځای يې د مينې او عاطفې تاج محلونه آباد کړئ. د ډوډۍ خوړلو او خبرونو وخت بيل کړئ، ماشومان خشن، بې رحمه او د وينو – وژلو په وړاندې بې تفاوته مه روزئ، قلم او کتاب ورکړئ چې افغانستان ودان کړي.

همدا ده درېيمه لاره.

# شتمني، ټولیزه شتمني، ملي شتمني

شتمني (ملکیت) هغه مادي یا معنوي ارزښت دی چې یو شخص، ټولنه یا هېواد یې له حقوقي پلوه د درلودو یا مالکیت حق ولري.

دغه مادي او معنوي ارزښتونه د بشري ژوند د ښېګڼې لپاره په کارېږي، نو ځکه مهم دي. یو شمېر داسې ملکیتونه هم شته، چې په ټول بشریت پورې اړه لري. خو موږ څه غواړو؟

په افغانستان کې موږ یوازې فردي شتمني او ملکیت پېژنو او له دوه ډوله نورو عامه (ټولیزې) او ملي شتمنۍ سره چندان اشنا نه یو.

او که یو هم دومره پروا یې نه ساتو او دا زموږ بد مرغي ده.

فردي ملکیت په یوه شخص یا کورنۍ پورې اړه لري؛ کور، ځمکه، باغ، ګاډی، کتاب، قلم،غویی، پسه او . . . هر څه چې یو شخص یا کورنۍ یې د حقوقي مالکیت لرونکي وي.

عامه شتمني هغه څه دي چې د خلکو یو ټولی (Community) ورڅخه ګټه اخلي؛ پارک، سړک، ونې، ښاري اسانتیاوې، د اوبو نل، بمبه، جومات، پول او نور داسې ارزښتونه چې زموږ (افغانانو) لپاره چندان اهمیت نه لري.

ملي شتمني هغه مادي معنوي ارزښتونه دي چې په یوه هېواد پورې اړه لري او ګټه یې یوه ملت ته رسېږي؛ کانونه، ساراوې، ځنګلونه، رواني یا ولاړې اوبه، نړیوال غړیتوبونه، فضا، تاریخي آثار، سیلاني مراکز او نور چې موږ افغانان یې په وړاندې د جرم کولو تر بریده پړه یو.

د شخصي ملکیت په وړاندې بې تفاوتي او بې احتیاطي غیر نارمل کار دی او خلکو ته یو ډول بې پروایي یا لیونتوب ښکاري.

د عامه ملکیت په وړاندې ناروا کول جرم دی او د مدني قوانینو له مخې ورته زیان رسوونکی باید مجازات شي.

ملي شتمنیو ته زیان رسول ملي خیانت دی او مرتکبین یې له سختو جزاګانو سره مخامخ کېږي.

راځئ دلته یې وګورو چې موږ افغانان دې شتمنیو په وړاندې څه کوو؟

شخصي شتمني ډېره را باندې ګرانه ده او د خدای(ج) فضل دی غیر نارمل یا د لیونتوب برخورد نه ورسره کوو، بلکې کله کله د سوګتیـ او امساک تر بریده پرې ګوریږو یو شمېر افغانانو د میراثي ځمکې یا جایداد لپاره دخپلو خپلوانو تر وژلو پورې حرص پسې اخیستی وي، پټې ناموس ګڼي او په یوه لویشت پوله یې یو پر بل سرونه مات کړي وي. په ښارونو کې خپلې حویلي ګانې او کورونه دومره سینګاروو چې نور پرې د ښېښنو او غمیو ځای نه وي خو د کور د دیواله تر شا د سړک او کوڅې پرمخ پروت کاڼیـ هم نه یوې خواته کوو، ځکه فکر کوو چې دا خو زموږ ملکیت نه دی. په دې کې هم افراط او تفریط! کلي لا یو څه ښه دي، اشر کوو، جومات، ویاله، ژرنده درمندځای، هدیره، لاره، پلونه، ګودرنه او داسې نور عامه ملکیتونه ساتو او پالویې، خو په ډېر زاړه دود او ښه، خو په ښارونو کې د عامه شتمنیو په وړاندې بې تفاوتي د ژوند د چاپېریال لپاره فاجعه رامنځ ته کړې ده.

خو زموږ لویه جفا د ملي شتمنیو په وړاندې ده، موږ په نړیـ کې یوازینی ولس یو چې خپل ښوونځي سوزوو یا یې دسوزولو مخه نه نیسو او د سیاسي اختلافاتو لپاره لویې لارې او پلونه الوزوو، د بامیانو تاریخي آثار ورانوو او خپل موزیمونه تالا کوو، د سالنګ تونل الوزوو او کله کله مو بندونو او بریښنا کوټونو ته هم باروت او بمونه له ګاونډیو څخه را په شا کړي وي، چې ورانې یې کړو.

ولې داسې یو؟

تر ټولو لویه ستونزه داده چې موږ د ټولیزې شتمنیـ او ملي شتمنیو په اهمیت نه یو خبر او په دې حقیقت نه پوهېږو چې له ټولیزې پرمختیا او رفاه پرته وګړنیـ پرمختیا او رفاه ناممکنه ده.

بل لامل دادی ،چې لاهم نه پوهېږو چې د عامه شتمنیـ او ملي شتمنیو ساتنه پالنه، رغونه، پراختیا او پرمختیا یوازې د حکومت دنده او مسؤلیت نه دی، بلکې تر هر څه

وړاندې دا د خلکو او ملت مسؤلیت او مکلفیت دی. ځکه په دیموکراتیکو هېوادونو کې خلک حکومتونه رامنځ ته کوي او پر حکومتي چارو نظارت لري او هدایت ورکوي چې دا وکړه او هغه مه کړه! ملي شتمنۍ وساته، عامه شتمنۍ وپاله او ملي اوبه په ګاونډیو مه پلوره! زموږ ملت او ولس څومره دا کار کړی دی؟!

ښایي هېڅ یا ډېر لږ.

موږ خپل کور ښه پاکوو او جارو کوو یې خو دکور شاته کوڅه مو دومره ناولې، له کثافاتو او فضله موادو ډکه وي چې د هغې له امله مو هره ورځ په پاک کور کې ماشومان ناروغه وي. د عامه شتمنۍ او ملي ملکیتونو په وړاندې زموږ دا بې پروایي، زموږ ګاونډیان او دښمنان هم زړور کړي او په خپلو منځونو کې په خندا وایي :

«عجیب ساده او بې خبره خلک دي، راځه باروت او پیسې ورکړه چې خپل ښوونځي وسوزوي، چې بیا په هر څه پوه نه شي او خدای مه کړه د خپلو شتو په قدر ونه پوهېږي، بیا به نو موږ څه کوو ...»

د حل لاره :

زموږ ګڼ ولسي استازي په ملي شورا کې یوازې په وچ سیاست بوخت دي، د څوکۍ، پیسو او ځاني ګټو خوند تر ملي ګټو هېر کړي دي د ملي شورا استازي باید پر حکومت نظارت وکړي، چې څومره دعامه شتمنیو او ملي شتمنیو ساته او پالنه کوي. په دې توګه موږ په دولتي څواک کې د نظارت مسؤلین ومومو. اجرائیه ځواک د عامه شتمنۍ د پراختیا او د ملي شتمنۍ د بډاینې او ساتنې ستراتیژۍ، پلانونه او علمي میکانېزمونه رامنځ ته کوي او عملي کوي یې، قضائیه ځواک ددغو شتمنیو ورانوونکي څاري او جزا ورکوي.

خو ددې ترڅنګ لوی مسؤلیت د ولس دی. ولس که د عامه شتمنۍ په رامنځ ته کولو کې ونډه ولري نو بیا خامخا یې په ساتنه او پالنه کې هم ونډه اخیستی شي. ددې لپاره په کار ده چې کلیوالي سیستم مدرن شي داشرونو دود وپالل شي او په ښارونو کې ښاري شوراګانې جوړې شي، چې په نوره دنیا کې یې City Hall او Community

Council بولي، دا شوراګاني له ښاروالې ګانو سره ښنګ په ښنګ کار کوي او کار يې د عامه شتمنيو د پراختيا څارنه او ساتنه ده.

## يوه کوچنۍ بيلګه:

هر ښاري چې پخپل کور د لوی مصرف له **۵** څخه تر ۱۰ سلنه د کور پرمخه او کوڅه ولګوي ټول ښار جوړيږي. زما د يوې محاسبې له مخې د ناسم چاپيريال له امله څومره ناروغۍ چې پيښيږي که د ډاکتر اودوا پيسې يې په جوړولو ولګول شي نه يوازې دا چې له رنځ او عذابه به يې خلاص شو بلکې راتلونکيو نسلونو ته به يو سبق هم شي.

ما يو ځل په آذربايجان کې د باکو ښار له بالاحصار يا زړې کلا څخه ليدنه کوله دا په حقيقت کې پخواني باکو و، چې سلګونه کاله پخوا خلکو تيرې ورته راوړې وې او ټولې کوڅې يې په تيږو فرش کړې وې، دا کار خلکو کړی و نه حکومتونو ما ويل، چې دا به د شرقي ټولنې ځانګړنه وي، د باکو ددغو سړکونو عکسونه مې واخيستل چې راسره وي موده وروسته مې همداسې سړکونه په اروپا کې هم وليدل او ايله پوه شوم چې ويښو ولسونو هر ځای خپله عامه شتمني د ځانګړې شتمنۍ په څېر مهمه ګڼلې ده، ما له ځانه سره دا هم ويل چې افغانستان خو تر هر څه پريمانه غرونه او تيږې لري، نو دا زموږ کوڅې او سړکونه ولې داسې له پوټيو او کثافاتو څخه ډکې دي، هغه د يوه راديويي طنز خبره چې « کابل له دوه نښو پيژندل کيږي چې لمر وي دوړې ترې پورته کيږي، چې باران شي نو خړې ختې باديږي.» موږ ولې بې لګښته تيږې رانه وړې او خپلې کوڅې او سړکونه مو پرې فرش نه کړل؟ يا مو يو ښين نيالګی هم ونه کاره؟ تاسو به وايياست چې زه ولې د سړکونو او کوڅو مسئله دومره شاربم، دا يوه بيلګه ده.

موږ د هرې ټوليزې اوملي شتمنۍ په وړاندې بې خبره، بې تفاوته اوملامت يو، په ښارونو کې پارک نه لرو، په کليو کې کلينک او ښوونځي، په ښار کې مو ناولتيا دومره ده چې تنفس په کې نه کيږي او په کليو کې مو د ښښلو پاکې اوبه نشته.

موږ ښايي د يوه ولس او ملت په توګه د دې وطن هر څه خپل وګڼو، اوږدو جګړو او مهاجرتونو موږ له دې احساس څخه محروم کړي يو ،چې افغانستان يا خپل کور وګڼو يا خپل ګور، دا وطن د ترخو پېښو له لاسه موږ ته ډېر خپل نه ښکاري ډېر ځله مو لا هم په مهاجرت کې ځانته يوه کوډله ساتلې، چې که بده ورځ راغله ورمنډه کړو خو نه! همدغه احساس او فکر بايد ووژنو او فکر وکړو چې نور نو له هېواده وتلو ته اړتيا نه شته، ټوله هڅه د همدې خاورې لپاره او تر هر څه وړاندې افغانستان!

موږ بايد پخپله ټولې هغه اسانتياوې چې په ګاونډيو هېوادونو کې شته او موږ لا هم ورکاږي، همدلته يې رامنځ ته کړو، موږ بايد د وګړنۍ هوساينې لپاره د شخصي ملکيت تر څنګ عامه او ملي ملکيتونه هم ولرو، ويې پالو، ساتنه يې وکړو او ويې رغوو، ييا به نو د بريښنا، ګاز، ترانسپورت، سړک، روغتون او نورو اسانتياوو لپاره پېښور، اسلام آباد يا مشهد و تهران ته منډې نه وهو، تر هر څه وړاندې په خپلو ذهنيتونو او فکرونو کې بدلون راوستل د حل لويه لاره ده، اصلاح بايد له خپل ځانه پيل شي ،ويښ ملتونه خپلې شتمنۍ پخپله ساتي.

ملي شورا، ښاروالۍ، ښاري ادارې، د اطلاعاتو او کلتور وزارت، شوراګانې، مدني ټولنې، مطبوعات او منلي شخصيتونه بايد :

۱.عامه او ملي شتمنۍ تعريف کړي.

۲.د اهميت د تبليغ لپاره يې هلې ځلې وکړي.

۳.د رغوونې،ايجاد، ساتنې، پياوړتيا او پالنې لپاره يې بايد ليکلي قوانين، لوايح، مقررې، ميکانيزمونه او اصول وليکل شي، معرفي او تبليغ شي.

۴. حکومت ښايي خپله ونډه معلومه، خپل مسؤليتونه معرفي او د ملت او خلکو مکلفيتونه هم ور معرفي کړي.

۵.د ښوونځيو په نصاب کې دې د ملي شتمنيو ارزښت، عامه ملکيت ته د پام ساتل او وطنپالنې روحيه شامله شي، چې را روان نسلونه خو لږ تر لږه دغو ارزښتونو ته متوجه شي.

۶– د اشر په څير د ګډو کارونو کلتوري ارزښت ښايي پياوړی شي.

۷.دملي شتمنيو او عامه مليكتونو د معرفي لپاره بايد پراخ عامه پوهاوی او تبليغاتی كار وشي او خلك وپوهول شي چې د افغانستان بېړۍ كې خدای مه كړه ډوبه شوه موږ به هم نه يو . دلته ماته يوه ټوكه را په ياد شوه، چې په همدې به دا برخه پای ته ورسوم :
وايي كوم ساده سړی په الوتكه كې سپور و ، يو وخت يې ناڅاپه څنګ ته ناست سړي په وارخطايي وويل : ياالله خير،
ساده ورڅخه وپوښتل : خيريت دی؟ وروره څه خبره ده.
وارخطا سړی وويل : هلته ګوره پيلوټ وايي چې د الوتكې يو ماشين له كاره لويدلی دی.
ساده بيغمه تكيه وكړه چې ګوري بل مسافر ژاړي، نو ورڅخه يې وپوښتل : دا په تا څه چل شوی دی چې ژاړې؟
مسافر په ژاړ كې ورته وويل : پيلوټ وايي چې بل ماشين هم له كاره ولويد ، دا الوتكه سقوط كوي.
ساده وخندل او ځواب يې وركړ : بلا مې ورپسې چې سقوط كوي، دا الوتكه خو څه زما نه ده!
خدای مه كړه موږ ټول همداسې ساده ګان يو ! افغانستان سقوط كوي اوموږ ورته خاندو .
فاعتبروا يا اولی الابصار

# ملي ګټې

په یوه مجلس کې یوه ښاغلي « ملي ګټې» یادې کړې، بل ښاغلي ورته وویل : وروره هغه څه چې ته ملي ګټې بولې زما لپاره ارزښت نه لري، زه نه پوهېږم ستا له نظره ملي ګټې څه تعریف لري؟ دا خبره نه وه ، سم غم و ؛ د تیوریکو بحثونو اوږده لړۍ پیل شوه او ډېر کتابونه پاڼې پاڼې شول خو دواړه لوري نه سره قانع کیدل.
ښایي د ملي ګټو پېژندنه او داسې تشخیص چې ټولو خلکو ته د منلو وړ وي ستونزمن کار وي، خو که په لوی لاس د ګوتو غوټه غاښ ته یو نه سو او هڅه وکړو چې د داسې مفاهیمو په لومړنۍ مانا وپوهېږو نو ملي ګټې داسې تعریفولای شو :
« هغه ارزښتونه چې د یوه هېواد له موجودیت ، پرمختګ او معنوي او مادي هویت سره مخامخ اړیکه لري ملي ګټې دي. مخامخ اړیکه ځکه چې د داسې ارزښتونو زیان ملي ګټو ته تاوان او پیاوړتیا یې د ملي ګټو د ځواکمنتیا لامل ګرځي».
د زمکنۍ بشپړتیا ساتل، دپردیو له جاسوسۍ څخه ځان ساتل او په نړیوالو معاهدو کې خپل هېواد ته ګټه رسول د ملي ګټو د پیاوړتیا لپاره د هڅو یو دوه بېلګې دي. خو دا همدومره نه دي، په ټولو سیاسي معاملو، فرهنګي هڅو او د عامه ذهنیت په لارښوونه او لیدلوري کې ملي ګټې مهمې دي، بلکې اصلي چورلیز ( محور) یې باید همدا وي.
تاسو به ډېر ځله اوریدلي وي چې « ښایي خپلې شخصي ګټې تر ملي هغو لوړې ونه ګڼو !» دا څه مانا، که موږ په یوه دولتي دفتر کې کار کوو او خدای مه کړه له دولتي امکاناتو څخه ناوړه ګټه اخلو، غلا کوو، چې خپله شتمني ډېره کړو ،خو زموږ دا کار خلکو ته زیان اړوي نو په حقیقت کې له ملي ګټو سره جفا کوو، یا په ټاکنو او سیاسي سیالیو کې د ځان یا خپلې ډلې په ګټه خلکو ته دروغ وایو او خپلې وعدې نه ترسره کوو نو ملي ګټې مو تر پښو لاندې کړي دي، له بهرنیو هېوادونو سره په خپل سر داسې پټې یا ښکاره اړیکې لرل ،چې د هغو له امله پردیو ته ګټه او وطن ته تاوان وي، نو ملي ګټې

مو زیانمنې کړې دي، داسې اقدام کوو، چې ملي یووالي ته زیان رسوي، تعصب رامنځ ته کوي او د ملي نفاق لامل ګرځي نو په حقیقت کې مو د ملي ګټو پر ضد ګام ایښی دی، دا څو بیلګې د ملي ګټو د پېژندنې په اړه کافي نه دي مګر لږ تر لږه یو عمومي تصویر را کولای شي. قدرمن لوستونکي به وایي، چې په دومره ساده مسالو او بیلګو خو موږ هم پوهېږو ؟ بالکل همداسې ده مګر ستونزه د ملي ګټو په پېژندنه کې نه ده، بلکې ستونزه داده چې ولې موږ دخپلو ملي ګټو په وړاندې دومره بې تفاوته یو ، او ولې راته همیشه خپلې ګټې تر ملي هغو مهمې دي، آن تردې چې د شخصي ګټو لپاره د ملي ګټو تر پښو لاندې کول راته یو عادت او حتی مشروع کار بریښي؟ هغه وخت چې د یوې سیاسي ایډیالوژۍ لپاره خپل بېګناه هېوادوال وژنو ، هغه وخت چې د خپلو هېوادوالو کورونه لوټوو، هغه وخت چې زندانونه او پولیګونونه د پردیو په حکم ډکوو، هغه وخت چې د خپلو موزیمونو آثار پلورو، هغه وخت چې د ګاونډیو یا پردیو له استخبارتي، ایډیالوژیکو او سیاسي کړیو سره خپل نومونه ثبتوو او نه شرمېږو، هغه وخت چې خلکو ته وعدې ورکوو او نه یې عملي کوو، هغه وخت چې د خلکو زامن جګړې ته لېږو او خپل نازولي په اروپا، روسیه، امریکا او نورو هېوادونو کې په معتبرو پوهنتونونو کې شاملوو، هغه وخت چې د پردیو په پیسو داسې مرکزونه جوړ وو، چې د ملي نفاق ځالې دي او هغه وخت چې لوړې څوکۍ ته رسیدل یوازې له نامشروع لارې د ځان مړولو لپاره غواړو ،نو له ملي ګټو سره خیانت کوو. او دا هغه څه دي چې له سروشنو انقلابونو څخه وروسته مو ښه پریمانه لیدلي، اوریدلي او کړي دي، نو له دې څخه نتیجه اخلو چې ډېر ځله ملي ګټو ته وفاداره چارواکي او مشران نه لرو او هغه افغانان چې ملي ګټو ته وفاداره دي واک و ځواک ته نه دي رسیدلي. یوه بده رابطه، یو ناسم تناسب.

## ولې داسې پېښیږي؟

په څه باندې درې لسیزې جګړې کې ، چې تر ټولو لویه مېړانه دسر خوندي کول و او له ځانه سره ددومره قوت لایموت درلودل ،چې ژوند پرې وشي، موږ له نارمل حالته راووتو . په هېواد دننه د په اصطلاح سوسیالیستي مرستو بوجۍ راخلاصه وه او هاخواهم په اصطلاح امپریالیستي ، په یوه کې هم ملي ارزښت نه و، ځکه یې په خوړلو او ځانته غلي کولو عادت شو.په پردیو مملکتونو کې د بې وطنۍ درد دومره وځورولو چې هېڅ مو هم خپل نه ګڼل او د(( ملي ګټو )) له مفهومه مو دوه درې نسله هم دلته او هم هلته بې خبره رالوی شوو ، په هېواد دننه مو شورویان لیدل او فکر مو کاوه چې یو اشغال شوی هېواد به نو څه وي او ملي ګټې به یې څه؟ کډوالو مو خپل هېواد نه درلوده نو د ملي ګټو په هکله به یې څنګه فکر کړی وای؟ له بلې خوا فکری چاپېریال داسې تحمیل شوی و چې چا د (ملي ) کلمه په خوله نه شوه اخیستی ځکه یا مرتجع او ضد انقلاب ګڼل کېده یا کافر او کمونست .... لنډه یې دا چې د ملي ګټو په وړاندې دبې تفاوتۍ روحیه په دېرش کلن ناورین کې ریښې لري ،چې زموږ ځورېدلی او جنګ ځپلی ملت یې د بدو او دوامداره اغېزو قرباني دی.

## څه وکړو :

د ویښتیا او روښانتیا په پړاوونو کې باید ملي ګټې معرفي او تبلیغ شي، موږ یوې دورې ایډیال حکومت ته اړتیا لرو چې د ایډیالو مشرانو له خوا رهبري شي او د کار محور یې د ملي ګټو تضمین وي، نه دا چې د خپل اقتدار دساتلو لپاره وار وار ملي ګټې په لوی لاس تر پښو لاندې کړي. همدا راز دداسې ګوندونو جوړول اړین دي ، چې دسیاسي رقابت بنسټ یې د ملي ګټو خوندي کول او پالل وي او ولس پرې د همدې معیار له مخې اعتبار وکړای شي.

دوی باید عملاً خلکو ته وروښیي چې ملي ګټې آن د دوی تر ژونده هم مهمې دي.

داسې یو کاري ټیم چې رشوتونه او ناروا ګټې له هغو تنظیمونو سره نیمې نه کړي، چې دوی یې واک ته رسولي دي، بلکې کله کله د خپل روا دولتي معاش یوه برخه هم دیوې وږې افغان کورنۍ د نس مړولو لپاره ورکړي.

موږ ملي ګټو ته صادق نه یو ، ځکه نو لا تر اوسه تاسو بې کوره، بې موټره او په کرایي کور کې اوسیدونکی لوړپوړی چارواکی نه شيء موندلای، لږ تر لږه یوه دوره دا باید تمثیل کړو چې خلک یې په اهمیت پوه شي.

پوهنتونونه، ګوندونه، مدني ټولنې، د نصاب لیکوال، میډیا، فرهنګي ټولنې اغیزمن شخصیتونه، پوهان، سیاستمداران او کارپوهان کولای شي :

۱.ملي ګټې له بیلګو سره یو ځای تعریف او تبلیغ کړي.

۲.د ملي ګټو د ساتنې لپاره مشخص میکانیزمونه او اصول رامنځ ته کړي.

۳.د ملي ګټو تر پښو لاندې کوونکي مجازات او ټول خلک پرې وپوهول شي، چې د ملي ګټو په وړاندې بې تفاوتي څه انجام لري؟ دا په دې مانا نه دی چې د سلو افغانیو رشوت اخیستونکی مامور ونیسو او په پردیو استخباراتو پلورل شوی زورور حمایه کړو.

د افغانستان لپاره د داسې سیاسي ګوندونو ایجاد چې علمي – عملي کړنلاره او تګلاره یې د ملي ګټو پر بنسټ جوړه شوې وي ډېره لویه اړتیا ده ،خو تردې وړاندې او تر ټولو اساسي لاره داده چې خپلو ماشومانو ته په کور، وړکتون، ښوونځي او روزنځي کې ملي ګټې وروپېژنو او د افغانستان مینه له خپلو شیدو او خولو سره د هغوی له زړه، وینې ،ذهن او ځواک سره واخښلو، چې بیا مو را روان نسلونه همدا علم او عمل ولري چې :

ایمان

تقوا

او تربل هر څه وړاندې ودان افغانستان!

# ملي بې باوري

د انقلابونو یو لوی ظلم دا و ،چې په افغانستان کې یې ملي بې باوري رامنځ ته کړه.
ملي بې باوري څه ده؟
هغه مهال چې چې د ټولنیزو کړکیچونو او ناورینونو له امله د ټولنې وګړي یو پر بل او پر هغو بنسټونو بې باوره شی، چې په عادي شرایطو کې د هغوی ترمنځ یو پر بل باور د ټولنې د جوړښت بوده تنسته جوړوي.
خو زموږ بې باوري ګڼ ډولونه لري :
۱.یو پر بل بې باوري
۲.پر حکومتونو او دولتي بنسټونو بې باوري
۳.پر اصطلاحاتو، ارمانونو، ایډیولوژیو او مبارزو بې باوري
۴.پر ځان بې باوري
او بلاخره ناهیلۍ (نهیلیزم) ته مخه کول چې دا په هستۍ، ژوند او چاپېریال باندې بې باوري اوبدبیني رامنځ ته کوي.
راځئ د پورته یادو شویو بې باوریو په اړه یو څه تم شو، بیا یې پر عواملو وغږېږو او په پایله کې به یې وتونلارې او حلچارې وڅېړو.
۱- یو پر بل بې باوري
د قانون کمزورې واکمني، د ټولنیزو اخلاقو په وړاندې بې پروایي، د عقیدوي ارزښتونو تتېدل او د شدید فقر له امله د چل، دوکې او درغلۍ زیاتېدل افراد یو پر بل بې باوره کوي. له ټوپک سره ملګرتیا انسان خشن کوي او خشونت د عاطفې له منځه وړونکی دی، خشونت او بې عاطفې توب د انسانانو باور وژني. او موږ په تېرو دیرشو کلونو کې دغه ټولې تشې تجربه کړې ځکه خو یو پر بل بې باوره یو. د ټولنې د غړیو

ترمنځ يو پر بل بې باوري او نه اعتماد د ګڼو ټولنيزو پراختيايي او پرمختيايي بهيرونو خنډ ګرځي.
موږ ولې يو عادي شی هم چې اخلو په لسو دوکانونو کې يې بيه کوو؟ ولې کله چې خټګر کور ته بيايو سل ځلې قسمونه ورکوو چې سمنټ سم وکاروي او کور راته خراب نه کړي، او ولې کله چې يوه وزارت ته په ډېر يو کوچني کار پسې ځو هم څو کسه دوستانو ته مراجعه کوو ،چې که څوک هلته پېژني نو يو سفارش دې راته وکړي؟ او ولې کله چې له چا سره د سياست يا دولت په اړه خبرې کوو ويرېږو چې د استخباراتو يا بهرنيو ايجنسيو اجنټ او مخبر نه وي؟
دا ځکه چې داسې تېر ايستنې او تېروتنې مو ليدلې يا ډېرې اوريدلې دي.
زموږ د ملت او هېواد سياسي دښمنانو او د سيمې استخباراتو له پخوا څخه آن د انقلابونو له پيل څخه غوښتل چې خلک يو پر بل بې اعتماده او بې باوره کړي، ځکه په داسې حالت کې دوی ښه نفوذ کولای شو ،چې د افغانستان په وړاندې خپل زهر وکاروي.
۲.پر حکومتونو او دولتي بنسټونو بې باوري
د ټول کړکېچ په بهیر کې موږ ملي حکومتونه او د خلکو د مستقيمې ارادې پر بنسټ رامنځ ته شوي حکومتونه لږ درلودل، پر حکومتي څوکيو داسې کسانو خيټې اچولې وې چې د هغه منصب مسلکي توان يې نه درلوده، له جبهې راغلي و او پر څوکۍ پروت و، ځکه يې د خپلې مسلکي ناپوهۍ او بې سوادۍ لپاره خلکو ته دروغ ويل، او دروغ د بې باورۍ لومړی لامل دی.
بيا هم د قانون کمزورې واکمنۍ فساد او ناوړه ګټې اخيستنې ته لاره هواروله، دې لوبې اداري او کاري تقوا ووژله ،د کاري تقوا نشتوالي ملت په حکومت بې باوره کړ.
ډېر ځله تر انقلابونو وروسته حکومتونه د پرديو تر اغيز لاندې يا يې مخامخ ګوډاګيان وو، چې خلک پر داسې حکومتونو باور نه کوي، تردې بريده چې دغو حکومتونو دا کفايت هم نه درلوده چې بهرنيو ته خپله غاړه ايښوونه له ملي ګټو سره موازي او برابره وښيي او خلکو ته د خپل مجبوريت په اړه قناعت ورکړي، دا کار سياسي شهامت

غواړي، خو ډېر ځله زموږ په واکمنیو کې همدا شهامت هم نه و. زموږ له حکومتونو څخه دروغ هم ویل کېدل او کله کله به دا دروغ ښکرور شول چې خلکو به ورپورې خندل.

بهرنیو دښمنانو به هم د حکومتونو په اړه ډول ډول آوازې او شایعې خورولې، دوی به دولتي چارواکي په بېلابېلو استخباراتي کړیو پورې اړوند ګڼل او هغوی به یې د ګوډاګي او جاسوس په نومونو یادول، په دې کې به پاک او ملي شخصیتونه او بې ګناه څېرې هم بدنامه شوې او د خلکو به له ټولو دولتي چارواکو زړه بد شو.

بله مسئله داوه چې د انقلابونو په بهیر کې ټولو حکومتونو په کوردننه دښمنان درلودل دا هسې سیاسي اپوزیشن نه وو، چې د اصلاحي نیوکو او انتقادونو له لارې دې خپل رقابت ترسره کړي، دا ډېر ځله وسله وال دښمنان وو، چې د حکومتونو پر ضد یې له هېڅ ډول پروپاګند او تخریب څخه ډډه نه کوله، دحکومتونو کمزوری دریځ او د دښمنانو زورور تخریب خلک پر حکومتونو بې باوره کول، او دا تکرار د ټولنیز عادت لامل شو، تردې بریده، چې خلک هومره بې باوره او بدبینه شول چې خدای خبر پر ښو، سالمو او ملي حکومتونو به هم ژر باور وکړي، حکومتونو به چې د خلکو بې باوري لیده پر ځان به وویریدل او د ځان ساتلو لپاره به یې داسې ناسم تدابیر ونیول چې د ځان او خلکو ترمنځ به یې فاصله نوره هم په لوی لاس ډېره کړه باډیګاردان به ډېر شول، چکونه او سیمټي دیوالونه به لا لوړ شول او په پایله کې به حکومتونه د دیوالونو ترمنځ داسې حبس شول چې خلکو به دا هېره کړه چې دوی هم حکومتونه لري که نه؟

ددوه اړخیزې بې باورۍ یو لامل دا و، چې حکومتونه د خلکو منځ ته نه ورتلل او بیل پراته ټاپو ګان وو، لکه د شیشکو او اراوو تشې کلاوې چې هم له ځانه ویریدل او هم له خلکو.

دې ټولو پېښو به پر حکومتونو بې باوري دومره ډېره کړه، چې خلکو به د حکومت د بدیل په لټه کې شول، یا به یې خپلو دودیزو موسسو لکه جرګو مرکو ته مخه کړه یا به د وسلوالو دښمنانو لمنې ته وروغورځېدل، او دا هغه څه و، چې موږ په تېرو درېیو لسیزو کې څو ځله تجربه کړل.

۳.پر اصطلاحاتو، ارمانونو، ایدیولوژیو او مبارزو بې باوري

هر ملي سمون او هر ټولنیز بدلون د یوې مودې هلو ځلو او مبارزو په نتیجه کې رامنځ ته کېږي دا مبارزې به یو څوک کوي او د څوک به یو خوځښت، جوړښت او بنسټ لري حزب، ایډیالي وضعیت، سیاسي ارمان او د بدلون لپاره عامه کړنلاره او تګلاره هغه څه دي، چې د هر اوښتون او سمون لپاره باید خلکو ته ارائیه شي. د ډیموکراسۍ له لسیزې را په دې خوا د افغانستان خلکو داسې مسایل اوریدل، خو توده لوبه یې له پنځوسمو کلونو را په دې خوا کله چې پاچاهي په بل مخ واوښته، را پیل شوه. د ګوندونو، تنظیمونو،حرکتونو او جنبشوونو جارچیانو او ډنډورچیانو خلک خپلو خوځښتونو ته را بلل او ډېر ځله له بهر څخه راغلي اصطلاحات یې پر هغوی ورشیندل، هغه کړنلارې او تګلارې، چې پخپله هم ډېر نه پرې پوهېدل او کوم نیمه باسواده ملګري یې له بهرنیو ژبو څخه راژباړلې وې د خلکو مخ ته ایښودلې خو وعدې ډېرې ګرمې وې، کور، ډوډۍ، کالې، د اسلامي حکومت ټینګښت خلکو ته دحقونو ورکول، برابري، آزادي، دیموکراسي، شرعي نظام او . . .

له دې کریغو او وعدو سره سم لومړنۍ وینې هم وبهیدې او دا لوبه دومره توده شوه چې ټول ارمانونه، ایډیالونه، ایزمونه، ګوندونه، کړنلارې او تګلارې تر وینو لاندې ډوبې شوې، او د ګڼو ډنډورچیانو او جارچیانو لاسونه تر اوږو او خولې یې تر غوږو پورې په وینو سرې شوې. د ایزمونو او حزبونو، تنظیمونو او ایډیالونو لوبو سره سم افغانانو مرګ، وراني، دربدري او بې عزتي ولیده او همدا کافي وه ،چې خلک دې پردې اصطلاحاتو او مفکورو بې اعتماده شي.تاریخ او د خلکو عامه ذهنیت دې ته نه ګورې چې دې سیاسي ډنډورچیانو څه نیت درلوده، بلکې قضاوت پردې کوي، چې دوی څه وکړل؟!

۴.پر ځان بې باوري

د ټولنیزې بې باورۍ تداوم په فرد کې ډول ډول بې اعتمادۍ رامنځ ته کوي، دا بې اعتمادۍ د حالت له بدلون څخه را پیل کېږي. ځوان نسل فکر کوی ،چې له بدمرغۍ څخه د راوتلو لپاره کومه ممکنه لاره نشته نو ښایي ځان آرام ونیسي او یوازې د سربچ

ساتلو لپاره فکر وکړي. څوک چې هڅه کوي بل ملګرى ومومي او دخلکو د ژغورلو مسئله وروسره مطرح کړي ناڅاپه يې وار له مخه د ځان ناکامۍ ته پام اوړي :

– څوک به پر ما باور وکړي؟

– او زه څنګه بايد پر چا باور وکړم؟

– څوک به پر مونږ باور وکړي؟

– او آيا د وطن ازلي او ابدي بدمرغه نه دى؟ نو ولې خوشې خواري وکړو؟

– آيا که زه څه وکړم د ګاونډيو استخبارات به مې ژوندى پرېږدي؟

– ايا دا اختاپوتي او مافيايي حکومتونه به زما خبرې ته غوږ کېږدي؟

او داسې نورې سلګونه پوښتنې د هغه چا په ذهن کې وار له مخه را شنې کېږي چې غواړي د افغانستان او افغانانو لپاره کوم څه وکړى، راشنې شوې پوښتنې شاخ او پنجه کوي او بلاخره يې له ارادې او ذهن څخه را تاوېږي، له رواني پلوه پر شرايطو او هېواد ټوليزه بې اعتمادي موږ د ځان اسيرانوي او په ځان کې مو وژني يا مو د شديدې وګړوالۍ (فرديت) Individualism په لوري ورټېل وهي.

دا ډول پر ځان بې باوري ګڼ هغه استعدادونه او فکرونه وژني چې يو وګړى يې د ټولنې او هېواد په اړه درلودلاى شي.

ملي بې باوري له کومه راغله؟

د جګړې ارواپوهنه – ټولنپوهنه دا د اوږدې مودې جګړې يو له بدو ميراثونو څخه ګڼې په تېره بيا د افغاني جګړې، چې له بده مرغه له پيله تر پايه د استخباراتو جګړه وه او ډېر ځله يې لوبڅاري او لوبچاري پردي خو لوبغاړي يې افغانان وو، ځکه خو افغانان وژل کېدل ددې لپاره چې نور بچ پاتې شي.

په ديرش کلنه جګړه کې ګاونډيو او زبرځواکونو د خپلو ګټو د خوندي کولو لپاره افغانان جنګول او ددې لپاره چې دغه سولوونکې جګړه اوږده شي له ګڼو استخباراتي او تورو سياسي لوبو او چلونو څخه يې کار اخيسته . يوه لويه لوبه او دسيسه يې د افغانستان د خلکو ترمنځ د بې باورۍ خپرول او عامول و، د انګريزى ښکېلاک دا شعار خو زوړ دى چې « تفرقه واچوه، حکومت وکړه!» ددې تفرقې لپاره بايد د بې

باورۍ فضا پر ټول ملت خوره شوې وای. د استخباراتو په شیطاني علم کې ګڼ داسې میتودونه شته چې څنګه خلک په بېلا بېلو ډلو وویشئ او بیا یې سره وجنګوئ، داسې چلونه په بې وزله، وروسته پاتې او د ټیټ سیاسي شعور والا ټولنو کې ډېر کاري او اغیزمن وي، څوک کافر، څوک افراطي څوک دا او څوک هغه، دا په KGB پورې وتړه هغه بل په CIA پورې او که نه د ګاونډیو استخبارات خو نغداو اسانه دي. نن د هغې ښځې کیسه عامه کړه چې خره شوې ده، سبا ته د لشمک آوازه ګډه کړه، بله ورځ په بادرنګو کې زهر پیچکاري کړه ، نن په معصومو نجونو تیزاب وشینده، سبا ته د سوداګرو بچي وتښتوه، بله ورځ د ماشومانو بډوډي خرڅ کړه ... او په دې او هغه افغاني څېرې پسې نغارې وډنګوه. بس داسې لوبې ډېرې وشوې اوخلک یې د هر چا او هر څه په وړاندې بې اعتباره، بې اعتماده او بې باوره کړل. د استخباراتو او سیاسي لوبو تر څنګ جګړې، شدیدې لوږې اومعنوي فقر د ټولنې اخلاقي معیارونه، عقاید او معنویت هم کلک وځپل. ډېر ځله یوشمېر کسانو دیوې مړۍ ډوډۍ لپاره الهي ډار، د وجدان حکم او اخلاق تر پښو لاندې کول کله کله خلکو له ځان سره فکر کاوه چې : « ګوره پلاني د اسلام او ایمان چیغې ډېرې وهې خو انسانان ډېر آسانه وژني، دا ولې؟» دځینې مذهبي مشرانو اعمالو خلکو ته ګڼې عقیدوي پوښتنې پیدا کولې. هغه چې په وچه ګیډه وسله پورته کړې وه اوس په دوبۍ او لندن کې بلډنګونه لري او د نړۍ بانکونه یې له پیسو چوي، نو ګواکې غلا، جنایت، حرام خوړل او ظلم کول روا دی؟؟ که نه دي روا ،نو ولې یې دایا هغه سیاسي او مذهبي مشر کوي.

هغه چې د سیاسي تقوا، او وطندوستۍ نارې وهي هغه هم غلا کوي نو دا څنګه ده؟ بس دې مسایلو دخلکو باورونه وځپل اوچې تردې وروسته ورته د معنویاتو او ارزښتونو، څېرو، مبارزو، ارمانونو او ایډیالونو نوم واخلې، یو ترخه موسکا وکړي او په بې صبرۍ سره درنه وغواړي چې خپل کار ته یې پرېږدې.

**حل لارې :**

د ویښتیا او روښانتیا پړاوونه په کلکه د راغلې بې باورۍ له منځه وړو ته اړتیا لري.

تر هر څه وړاندې بنايي داسې مسلکي ارګانونه رامنځ ته شي چې د بې باورۍ د رامنځ ته کولو لپاره د دښمنو دسيسې وپېژني او د شنډولو ميکانيزمونه يې رامنځ ته کړای شي.
حکومت بايد د خلکو منځ ته ورننوځي او ځان دا غزيو له جېلونو څخه خلاص کړي.
مطبوعات او فرهنګي مرکزونه کولای شي په دې برخه کې داسې تبليغاتي پروګرامونه جوړ کړي چې د افغانانو ترمنځ باور او اتکا ډېره کړي.
حکومت او نور دولتي موسسات بنايي څو کاله پرله پسې د خپلو چارو داسې تبليغاتي کمپاينونه عملي کړي چې ريښتنې وي او کړای شي پر حکومت د خلکو اعتماد بيا ورغوي. دا کمپاينونه ،نه بنايي دروغجن او تېر ايستونکي اوسي.
ګوندونه او د مدني ټولنې غړې موسسې کولای شي د ټولنيزې اصلاح داسې پروګرامونه ولري چې بې باورۍ را کمې کړي.
با اعتباره او محبوب ملي شخصيتونه، او په دوديز ډول د جرګو – مرکو قومي مشران هم هغه کسان دي چې کولای شي دا چاره چټکه کړي.
خو تر ټولو اساسي او غوره ځای يې ښوونځي او پوهنځي دي.
د پوهنې نصاب بايد ملی باور وروزي او راتلونکی نسل د بې باورۍ له مهلکې ټولنيزې ناروغۍ څخه وژغوري.
حکومتونه بنايي د بې باورۍ له ټولو مواردو څخه ښننه وغواړي او د سياسي عذر غوښتنې شهامت ولري، دا شهامت او عادت د باور او سياسي صداقت فرهنګ پياوړی کوي.
ديني علما بنايي د اسلام په سپيڅلي دين کې د ټولنيزې اصلاح داوامرو دعلمي تفسير په دودولو سره خلک هغه اعتقادي بنسټونو ته متوجه کړي، چې تقوا او يو پر بل باور زياتولای شي. ځکه له اخلاقي، عقيدوي او قانوني اړخه د هر هغه عمل ممنوعيت لازم دی چې ملي بې باوري رامنځ ته کولای شي.
د بې باورۍ د عواملو د کمزوري کولو لپاره د عقيدوي بنسټونو اخلاقو او قانون پياوړي کول پکار دي. ځکه د عقيدې، اخلاقو او قانون په چوکاټ کې انسانان خپل

ټولنيز او فردي اعمال کنټرولوي، او د شخصيت حق او مسؤليت د ځان، بل او ټولنې په وړاندې تنظيموي، که دغه اړيکې منظمې او معقولې وي، باور او اعتماد رامنځ ته کيږي.

هوښيار حکومتونه د ټولنپوهنې پر معيارونو ولاړ بنسټونه او فکري مرکزونه جوړوي چې دغه هر څه تنظيم کړي.

موږ په افغانستان کې هوښيار حکومتونه، د ملي باور د پياوړي کولو لپاره مسلکي بنسټونه او ډېر کار ته اړتيا لرو، چې له دغې ټوليزې سترې بدمرغۍ څخه ځان وژغورو.

په همدې هيله

# موږ او دیموکراسی

دیموکراسي ښه ده که بده؟ موږ یې غواړو که نه؟ او که نه یې غواړو نو د خپلو حقونو د تثبیت او حکومتونو د جوړولو لپاره باید څه وکړو؟
څو لسیزې کېږي چې کمبخته دیموکراسي په افغانستان کې سرګردانه ده، کله له کفر سره معادل ګڼل کېږي او کله هم د ملي ستونزې د حل یوازینۍ لاره بلل کېږي. ځینو افغانانو ته دیموکراسي یو شی، یو سړی یا یو ماشین ښکاري چې باید له لویدیځه راوړل شي. ځینې نورې د کفارو د جاسوسانو چل ګڼي چې په نباتي غوړیو کې د خوګ له وازدې سره ګډه شوې وي او یا یې په مشکي صابون کې زموږ د ایمان د زیانمنولو لپاره رالېږلې وي. یوازې نالوستي افغانان نه دي، چې له دیموکراسۍ څخه داسې تعبیرونه لري، بلکې لوستي، په اصطلاح روښانفکران او آن له لویدیځه راستانه شوي افغانان هم تردې لا خندوونکي تعبیرونه لري. دا ډله افغانان درې ډوله تیروتنې لري، لومړۍ ډله چې ویني کټ مټ د لویدیځ ټیپ دیموکراسۍ ټولې ښېګڼې نه شته له یو ډول کولتوري ټکان Cultural Shock سره مخامخېږي. زما یو ښاغلی لویدیځمیشتی دوست یو ځل په دې عصباني و، چې پلانکي تنظیمي مشر ولې د یوه ژورنالیست پر هرومرو نیولو او جزا ورکولو ټینګار کاوه، چې دغه مشر ته یې جنایتکار او وژونکی ویلي و، زما د لویدیځمیشتي دوست عصبانیت په دې کې و، چې که دا ژورنالیست ونیول شي نو د بیان آزادی او دیموکراسي به څنګه شي؟
بله ډله فکر کوي چې له روان کړکېچ څخه د وتلو لاره داده چې دیموکرایتک شرایط رامنځ ته شي او آن وسله وال ایډیولوژیک او مذهبي مخالفین هم په دې پروسه کې را ګډ کړای شي، وایي « زه دې په مسلمانۍ کې شک لرم ته راته مریدان نیسې». دا ښاغلي دې ساده پوښتنې ته ځواب نه لري چې دا کار به کوي څوک؟

درپیمه ډله چې د دیموکراسۍ له پلي کولو ناهیلي دي وایي : په افغانستان کې دیموکراسي میموکراسي نه چلېږي باید نورې لارې ولټول شي،خو عجیبه ده چې دوی هم د بلې لارې تعریف او پېژندنه، نه لري او هسې په هوا کې تورې وهي.
نو دا د دیموکراسۍ هیولا څه ده؟
د دیموکراسۍ ساده مفهوم ولسواکي ده. ځینو بلاغتپوهانو یې پېژندنه داسې هم کړې چې : د خلکو لپاره پر خلکو د خلکو حکومت ته وایي، مانا دا چې د خلکو د حقونو د تأمین او د ژوند د ښېګڼې لپاره د خلکو د داسې استازي حاکمیت جوړول چې خلک یې په ټاکلو کې ونډه ولري او هر وګړی په کې خپل حق ته ورسیږي. په دې توګه وینو ،چې دغه په شا راوړې بلا دومره هم پردۍ نه ده چې ویې نه شو پېژندلی.
ولسواکي د افغانستان سیاست ته هغه وخت ورګډه شوه چې په دیارلس سوه څلویښتمو کلونو کې د شاهي زمانې اساسي قانون ګوندونو ،ملي شورا او سیاسي فعالیت ته د راتلو لاره هواره کړه، دې لسیزې ته د افغانستان په اوسمهالي تاریخ کې د دیموکراسۍ لسیزه هم وایي، دا په افغانستان کې د دیموکراسۍ د ناویتوب دوره وه او بنایي تر اوسه یې په دې هېواد کې د ژوند تر ټولو ښې شپې ورځې هماغه وې، له جمهوریت سره دغه ناپېغله شوې ناوې بوډۍ شوه، او د ثور له بدلون سره ترۍ تمه شوه.
د بن له پریکړو وروسته یې یو ځل بیا له چادرۍ څخه سر راویوست خو دا ځل یې بل ډول نخرې کولې، چې د دې وطن خلک ورسره ډېر نه وبلد .
داځل د ولسواکۍ اسپه موږ د لکۍ له خوا قیضه کړه، داسې چې د لویدیځوالو په تور دروبې کې مو وغوښتل چې اول مطلقه دیموکراسي راولو او بیا ورته ټولنیز –فرهنګي او اقتصادي شرایط آماده کړو، هماغه وو چې هم یې خپل سر وخوړ او هم زموږ.
افغانستان، چې هسې هم د سیاسي اصطلاحاتو د شرمیدلو ځای و تر کمونیزم، لیبرالیزم، سیاسي اسلام او ... ایزم ... ایزم وروسته ، دادی دیموکراسي هم خپل حالت ته په اوبو کې خوله شوه.

ولسواکي هغومره پیچلې بلا هم نه ده چې موږ دې یې ونه شو پېژندلای، د اقتصادي فرهنګي او ټولنیزو مساعدو شرایطو په بستر کې د قانون حاکمیت او د انساني حقونو خوندیتوب دی، داسې چې انسانان د ژوند، بیان او دانتخاب آزادي ولري او وکړای شي د خپل سیاسي برخلیک په ټاکلو کې ځان شریک وګڼي. په دې کې هم شک نشته چې د ټولنو له عقیدوي – فرهنګي ارزښتونو سره سم د دیموکراسۍ ځینې شرایط بدلیدای شي، مانا دا چې ولسواکي هغه ډول چې په یوه اروپایي یا نا اسلامي ټولنه کې حدود او صغور لري لازمه نه ده ،چې په یوه اسلامي ټولنه کې دې هم ولري. مثلاً که په یوه اسلامي ټولنه کې یو وګړی وغواړي د روژې په مبارکه میاشت کې د خلکو ترمنځ روژه وخوري او ووایي چې ګواکې دیموکراسي ده، حق لرم! دده دغه ادعا سمه نه ده. ځکه ده ،ددغې ټولنې حاکم قانون تر پښنو لاندې کړی او په حقیقت کې دده دغه ناقانونه کار ټولنیز نظم ګډوډ کړی دی. او په دې توګه دده همدا عمل هم د ولسواکۍ پر ضد عمل دی. له دې کوچني مثال څخه ښکاري چې د لنډپاریو وګړیو له نظره د حاکمو اخلاقو او قوانینو تر پښنو لاندې کول، انارشۍ ته لاره هوارول او بیا دې ته د دیموکراسۍ ویل یو ناسم او د ولسواکۍ ضد کار دی.

د همدې لپاره ښایي هره ټولنه د خپلو فرهنګي – عقیدوي او ټولنیزو – دودیزو ارزښتونو مطابق خپله ولسواکي را جوړه کړي.

ما پخوا هم دا مثال څو ځله ویلی و، چې دیموکراسي د کرسمس ونه نه ده، چې موږ دې یې د امریکا یا اروپا له کوم ځنګله څخه راوباسو او دلته د کابل په سیاسي پارک کې یې کینوو او بیا دی تمه ولرو چې راشنه شي او همدا سبا دې یې تر سیوري لاندې کینو.

دا بیخي ناسمه تمه ده. ددې پرځای موږ ښایي د افغاني ولسواکۍ هغه زړی د افغانستان په پسته شوې خاوره کې وکرو، چې ددې ولس له عقیدو، باورونو، ارزښتونو او دودونو څخه اوبه وڅښي او ددې هېواد له شرایطو څخه ساه واخلي، ورو. ورو بیخ ونیسي، را لویه شي او بلاخره داسې ستره ولسواکۍ رامنځ ته کړي، چې بیا

يې نه د لويديځ د کپيتاليزم توپان راچپه کړای شي او نه هم د ختيځ د سوسياليزم سيلاو.

## له کومه ځايه يې را پيل کړو؟

لومړی دې ته اړتيا ده چې له روان بحران څخه ووځو.

تر کړکېچ راوتې ټولنې لا هم د کړکېچ د دورې يو شمېر ميراثونه له ځانه سره لري، موږ کورنۍ جګړه تېره کړې ده او له دې جګړې څخه ډېرې ډلې، وګړي او ډېرګړي را پاتې دي چې قانون ماتوي او ټولنيز نظم ګډوډ وي. د لويديځ ټيپ په ديموکراسۍ کې دغه وګړي او ډېر ګړي د قانون حاکميت ته غاړه نه ږدي، دوی فکر کوي چې که قانون حاکم شو او نظم راغلی نو له دوی څخه به يې د تېرو جنايتونو پوښتنه وشي، ځکه خو د خپلې بقا لپاره هم د ديموکراسۍ په بالاپوش کې انارشي غواړي. نو د همدې لپاره لومړنی ګام د داسې يوه عادل او قهار حاکميت رامنځ ته کول دي، چې په هر قيمت د قانون حاکميت پلی کړی.

تردې وروسته د اقتصادي – فرهنګي بستر هوارول دي. د ويښتيا او روښانتيا په پړاو کې بايد ټولو خلکو ته افغاني ولسواکي ور وپېژندل شي، د هغې ښېګڼې او اړتياوې د عامه پوهاوي د يوه ملي پروګرام په ترڅ کې معرفي شي.

خلک ښايي دا احساس کړي چې د نس مړولو لپاره له قانون ماتولو او جرم کولو پرته نورې لارې هم شته.

زما يو ښه دوست دی، ښه سياسي نظريات لري، خدای دې يې مل شي، يوه ورځ مو په ولسواکۍ خبرې کولې او په اوسنيو شرايطو کې مو د ولسواکۍ د ټولو اصولو پر حاکميت فکر کاوه، هغه مثال را کړ: ((فکر وکړه چې څوک ډېر سخت ټپي دی، کولمې يې راوتلې، يو لاس او يوه پښه يې پرې شوي، په بدن هم ډېر سوری سيوری دی او وينه هم په شدت ورڅخه روانه ده خو ښاغلی جراح ډاکتر يې پر مخ د يو کوچني پټ زخم پر

تداوی اخته دی او په ډېر دقت هغه پانسمان کوي، له جراح څخه که پوښتنه وکړې، چې ولې یوازې پردې کوچنې ټپ وخت تیروې؟ نو درته وبه وایې :
ته ودرېږه چې دا بیا په راتلونکي کې داغ نه شي او خدای مه کړه د ناروغ ښکلا ته یې زیان ونه رسېږي(!)
زموږ جراح هم په همداسې ښکلاییز کار اخته دی او د افغانستان ټپي بدن وینه ضایع کوي.)) زما د دوست له نظره لویدیځ ټیپ دیموکراسي د هماغه ښکلاییز ټپ غمخوري ده. موږ باید اول افغانستان وژغورو او ویې ساتو چې بیا په کې ولسواکي راوستلای شو.
یوه بله علمي معادله :
که په یوه ټولنه، هېواد او ولس کې کړکېچ د ولسواکۍ د نشتوالي له امله رامنځ ته شوی وي نو هلته ښایي ټولې سیاسي هڅې ددې لپاره ځانګړې شي، چې ولسواکي ټینګه او کړکېچ حل کړای شي، خو که په یوه ټولنه کې د بحران لاملونه نور وي مثلاً بې امنیتي، لوږه، د قانون نشتوالی یا کمزوری حاکمیت، ادراي فساد، د جنایتکارانو او پوځي ډلو خپلسري، د ګاونډیو لاس وهنې او نور ،چې آن ولسواکي هم، دهمدې عواملو له کبله نه شي تامیندای بیا نو ښایي نورې حلچارې وپلټل شي. موږ په همداسې یوه سیاسي چاپېریال کی یو، قانونواکي تر ولسواکي مخکې اړتیا ده ځکه امنیت، اقتصادي وده، د قانون واکمني، اصلاحات او د فرهنګي سطحې لوړوالی ( لوړ عامه شعور) د ولسواکي د ټینګېدو اسباب دي. ځینې ښاغلي به ادعا کوي چې دا هر څه له ولسواکۍ پرته نه شي ترسره کېدای، خبره بیا د چرګۍ او هګۍ ده، مګر زه داسې فکر نه کوم.
د افغانستان لپاره یو ځواکمن، ملي او عادل قاطع حکومت په کار دی چې ثبات ټینګول، اقتصادي وده، ټولنیز عدالت او د ویښتیا او روښانتیا پړاوونه ترسره کول یې لومړۍ دندې وي، که څه هم د لویدیزې دیموکراسۍ له ټولو فروعاتو او څانګیزو ژمنو سره سم نه وي جوړ شوی، همدا حکومت کولای شي موږ دې ته ور نږدې کړي چې د دیموکراسۍ زړی وکرو.

ددې نظر مخالفین به وایي چې سیاسي نظم د حاکمیت مشروعیت او پر کړنو باندې دایمي نظارت او حساب غوښتنې ته اړتیا لري، کوم چې د ولسواکۍ هڅبندي جوړوي. هو، همداسې ده زه تر بشپړې ولسواکۍ مخکې یوه قانونواکه جمهوریت ته اړتیا وینم. په جمهوریت کې د قانونواکۍ پراو همداسې راځي؛ حاکمیت د ټولټاکنو له لارې خپل مشروعیت ترلاسه کوي، دنظارت، قانون جوړونې، او حساب غوښتنې لپاره ملي شورا شته، افغانستان دا مزل وهلی دی خو پاملرنه دې ته په کار ده چې اول یو ملي –ژمن او کاری حاکمیت رامنځ ته شي او بیا همداسې حاکمیت ته ډېر صلاحیت او واک ورکړل شي چې په هېواد کې د قانون واکمني او نظم راولي.دبشپړې ولسواکۍ له شرایطو سره ددې دورې یو تفاوت د واک په مرکزونو کې دی . دجمهوریت په دې پړاو کې حاکمه هیئت ډېر واکونه لري او دوروستیو پریکړو صدور او اجرا کول د حکومت په لاس کې وي.
ښایي حاکمه هیئت له دغه واک څخه د ناسمې کارونې تمایل ولري، خو که مدني ټولنه او پارلمان ،یوازې او یوازې د ملي ګټو لپاره ،ځواکمن نظارت او څارنه وکړي، حاکمه هئیت ورانی نه شي کولای .که څه هم په دې حالت کې مقننه ځواک دحکومت دراپرځولو او یا بدلون صلاحیت نه لري، ، له بده مرغه په افغانستان کې د نظارت او څارنې سیاسي پروسه هم د حاکمه هئیت د را پرځولو او ځان حاکمیت ته د رسولو یا مطرح کولو تر بریده پېژندل شوې ده، بیا هم له سیاسي نوموونو څخه د بې خبرۍ ستونزه!
له دې څخه څه پایله اخلو ؟
موږ ښایي ولسواکۍ ته د ورننوتلو پر درشل پښه کېږدو، او بام ته د ورټوپ وهلو هوس له سره وباسو.
موږ یوې قهارې خو عادلې قانونواکۍ ته اړتیا لرو، چې ثبات، سمسمکي، اقتصادي پرمختګ او ولسواکۍ ته د وررسیدو پړاو بشپړ کړي. د ویښتیا او روښانتیا پړاونه په علمي – ټولنپوهنیزو آرونو عملي کړي، د ټپي افغانستان د وینې بهیدو سوري بند کړي او ورویې تړي، د ښکلا لپاره به یې وروسته هڅې پیل کړو.

دغه قهاره قانونوا کي بايد د خلکو د ارادې پربنسټ رامنځ ته شوې وي او مشروعيت ولري، خو د ملي اجرأتو بشپړ واک ورسره وي.
په همدې پړاو کې بنايي د ولسواکۍ متې هم ورو ورو وکرل شي مانا دا چې سراسري او له مانا سره سم سياسي ګوندونه رامنځ ته کړو. له ځواکمنو ګوندونو پرته ولسواکي پر ولسواکۍ پورې خندل دي. له ولسواکۍ سره همزولي ګوندونه به لکه جوړه ماشومان سره را لوی شي او د قانونواکۍ تر سيوري لاندې به وده وکړي چې ګوندې په راتلونکې کې د يوې ځوانې افغاني ولسواکۍ په راتلو له دې بدمرغيو وژغورل شو.
په همدې هيله

# د ښار او کلي جګړه

داخبره ډېره شاربل شوې ده، چې د افغانستان اوږدو بدمرغيو او کړکېچونو ګڼ اړخونو درلودل او لري يي ؛ نړيوال لاملونه، سيمه ييز هغه او په کور دننه عوامل. يو شمېر سترګور او ځير کتونکي فکر کوي ،چې د افغانستان دننه هم د څو نسلونو يا ټولنپوړونو (اجتماعي اقشارو) او انددودونو ترمنځ پټه جګړه روانه ده. ددې جګړې يوه درنه برخه د کلي او ښار ترمنځ جګړه ده.
موږ سرشمېرنې نه لرو چې خبر مو کړي؛ څومره افغانان په کليو او څومره په ښارونو کې اوسي له انقلابونو څخه را په دې خوا ښارونوته د کليوالو را ننوتلو دا محاسبه نوره هم سخته کړې ده، له جګړو، وزګارۍ او ناامنۍ څخه په تېښته کليوال ښارونو ته ورننوځي او هلته پرته له دې، چې له امکاناتو، اسانتياوو، روزګار او پيسو څخه د ښارونو تشې ګيډې په خلکو وپړسوي بله ګټه نه کوي. ډېر ځله په روزګار پسې ستړی کليوال ښار ته راشي او ددې پر ځای چې کار ومومي د ښاري کاريکاتور له ګډوډۍ او تمسخر څخه په زړه مات شي يا د ښار په کرکجنو دوړو او لوګيو کې ورک شي او خپله کليواله پېژندپانه (هويت) هم ورک کړي او يا خو په مات زړه بېرته کلي ته ورستون شي. موږ ښارونه نه لرو د ښارونو کاريکاتور لرو. ښارونه يوازې د خلکو ګڼې ګوڼې او د موټرو ډېروالي ته نه وايي، ښار د يوه ځانګړي فرهنګ لرونکي ټولنځای ته وايي چې د مدني ارزښتونو تر څنګ د ژوند د مادي اسانتياوو لپاره هم امکانات ولري، د افغانستان ښارونو په انقلابونو کې د مدني فرهنګونو او ارزښتونو د له لاسه ورکولو تر څنګ د مادي اسانتياوو بنسټونه هم له لاسه ورکړل، يوازې کابل ته همدا څو مياشتې مخکې له بل هېواده خيراتي برېښنا را ورسيده، سړکونه يې همدا اوس هم د ډبر پېر (عصر حجر) د زمانې دي، عامه ترانسپورت نه لري او ژمی د خټو او اوړی د

دوړو له برکته پېژندل کېږي . یو عجیبه خبره خو داده چې د افغانستان هېڅ ښار د کانالیزشن سیستم نه لري، پارکونه او پارکینګونه نه پېژني.
خو د همداسې عجیبو ښارونو اوسیدونکي د ښاري اکټونو پوره شوقیان دي او کلیوالو ته اوس هم په اصطلاح (اطرافي) وایي.
تاسو به اوریدلي وي ،چې : «افغانستان یو کرنیز هېواد دی .» دغه غونډله دا مانا لري چې زموږ ملي اقتصاد پر کرنه ولاړ دی، او دا به هم منئ چې کرنه په کلیو کې کېږي، نو ددې منطقي پایله دا راوځي چې موږ افغانان د کلیوالو له خیراته روزي خورو ، خو له هغوی سره مو چلند بیا هم عجیب دی.اوس راځم د ستونزې پېژندلو ته :
لانجه زړه ده، په پاچاهي زمانه کې څو سرداران او لویې کورنۍ پر ښارونو حاکمې وې او پاتې کلیوالو د درېیمه درجه اوسیدونکو (اتباعو) حیثیت درلوده. زاړه توپیرونه او عقدې له هماغه ځایه را پیل شوې، تاسو « د کونډې زوی» سریال بیا وګورئ د افغانستان د کلیو او ښارونو د توپیرونو تراژیکه کومیډي ده، ښار یعنې غولوونکی هېولا، د چل، د روهې او هوسونو بازار او کلی د ساده توب او بې خبرۍ سیمه.د پخوانیو د ژوند تفاوت د اکثریت کلیوالو زړونه له ښارونو خپه کړي وو، لیدل یې چې لاسونه دده تښاکې دي، خو په غنمو یې د ښاري بادار په کور کې کېک پخېږي . د پاچاهي په کلونو کې چې د دیموکراسۍ نغاره وډنګېده او ګوندونه راشنه شول او بیا پسې سره شول ،نو د ګوندونو یو شمېر هوښیار چلوونکي او یا هم د هغوی بهرني انډیوالان په افغانستان کې د کلیو او ښارونو ترمنځ توپیرونو او پټو ټولنیزو غوټو (عقدو) ته متوجه شول او پسې راوایې خیسته ، چې د کلیوالو له پاکو احساساتو او صداقت څخه د خپلو ګوندونو د پرسولو او چلولو لپاره ګټه واخلي کېن لاسیو د خان، ملک ، بزګر او کرګرد پرولتري مبارزو شعارونه را پورته کړل، د زبېښناک ( استثمار) سورې یې پیل کړې او د بزګري پاڅون په نامه یې د کلیوالو بریتونه ورغټ کړل او چې راووتل نو لومړی یرغل یې پر ښارونو و، ښي لاسو چې ولیدل لوبه ګرمه ده د کفر ، الحاداو کمونیزم مسئله یې را توده کړه او د خپلو سیاسي مخالفینو پر ضد یې په همدې ساده وو، خو صادقو کلیوالو کې سنګر ونیوه، بس ډزې پیل شوې، اول د

شعارونوډزې، وروسته د ټوپکو او بیا د توپونو ... ښارونه د اشرافو، حکومتیانو، ګوندیانو او تنظیمیانو ځای شو او کلي د وسله والو مخالفینو. دواړه یو د بل پر ضد وجنګېدل – وجنګېدل تر هغو چې دواړه له پښو وغورځېدل. د ښار هر اوسیدونکی کافر او له دین او ایمانه وتلي پېژندل کېدل او مباح الدم او واجب القتل وو، همدا راز کلیوال د افراطیونو او ارتجاعیونو په نامه په بې رحمۍ سره بمباریدل، دا لوبه تر ننه هم روانه ده او کلي د ښار په وړاندې جنګېږي یوازې نومونه بدل شوي دي، بزګرد فیوډال او سرمایه دار اشرافي په وړاندې مجاهد د کمونیست په وړاندې، انقلابي د ضد انقلاب په وړاندې، اسلامي حکومت دحزبیانو په وړاندې او مجاهدین د ائتلافي اداري په وړاندې،بیا طالب د شر او فساد په وړاندې او طالب د صلیبیانو په وړاندې ... نومونه بدلېدل را بدلېدل خو جګړه او د جګړې انګیزه تقریباً هماغه وه. کلیوال او ښاریان یو د بل په وړاندې ودریدلي وو او یو بل یې وژل. په کلیوال ذهنیت کې د ښار په مقابل کې عقده راډېرېده، چې دامریکایانو او اروپایانو د ډالرو باران را شیوه شو، کلیوالو ته څومتره پوخ سړک، یودوه پلچکونه، د اوبو بمبې او څو کیلو اصلاح شوي غنم ورولېږل شول او نور ټول ډالر په ښارونو کې د لېټاپونو له ګېډې راووتل او دچارواکیو ښاریانو په ستوني ورننوتل، ودانۍ دنګې شوې، بلډنګونه په ښیښو پوښ شول، د وروستي ماډل موټرو دروبڼ جوړ شو، خلکو ته د نایټ کلبونو د جوړولو شوق پیدا شو، خو ... کلي لا هماغسې محروم وو، کلیوالو دا هر څه کتل او لایې هم په غوایي باندې قولبه ترله او په یوم یې ځانته د اوبو لیښتی جوړاوه، چې د ښاري NGO بازیا د ښاري وزیر په کور کې د هغه دلور د کالیزې د کیک لپاره اوړه برابر کړي. بیا نو چې په ځمکه ګوزاره نه کېده سترې کلیوال د ښار په چوک کې مزدورۍ ته ولاړ و، خو ښاریانو ورته د القاعده په سترګه کتل ... لوبه روانه وه ٪۸۵ خلک د ٪۱۵ ښاریانو په وړاندې، ساړه، په حسرت ناکو سترګو سترې او ډک زړونه ولاړ ...

د کلیو پاڅون د ښارونو په وړاندې روان دی، خو ډېر خلک پرې نه دي خبر، ښاریان لا هم مباح الدم دي، ځکه د صلیبیانو ډالر خوري، ځانمرګی، بم، راکټ او هر څه پرې روا دي.

له همدې خپه وو کلیوالو سره دومره مرسته هم ونه شوه، چې خپل ښوونځي له سوزولو څخه وژغوري، بهرنیو استخباراتچیانو چې د کلیوالو نارضایتي لیدله او د ښار او کلي توپېرونو ته ځیروو، په منډه را ننوتل اول یې ورته ښوونځي وسیزل او چې د کلیوالو د ویښتیا او روښانتیا په اړه یې اندیښنه لرې شوه نو د صلیبیانو په وړاندې یې ټوپکونه ورکړل، کلیوالو یو ځل بیا بیل او قلم هېر کړل او سنګر ته ولاړل. زړه لوبه، نوي لوبغاړي.

څه باید شوي وای چې ونه شول؟

همدا چې د نړیوالو مرستو جوالونه راسوري شول، باید د افغانستان د اقتصادي ټولنیز او فرهنګي جوړښت له مخې د مرستو بهیر کلیو ته ورغلی وای . هلته کرنیز سیستم، ښوونځي، لارې، د کرنیزو محصولاتو د پروسس امکانات، کارونه، روغتیایي اسانتیاوې، اوبه او برېښنا ورغلي وای، چې ٪۸۵ خلکو هم ځانونه ددې هېواد اوسیدونکي او (اتباع) احساس کړي وای، موږ ټولې پېسې په ښارونو کې د (جندر بېلانس)، (هیومن رایټس)، (کپسیټي بلډنګ) او (ومن رایټس) په ورکشاپونو ولګولې ډالر مو په دې وشیندل چې د وزیر اکبر خان او نوي ښار اوسیدونکي ولې د نایټ کلپ د لرلو له حق څخه محروم پاتې دي، آخر دیموکراسي ده که نه !؟ موږ یورو او پونډونه په (تولسي)، ( پرینا) او (مسټر بجاج )ولګول او د تلویزیونونو خولې مو د کلیوالو پر لور ورکږ ې کړې، هغوی چې په تلویزیون کې ولیدل چې تولسي بتانو ته عبادت کوي نو په غوږ کې ورڅخول شوې دا خبره ریښتیا شوه، چې ښارونه کافر شوي دي او د صلیبي ښارونو په وړاندې جهاد فرض دی.

یو وخت ښار ته زما د یو راغلي کلیوال مېلمه د ذهنیت روښانولو لپاره مې هغه له ځان سره جومات ته بوته چې د ښار په کافروالي یې باور راکم کړم، چې له لمانځه څخه راستانه شوو، نو د یو هوټل تر مخې غټ تلویزیون لګیدلی و، او د کوم هندي یا اروپایي ډانس لوڅې صحنې یې خپرولې ،هوښیار کلیوال مېلمه په سترګو کې راته وکتل، توبې یې وویستې او بیا یې سترګې پر ځمکه وګنډلې.

زما ٪۸۵خلک زموږ ښارونو او زموږ حکومتونو ته له همدې اړخه ګوري، زه به یو شمېر لوستونکیو ته غیرمدني، وروسته پاتې او آن اطرافي ښکاره شم ،خو قدرمنه ښاري!

د( پرمختګ )او (فرهنګي ښکېلاک) ترمنځ توپیر وپېژنه، مدني کېدل ښوونځي، پوهنځي، روزنځي، روغتیاکتنځي او د کرنې و اقتصا پرمختګ ته اړتیا لري، دې ته کار وکړه، تولسي او نایټ کلپ د پرمختګ نښه نه ده، ولې خپله رنګه بدوې؟

**حل لاره:**

تر هرڅه وړاندې ښاییي دښار او کلي د تقابل او تضاد لاملونه وپېژندل شي او له منځه ولاړ شي. دډوډۍ په بودولو کې له کلیوالو څخه باید مننه وکړو او دا مننه هغه وخت کیږي ، چې ښار ته له بهره رارسیدلي امکانات د کلیو د اړتیا او سرشمېر له مخې ورواستول شي.

د یوې فعالې دیپلوماسۍ له لارې باید نړیوالو ته د افغانستان ریښتینی انځور ورکړو ، او د لومړي ځل لپاره یې وپوهوو چې د دوی له راتلو سره د ٪۸۵افغانانو ژوند نه یوازې دا چې ښه شوی نه دی، بلکې خراب شوی هم دی ، ځکه د نړیوالو تر راتلو مخکې دوی فقیر، بې وزله، بې ښوونځیه او بې روغتونه وو، خو لږ تر لږه امنیت یې درلوده، اوس خو ښوونځی او د کرنې اسانتیاوې موږ ورنه وړې بلکې لا یې هم بمباروو او د القاعده په نامه یې ...

راځئ د یوه مارشال پلان له مخې د ټولو مرستې لویه برخه مخامخ کلیو ته ورورو؛ لویې لارې، لوی بندونه، د اوبو لویې ویالې د کرنې پرمختللي وسایل ورورو بیا یې د زراعتي محصولاتو د مارکیټ غم وخورو، تر هغه ور ا خوا کلینک او ښوونځي ښه پریمانه ورته جوړکړو، بیا یې له فرهنګي پلوه د ذهنیت بدلولو ته هڅه وکړو، چې ټول ښار او ښاري ارزښتونه د دوی پر ضد نه، بلکې د دوی د مرستې لپاره دي او نه ښاییي له هغو سره وجنګیږو. خپله میډیا اصلاح کړو او د تولسي پر ځای ورته افغاني.اسلامي او روزونکې تفریحي پروګرامونه جوړکړو.

د افغانستان حکومت، مدني ټولنې، فرهنګیان، مطبوعات، نړیوالې مرستندویې ټولنې او سازمانونه مکلف دي چې دفکري او فزیکي جګړو بنسټ ونړوي، د ښار او کلي توپیر، د ښاري او کلیوال ذهنیت د تقابل او تضاد اصل او له کلیوال محرومیت او وروسته پاتې والي څخه د دښمنانو ناوړه ګټه اخیستنه ښایي له منځه ولاړ شي. که غواړو چې د دښمن لاس له خپل هېواد څخه لنډ کړو ښايي دهغه پښه له خپلو کلیو څخه وباسو ، راځئ خپلو کلیو ته ولاړ شو او له خپل بزګر سره په سپېره زمکه پلتیۍ ووهو ځکه وايي: هلته چې ته نه یې نو هرو مرو هلته ستا دښمن شته. له ښار سره د کلي پخلا کول اسانه خبره ده، یو څه کار، پام او لګښت ته اړتیا لري، د تولسي، نایټ کلپ او جندربلانس د ورکشاپونو پیسې یې بس دي، ملي او معقول پلان جوړونه او احساس غواړي.

# زموږ کافر(!) حکومتونه

د افغانستان یو ولسمشر ویلي و : «د مخالفینو په نظر زه کافر یم، خو زما په وچویلي یې نه دي لیکي چې کافر یم، زه له تاسو (خلکو) څخه پوښتنه کوم چې ولې مې دوی کافر بولي؟»

همدا څه موده مخکې د افغانستان یوه بل ولسمشر وویل : «که د مکې معظمې امام هم راولئ او دلته یې ولسمشر کړئ دوی به وایي چې دی هم کافر دی.»

له امان الله خانه تردې زمانه ګڼ واکداران د کافر په نامه لرې کړل شوي دي نو پوښتنه داده ،چې دا د کافر او غیر کافر جنګ ولې یوازې په افغانستان کې روان دی؟

زه نه غواړم د چاد عقیدې او یا کفر پر ریښتیاوالي او دروغ والي خبرې وکړم، په حقیقت کې دا ډېره سخته ده، چې څوک دې یو بل څوک.چې ځان مسلمان بولي.کافر یا مسلمان زبات کړي، ټول ناري وهي، چې زه مسلمان یم خو مخالفان یې وایي، چې کافر دی. پر ځینو پخوانیو واکدارانو خو ځکه د کافر والي ټاپه لګېده چې خلک یې وژلي یا ځورولي وو، دا بالکل سمه خبره ده خو هغه چا چې پر دوی د کفر ټاپه لګوله ،چې بیا به ورته ځېر شوې دوی به تر هغه کافر واکمنه ډېر خلک وژلي، داړلي او ځورولي وو. د ټاپو لګولو عجیبه انډوخر دی، د هر چا په جیب کې ټاپې دي څوک د کافر په نامه، څوک د کمونیست او څوک د اخواني او القاعده په نامه بس د یوه ملت لاسونه یې یو د بل ګریوانه ته وراچولي دي، ددې ستونزې ریښه چېرته ده؟

له امان الله خانه تردې زمانه ښکېلاک په نړیواله کچه او ګوډاګي ګاونډیان د سیمې په کچه د افغانانو له مظبوطې عقیدې او پاکو اسلامي احساساتو څخه د خپلو سیاسي چلونو او موخو لپاره ګټه اخلي. اول د یو چا پر وچویلي ټاپه ولګوي او بیا په استخباراتي چلونو، ناسم دلایل او لاسوندونه ورپیدا کړي بس سړی کافر شي او پر

ضد یې جنګ روا شي، دده له لاسه حکومتونه هم کافر شي او لانجه جوړه شي، او بې چې خړې شوې ګاونډیان او نړیوال ښکېلاکګران د کبانو په نیولو پیل وکړي. دا چلونه انګریزانو او د انګریز سیمه ییزو بچیانو د اروپا د منځنیو پیړیو له کلیسایي واکمنو زده کړي دي، هغه مهال کلیساګانو د خپلو واکمنیو د ساتلو لپاره خپل هر سیاسي مخالف په دې نامه تر دار، ګیوتین یا صلیب پورې کش کاوه چې ګواکې کافر شوی دی، آن د روښانتیا او ویښتیا ناسیاسي پوهان او ساینسپوهان یې هم په همدې نامه وژل چې ګواکې کافر شوي دي.
خو دلته زموږ خوارانو ستونزه نوره هم پېچلې ده، زموږ په اصطلاح کافر حکومتونه هم خدای وهلي دي، له یوې خوا هېڅ په عقل نه راځي او یو د بل له برخلیکه یې نه زده کوي او له بلې خوا له ملت سره د پوهاوي او نږدې خبرو اترو ور نه پرانیزي چې ځان ورته مسلمان زبات کړي. زموږ په اصطلاح کافر حکومتونه په لوی لاس او بې خړوي؛ یو خدای خوار کړی را پاڅېږي او (نعوذوباالله) په لینین یا کوم بل اروپایي ږیره ور درود ووایي، بل یې ناڅاپه خپله ښځه لوڅ مخ راوباسي او په کلیوالو باندې هم په زوره شپو خولۍ ور واغوندي، کوم بل یې د بوش له مرستو دومره مننه وکړي چې خبره ورنه خرابه شي، یو بل یې له داسې وژونکي سره لاس یو کړي، چې د خلکو له کافره هم ډېر بد راځي ... بس همدا کافي ده چې په کلیو کې ډنډورې وغږول شي چې حکومت کافر دی، غریب حکومت چې هر څومره اذانونه او جوماتونه ډېر کړي، بیا یې څوک نه مني.
د دښمنو او انګریز پاللیو کړیو ټاپه دومره زوروره وي ،چې پاکزړي زلمیان ځانمرګیو بریدونو ته هم چمتو کوي خو د کافرو حکومتونو د ذهنیت جوړولو توان دومره کمزوری بلکې په نشت شمار دی چې ځان خلکو ته مسلمان نه شي زباتولای.
بس ټوپک راووځي او تورې پر غاړو راکش شي، ګواکې د کفر او اسلام جګړه یوازې په همدې خاوره کې روانه ده او افغان ولس په کې سټ شو، نور اسلامي او غیر اسلامي هېوادونه خپل عیش کوي، ټکنالوژي پالي او خلک یې پرمختګ کوي، کله کله د افغانستان له حالته په رسنیو کې خبر شي، خوا خوږي ورته نځه . نځه وکړي او دښمنان په شونډو کې موسکي شي چې ،هه: دسیسې کامیابې شوې.

کابل او ولایتونه له ډېرو هدیرو ډک دي ،څوک د سورکاپیر په نامه خاورو ته تللی او څوک د سره کاپیر د مرداروونکي په نامه... خو هیچا په دې څېړنه نه ده کړې چې په یوه ۹۹،۹٪مسلمان هېواد کې دومره سره کاپیر له کومه شول؟ او بده خو یې لا دا ده چې لا هم موږ په دې و ژلو او وژل کېدلو ویاړو.

د ویښتیا او روښانتیا د پړاوونو پیلېدو په درشل کې، هغه څه چې ډېر د پام وړ دی، همدغه ستونزه ده. موږ څنګه کولای شو له هر حکومت سره د کفر په نامه د ښکېلاک او استخباراتو د دښمنۍ مخه ونیسو؟ پخپله د ویښتیا او روښانتیا پړاوونه که په غور سره عملي شي ددې غوټې په خلاصون کې مرسته کولای شي.

درپیمه لاره :

ستونزه ښایي له دواړو خواوو را کوچنۍ شي، حکومتونه ښایي د سیاستپوهنې او ټولنپوهنې له نویو میتودولوژیو سره سم داسې هڅې پیل کړي چې خلکو ته نامسلمانه ښکاره نه شي. فاسد حکومتونه هېڅکله مسلمان حکومت نه شي حسابیدای، هېڅ رسمي چاره ښایي له دیني اصولو سره په ټکر کې نه وي.

هغه ارګانونه ،چې د مذهبي چارو لپاره ګومارل شوي ،نه ښایي سمبولیک وي، بلکې دوی ښایي پر علمي بنسټ دا وڅېړي چې څه لاملونه شته چې مخالفین ورځخه د حکومتونو د تکفیر لپاره کار اخلي.

له امان الله خانه تردې زمانه تجربې زموږ په مخ کې دي .ددې تجربو شاربل د حل کوچ را ایستلی شي. بله حلچاره داده چې له خلکو سره د خبرو او تفاهم دروازې پرانیزو، حکومتونه که دچکونو، سیمیټي دیوالونو او سنګرونو له حصاره راووځي او د پوهاوي (کمونیکېشن) له نویو آرونو سره سم د عامه پوهاوي دقیق پروګرامونه عملي کړي نو خلک پر دوی اعتماد کولای شي.

یو اصل دا هم دی چې موږ ټولې رسمي اودولتي چارې له افغاني دود . دستور او ملي ارزښتونو سره سمې تنظیم کړو، نه دا چې په پردیو نااسلامي او ناافغاني ایډیولوژیو ککړې تګلارې را کاپي کړو، موږ ښایي له بهره یوازې وسایل، تکنالوژۍ او ساینس را واخلو، خو دخپلو چارو د تنظیم آرونه د خپلو هېوادنیو او ملي باورونو له مخې

وټاکو، موږ ولې په لوی لاس په اصطلاح د سنتونو او مدرنیتې ترمنځ معنوعي ټکر رامنځ ته کوو، د عقل حکم خو دادی چې د سنتونو او مدرنیتې د آشتي له لارې ژوند لارې وټاکو د هرې خوا مثبتې اوعلمي ښیګڼې را خپلې کړو، ځکه موږ له دې دواړو څخه یو هم لرې نه شو غورځولای.
په را روانو نسلونو کې به ټاپې ماتې شي، ځکه نور به نو نه کمونیست وي او نه القاعده داسې فضا باید رامنځ ته شي چې ټاپه لګول او بیا په ایډیولوژیکو تورونو باندې خلک وژل چسپ ونه لري، موږ د افغاني رنسانس د پیل لپاره باید د هرې سیاسي– ټولنیزې پاملرنې په چورلیز (محور) کې افغان مسلمان انسان ودروو او تردې وروسته مو شعار دا وي چې: هر څه د افغان مسلمان انسان لپاره! او هره هڅه د ودان او مسلمان افغانستان لپاره!
انشاالله.

# بې قانونه ملت، بې ملته قانون

د اویایمې لمریزې لسیزې د پیل کلونه ،په افغانستان کې چاد قانون په نامه کوم څه نه پېژندل، لکه ځنګل؛ هر زورور کمزوری خوړلای شو، خو دا کاریوازې وسله والو کاوه، مانا دا چې یوازې وسله والې ډلې په چور او وژلو لګیا وې، خولې یې په وینو سرې او لاسونه یې د خلکو په ګریوانونو کې نښتی وو. خوملت داسې نه و، ملت لا هم یو له بل سره مرسته کوله، کله به چې وسله والو کوم بې وسلې افغان وویشت یا به د کوم ړانده توغندي تر لګیدو وروسته ماشومان او ښځې په وینو کې ولمبیدې، نو وسله والو به یې جیبونه وروپلټل او چې شو که به یې ورڅخه وکړه نو ترې روان به شول، خو بیا به د چم مالت ګاونډیان راغلل مړي به یې پورته کړل، ټپیان به یې کوم ځای ،ددرملنې لپاره ورسول او پر ښځو به یې ټیکري ورسم کړل، قانون نه و او خلک هیڅ چا داسې د خیر کار ته نه مجبورول، خو خلکو لا هم یو له بل سره مرسته کوله، د خلکو داسې مرستې ته درې لاملونه موجود و: عقیده، عاطفه او اخلاق.خلکو به خپل وژل شوی هېوادوال تر هدیرې پورې ورساوه ،چې لوی خدای(ج) ترې راضي شي، یوه افغان ځکه زخمي شوی ماشوم تر ډاکتر پورې ځغلاوه چې د هغه معصوم اندامونه یې په وینو سره نه شوای لیدای او عاطفه یې راپاریده، بل افغان د خپل هغه ګاونډي کور، چې د جګړې له لاسه یې پریښی و او تښتیدلی وو، نه لوټ کاوه ځکه دا ورته اخلاقي جرم ښکاریده.

نو پایله دا شوه چې د قانون تشه عقیدې، عاطفې او اخلاقو ډکه کړې وه او وسله والو چې نه عقیده درلوده، نه عاطفه او نه اخلاق ،هم یې خلک وژل او هم یې غلا کوله، داسې خلک چې عقیده، عاطفه او اخلاق نه لري باید د قانون په زور کنټرول شي. له بده مرغه افغانستان د خپل او سمهالي (معاصر) تاریخ په اوږدو کې ډېر ځله د قانون له نشت سره مخامخ و ، ځکه نو زوررو په کې ظلم کاوه، ګران لوستونکي به وایي چې د ثبات په کلونو کې خو قانون و، هو دا سمه ده خو قانون هېڅکله په خلکو کې خپل ځای

نه وموندلی او ورته ور پېژندل شوی نه و ،مانا دا چې قانون و، خو ملت ترې نه و خبر ځکه خو زموږ ملت بې قانونه او زموږ قوانین بې ملته وو.

او که پوښتنه کوئ چې دا ملت څنګه خپلې ټولنیزې چارې سمبالولې نو ځواب به یې هماغه وي، چې خلکو د دعوو د حل لپاره دودیزو موسسو لکه جرګو مرکو ته مخه کوله او جرمونه یې ځکه نه کول،چې له خدایه ویریدل او د عقیدې په مرسته یې ځانونه کنټرولول، یا یې خپل بومي اخلاق پالل او یا هم عاطفي او بشري احساس مرسته ورسره کوله چې له ظلمه لاس واخلي او چا چې دا نه درلودل او لاس یې رسیده ظلم او ناروا یې کوله.

عقیده،پر خدای (ج) او د هغه پر احکامو باور دی. شرع دیني قانون او فقه یې تدوین شوي اصول دي.

عاطفه، فطري او اروایي احساس دی، هر انسان د غریزو او احساساتو ترڅنګ د عاطفې خاوند دی، خو پر شخصیت او کړو وړو یې اغیز توپیر لري. په ځینو کسانو کې عاطفه پیاوړې، په ځینو کې کمزورې وي، حتی جګړه ماران او وژونکي هم عاطفي ته ورته کوم څه لري ځکه له خپلو بچیو سره هغسې چلند نه کوي ،لکه له خپلو قربانیانو سره یې چې کوي. اخلاق نالیکل شوي او غیر رسمي یا غیر الزامي ټولنیز قراردادونه دي، چې د هرې بشري ټولنې له ځانګړنو، ارزښتونو او باورونو سره سم رامنځ ته کیږي او توپیر سره لري.

اخلاق له وخت، ځای، ټولنیزو، سیاسي او اقتصادي بدلونونو سره بدلیږي ځینې برخې یې لویږي او ځینې یې پاتیږي.

قوانین هغه تدوین شوي او رسماً الزامي ټولنیز قراردادونه دي چې عام او په هر چا د تطبیق وړ دي. حکومتونه یې د تطبیق مسؤلیت لري او خلک یې په مراعتولو او درناوي مکلف دي.

(یادونه: زه هېڅکله ادعا نه کوم چې زما دغه تعریفونه کتابي بنسټ لري یوازې په دې لیکنې کې یې د ساده پېژندنې یوه هڅه وبولئ او عاجزانه یې منم ،چې کتابي تعریفونه به یې تردې ښه، کره او معیاري وي.)

زموږ ملت ،چې یا یې قانون نه درلوده او که یې درلوده ورڅخه خبر نه و، یا یې خپل نه و، له بلې خوا ورته را ژباړل شوی و ،نو د خپل ټولیز نظم لپاره یې پر عقیده، عاطفه او اخلاقو تکیه کړې وه خو له هغو کسانو څخه تل ځوریده چې دا درې واړه یې نه درلودل. هېره دې نه وي چې قوانین له عقیدې، عاطفې او اخلاقو سره ګډ اړخونه لري او په درې واړو کې ریښه لري. مدني قوانین د هرې ټولنې پر عقیدوي بنسټونو جوړېږي او اخلاقي موازین ساتي او د هغو هڅو مخه نیسي چې بشري عاطفه زخمی کولای شي او بالاخره پر هغه چا هم تطبیقېږي چې نه عقیده پېژني، نه عاطفه لري او نه هم د اخلاقو خیال ساتي. د قوانینو کمال د هغو په عامو الي او تطبیقی ارزښت کې دی. نو کاشکې زموږ قوانینو ملت درلودلای او زموږ ملت قوانین.

درپیمه لاره :

ددې لپاره چې ملت د قانون او قانون د ملت خاوندان شي، ښایي څه وکړو؟

تر هر څه وړاندې ښایي دا په پام کې ولرو، چې بې عاطفې، بې عقیدې او بې اخلاقه وګړي یوازې او یوازې د قوانینو په مرسته کنټرولیدای شي. او ددې لپاره چې ټولنیز نظم رامنځ ته شي د موعظو، اخلاقي نصیحتونو او زاریو ځای ښایي د قوانینو پلي کول ونیسي.

موږ ښایي خپل ملت د قوانینو خاوند کړو. دیموکراسۍ، نظم، د فساد له منځه وړلو، پرمختګ، امنیت او سیاسي ثبات ته هغه وخت رسېږو، چې قوانین رامنځ ته او پلي شي. د قانون تر جوړولو یې پلي کول مهم اوضروري دي، ما کوم ځای لوستي یا اوریدلي و، چې : «تر ټولو ښه قانون تر ټولو هغه بد قانون دی، چې عملي کېږي، او تر ټولو بد قانون تر ټولو هغه ښه قانون دی چې عملي نه شي!» موږ به ښه قوانین ولرو خو څنګه یې باید عملي کړو؟ دولت، مدني ټولنه او ولس مسؤل دی چې قوانین پلی کړي.

راځئ خپل قوانین د ملت خاوندان کړو؟

پوهېږم ،دا به تاسو ته عجیبه ښکاري چې زه ولې دا خبره کوم؟ له امان الله خانه تردې زمانه څو څو ځلې موږ ښه یا بد قوانین رامنځ ته کړي دي ،خو له بده مرغه د واکمنیو په

دفترونو یا لړ تر لړه د لویو ښارونو په لوکسو کوڅو کې زنداني پاتې شوي او همدلته یې سا ورکړې ده. موږ خپل قوانین ملت ته نه دي ور معرفي کړي.
زموږ په قوانینو کې یې لیکلې وي، چې : « له قانون څخه بې خبري عذر نه ګڼل کېږي.»
دا به سمه وي که نه؟ خو زه یې داسې ورسموم ،چې : « که ملت له قوانینو بې خبره وي، نو د قوانینو جوړونکي او پلي کوونکوي ملامت دي.» زموږ قوانین په رسمي جریدو کې خپاره شي او د کوم وزارت په ډیپوګانو کې وراسته شي. خلک ولې زموږ په حکومتونو باور نه کوي؟ ځکه :
۱.د حکومتونو چارواکي په خپله هم د قوانینو خیال نه ساتي، ځکه په خپل زور غره دي.
۲.موږ د قوانینو له اهمیت او پلي کولو څخه خلک نه دي خبر کړي او نه مو د قانون ارزښتونه ورپېژندلي دي.
۳.موږ ژر ژر خپل قوانین بدلوو، قوانین سیاسي شوي دي، شاهي یو ډول جوړوي، جمهوري یې بل ډول، کمونست، مجاهد، طالب او دیموکرات یې بل ډول، موږ ملي او علمي قوانین نه درلودل، او اوس مو چې نیم و نیمکله جوړ کړی خلک پرې باور نه کوي.
۴.یو شمېر ایډیولوژیک او د «ایزمونو» قوانین له نورو څخه را کاپی شوي وو، او د دې هېوادله شرایطوسره یې ډېر سمون نه درلوده، همداو، چې قوانین وو، خوملت ورسره نه و، دې ته بې ملته قوانین ویلی شو ولس په دودیزو جرګو مرکو او نرخونو تکیه کوله او خپلې ستونزې یې په میراو، ملک، خان او جرګه مارو حل کولې.
د ویښتیا د پړاو اساسي کار ولس ته د قوانینو ور رسول او پر اهمیت یې د هغوی پوهاوی دی.
د روښانتیا په پړاو کې د قوانینو بشپړ پلي کول ډېر ضروري کار دی، ځکه هغه وخت به هر زورور چې له خدای(ج) څخه ویره نه لري، د اخلاقو خیال نه ساتي او عاطفه یې په ځان کې وژلې ده، د قوانینو په منګولو کې راځي. او ایله چې حق حقدار ته ورسېږي، بیا به هم خدای(ج) راضي وي هم ولس.

# موږ او خپلواکي

له شاه زمانه تردې زمانه موږ نه خپلواک وو او نه ښکېل.
له شاه زمانه تردې زمانه موږ د يوې داسې خپلواکۍ لپاره په جګړو کې تېره کړې، چې هېڅکله مو نه ده ګټلې، نه مو جګړه ګټلې او نه خپلواکي خو، هر څه مو پرې ژوبل کړي دي، د وطن آبادي، پرمختګ، پوهنه او آن ملي يووالی، دا خو منو چې ملي خپلواکي د يوه ملت د ژوند لومړی اړتيا ده، خو له موږ سره عجيب چل شوی دی؛ نه خپلواک يو نه ښکېل ،بلکې ټول عمر مو د خپلواکۍ د ګټلو په جګړه کې تېر شو. زما له دې جملو سره به د قدرمنو لوستونکيو غبرګون څو ډوله وي، خو راځئ دا دوه درې اشارې په پام کې ولرو:
۱. خپلواکي هغه ده، چې يو ملت په خپله اراده خپل سياسي حاکميت وټاکي او دغه سياسي حاکميت د بهرنيو له فشار پرته د خپل هېواد او ولس د پرمختګ لپاره ريښتنی کار وکړي، اوس نو پوښتنه رامنځ ته کېږي چې له پردي غرض و مرضه خالي، له بهرنيو جاسوسانو پاک او له راتپل شويو ايډيولوژيو بې اغيزې داسې ملي حاکميت مو څومره درلودلی دی؟
يو څو استثنايي واکمنان لکه غازي امان الله خان، محمدداود يا بل مه درګڼه ځکه هغوی هم چا کار ته پرې نه ښول او کودتاګانو يې سرونه وروخوړل.
۲. سياسي خپلواکي له ملي رفاه، لوړ عامه شعور او ټينګ ملي يووالي پرته نه شي راتلای هغه ملتونه چې وړې وي، هغه ولسونه چې ډېر ځله په کډوالۍ کې ژوند بهتره ګڼي، هغه خلک چې ځوان نسل يې د اروپا او امريکا په ژوند پسې د ارمان رغوي سرويي، هغوی ډېر ژر د ښکېلاک په جال کې پرېوځي او د استخباراتو کوډې يې سياستوال له خپل هېواد او ملي ارمانونو پردي کولای شي.
۳. موږ ټول عمر آزادي غوښتې خو آبادي مو هېره کړې ده. خپلواک خو بې ډوډۍ، وران، بې ښوونځي او بې مدنيته هېواد د يوې خپلواکې هديرې په شان دی.

آزادي او آبادي د يوه ملت د سوکالۍ دوه وزرونه دي، له دې دوه وزرونو که يو هم نه وي ولسونه د نېکمرغۍ آسمان ته نه شي ور لوړېدای، زه غواړم همدلته د افغان ولس هغو اتلانو ته د درناوي او مرحبا لاسونه پورته کړم چې له شاه زمانه تردې زمانه يې د افغانستان د آزادۍ وزر رېولی دی او د هېواد د آزادۍ لپاره يې قربانۍ ورکړي دي، رحمت دې وي پر ټولو.

مګر دا بل وزر چيرې دی؟

ولس پر سينه پروت دی، افغانستان لکه نيم ژواندی مرغه په خاورو کې څښنيږي او هر يارو اغيار يې تر پښو لاندې کوي، دغه نيم بسمله مرغه يوازې يو وزر لري، د آزادۍ ګټلو لپاره دهڅو وزر، هغه هر چاته ښوروي، خو دآبادۍ وزريې نه شته نو ځکه الوتلی نه شي.

نو ځکه له شاه زمانه تردې زمانه موږ همداسې په خاورو کې پراته يو او لوڅې پوڅې کوو، کله. کله د آزادۍ وزر لرو خو آزاد نه يو ځکه آبادي نه لرو چې له ښکېلاکه وتښتو او د سوکالۍ هسک ته ځان ورسوو.

په حقيقت کې موږ د هغې ورانۍ، بې تعليمۍ او بې اقتصادۍ مستعمره يو ،چې پخپله مو پرځان رواستې ده. داسې ښکېل کېدل د بل هېواد تر مخامخ، ښکاره او سياسي استعماره ډېره خطرناکه ده ځکه چې ښکاري نه ،خو پيړۍ پيړۍ يو ملت په توره بدمرغۍ کې ساتي.

دا ستونزه ولې داسې ده؟

موږ له شاه زمانه تردې زمانه خپلواکي سمه نه ده تعريف کړې، زموږ زړور، دپاک زړه خاوند او صادق ولس زموږ مشرانو ته غوږ ايښی او هر کله يې له مخامخ ښکېلاکه د خلاصون لپاره وسله پورته کړې ده، خو هر کله چې بهرني ښکېلاککر مات شوي دي د مشرانو په اوږو کې شګه پيدا شوې، د سياسي قدرت د ګټلو په سيالۍ بوخت شوي، ملت يې هېر کړی دی و آن کله کله يې بېرته پر ملت توره را ايستلې او د ولس پر وينو يې لاسونه سره کړي دي. همدا ده چې ولس ناهيلی شوی دی او له سياسي مشرانو څخه يې ځان لرې کړی دی، بيا نو د دښمن استخباراتي او شيطاني ماشين چالانه شوی او له

مشر شخه یې بېرته هر څه اخیستي دي، بل مشر چې راغلی هم، نو پند یې نه دی اخیستی او همدا تېروتنه یې بیا کړې ده. هغه د چا خبره موږ «په را تاویدو کې خراب شوي یو». د خپلواکۍ ګټلو لپاره زموږ د جګړو له برکته نور ولسونه آزاد او آباد شول. د شرقي اروپا او منځنۍ اسیا هېوادونه یې ښې بېلګې دي ،خو موږ لا وران ویجاړ پاتې یو .

سید جمال الدین افغاني ،پاچا خان، ، ګاندي، نلسن مانډیلا او نورو یوازې تشه آزادي نه غوښته، بلکې لومړی یې ولسونه راویښول، پر تعلیم یې پسول ل، په نس یې مړول، اقتصادي بنسټونه یې ورته جوړول او بیا یې آزادۍ ته رسول خو زموږ په برخه داسې مشران نه و، چې لومړی د تلپاتې خپلواکۍ د ساتلو بنسټونه راته جوړ کړي. د آبادۍ وزر را پورې وګنډي او بیا مو د خپلواکۍ الوتلو ته وهڅوي.

درپیمه لاره:

راځئ تر هر څه وړاندې خپلواکي سمه تعریف کړو ولس ته پیغام ورکړو چې آزادي له آبادۍ پرته ناشونې ده، غریب، ډوډۍ ته اړ، او بې ښوونځي ولسونه پر ټکنالوژۍ او کمپیوټر سمبال ښکېلاکځواکونو څخه آزادي نه شي اخیستلای، ځکه اوس د ښکېل کولو وسایل توري او ټوپک نه دي، کمپیوټر او کتاب دی، که جنګ کوې نو نوې وسله به پیدا کوې، اوس نو د آزادۍ جنګ په سو ټیو نه کېږي.

د خپلواکۍ لومړی ګام له سنګر څخه نه، بلکې له ښوونځي څخه پورته کېږي. بشپړې خپلواکۍ ته لاره د ویښتیا او روښانتیا له پړاوونو څخه تیرېږي، یوازې ویښ او روښانه ملتونه بشپړې آزادۍ ته رسیدلای شي، موږ ښایي نور هغه مشران هم د مشرتوب له تخت څخه راکوز کړو چې یوازې د خپلواکۍ پوځي شعارونه ورکوي، د خپلواکۍ جګړه د خپل سیاسي قدرت ګټلو لپاره پرمخ بیایي او تر هغو پورې د خپلواکۍ چیغې وهي چې د قدرت پر څوکۍ تکیه ووهي. دوی د خپلواکي نارې وهي خو په زړه کې سیاسي قدرت غواړي راځئ ریښتني مشران رامنځ ته کړو، هغوی چې د هېواد د خپلواکۍ او آبادۍ لپاره فکر کوي او په دې پوهېږي چې څنګه یو ودان افغانستان تر خپلواکۍ پورې ورسوي، هغوی چې هم پوهه لري او هم مېړانه.

خپلواکي دا نه ده ،چې یوازې بښکېلاکګر دښمن ته په پوځي ډګر کې ماته ورکړې ، خپلواکي دا ده ، چې پخپله اراده، پخپلو متو اوپخپله پوهه خپل هېواد ودان او خپل ملت هوسا کړې.

موږ باید د راتلونکې خپلواکۍ ټول اتلان ښوونځیو ته ولېږو او یو وخت دیرش میلیونه ډاکتران، ماستران او لږ تر لږه پوهنتون لوستي پر کتاب او کمپیوټر سمبال سرتیري ولرو چې پر لوی خدای (ج) د ایمان او توکل ځواک ورسره وي، پر ملي ارزښتونو متکي او پر افغاني منل شویو فرهنګي ارزښتونو ولاړ وي، داسې سرتېري څوک نه شي ماتولای او داسې ولس هېڅ څوک نه شي ښکېل کولای.

زموږ د خپلواکۍغوښتنې حماس وزر تل ژوندی او ځواکمن دی، د ویښتیا او روښانتیا په پړاو کې به‌پر دا بل وزره کار کوو ، د آبادۍ، پوهې او پرمختګ وزر! که‌دا مو په دې دوه پړاوونو کې جوړ کړ، نو بیا خو افغانان یو ، تر هر چا به هسک الوزو او ایله‌به د خپلواکۍ په‌مانا او خوند وپوهېږو .

# زموږ وطندوستي

کال نیم پخوا د هندوستان کشمیر ته ولاړم، له سرینګره څلور ساعته مزل د ګلمارګ ښکلې سیمې ته، چې ورسیدم ناڅاپه مې دا پښتو متل پر ژبه راوګرځېده، چې: « هر چاته خپل وطن کشمیر دی». دا متل ولې را په یاد شو؟ ځکه د کشمیر استعاري او سمبولیکه مانا، د ښکلې سیمې او زړه وړونکي هېواد په توګه، په ذهن کې را څرګنده شوه او په اصطلاح ایله په دې پوه شوم، چې ولې هر څوک غواړي وطن یې د کشمیر په څېر ښکلی وي. کشمیر هم له طبیعته ښکلی دی او هم یې خلکو خواري ایستلې چې ښکلا یې وساتي او هم یې په لا ښکلي کولو کې خواري وکاږي.
یو ځل مې په اروپا کې له یوه هالندي څخه واوریدل، چې « هالند ځکه پر موږ ګران دی چې موږ خپله جوړ کړی دی.» هو هالندیانو ددغه هېواد لویه برخه د اوبو پر سره جوړه کړې ده، هماغه خواري ده ،چې دوی یې د وطن مینې ته اړ کړي دي. په دې اړه فکرونو دې نتیجې ته ورسولم چې د وطندوستۍ معیار د یوه هېواد آبادي ده نه شعارونه. تردې ورهاخوا پایله زمالپاره نوره هم له پیغوره ډکه او ترخه وه او هغه دا چې : هر هغه ملت ریښتونی وطندوسته ملت دی چې هېواد یې ډېر آباد، موړ او ځواکمن وي او هر هغه هېواد چې غریب، وران، بې وزله او بیچاره وي نو خلک یې په سختۍ دا ویلی شي چې دوی وطندوسته دي. بیا مې همدا ترازو راواخیست او ځان مې په کې وتاله نور هم خواشینی شوم ځکه ځان مې ډېر وطندوسته نه شو زباتولای. ما لیدل چې افغانستان وران دی او خلک یې ډېر په بدحال کې دي، او تردې یې ترخه داده چې د افغانستان لویه برخه پخپله د همدې وطن خلو ورانه کړې ده، یا په خپله اراده یا د پردو په اراده او دا چې څوک خپل وطن د پردو په اراده ورانوي له بده بدتره کار دی، او د تاریخ او ټولیز قضاوت په وړاندې عذر نه شي ګنځل کیدای، چې بابا ! خو نورو راباندې وران کړ.
دا چې ځان او نور راته وطنپال او وطندوسته نه شول ثابت بله ناروغي راولویده. په لاملونو پسې یې ډېر نه ګرځم ،خو یو افیوني عادت مې په کې پیدا کړ او هغه دا چې:

موږ څومره چې د وطندوستۍ شعارونه ورکوو هماغومره د وطندوستۍ په مانا او مفهوم نه پوهېږو.
د وطندوستۍ له غریزې پرته وطن ته هېڅ هم نه شو کولای، ځکه نو باید د وطندوستۍ په مانا او مفهوم هم پوه شو.
وطندوستي یوه دوه اړخیزه اړیکه ده. فرد، کورنۍ او خلک په یوه جغرافیایي محدوده کې ژوند کوي له خپل هېواد ه ګټې پورته کوي نو باید خپل هېواد ته ګټه ورسوي ، نو د هېواد او فرد ترمنځ د حب اړیکه پر ګټو ولاړه ده.
هېوادفرد ته هؤیت، کلتوري ارزښتونه، د ژوند او اوسیدو ځای او حق، ډوډۍ او شخصیت ورکوي او دی هېواد ته خدمت او کار کوي، وطن پرې ګران وي او هڅه کوي چې د هېواد نن یې تر پرو نه او سبا یې تر نننه ښه شي.
د جاپان یا امریکې یا جرمني خلک د وطندوستۍ ډېرې چیغې نه وهي، خاموشه دي او د وطندوستۍ غریزه داسې مشبوع کوي چې خپل هېواد ته یو څه وروبښي، کار کوي او ښېته پر ښېته ږدي، ځمکه کري، تکنالوژي سمبالوي او د هېواد د پرمختګ په هکله فکر کوي، ددې په وړاندې یې هېواد ، دوی ته د ژوند تر ټولو ښه شرایط او خدمات عرضه کوي او د خپل هر اوسیدونکی د ټولو حقونو ساتنه او د لا هوساینې لپاره هڅې کوي، اړیکه دوه اړخیزه ده، فرد ټکس (مالیه) ورکوي او هېواد ورته د ژوند شرایط چمتو کوي، لکه چې، وطندوستۍ همدا ده.
ښکاري دا چې ،زموږ د غه دوه اړخیزه اړیکه سسته او کمزورې ده. موږ هېواد ته څه نه ورکوو او بېچاره هېواد موږ ته څه نه شي راکولای.
موږ دغه دوه اړخیزه رابطه نه ده ټینګه کړې. هېواد موږ ته د زده کړې، کار، تفریح، پانګې اچونې، پرمختګ او نړیوال کیدو شرایط نه شي چمتو کولای او موږ هېواد ته کار نه کوو ځکه څه ګټه ورڅخه نه ده متصوره، که څه هم تر ټولو ډېر د وطندوستۍ چیغې وهو، خو دا ګټه نه کوي او پر شعارونو هېواد نه جوړېږي.
درپیمه لاره:

د وطندوستۍ لپاره یاده شوي دوه اړخیزه اړیکه باید ټینګه شي. هېواد اراده نه لري او موږ یې لرو، مانا دا چې لومړی باید موږ هڅه پیل کړو موږ ښایي هېواد ته څه ورکړو چې بیا هېواد زموږ ماشومانو ته یو څه ورکړي.
لومړی نسل ښایي قرباني ورکړي. لومړی نسل دې په دې فکر نه کوي چې هېواد ده ته څه ورکولای شي؟ دی باید داسې فکر وکړي چې دی هېواد ته څه ورکولای شي.
موږ ښایي د راروانو نسلونو د وطندوسته روزلو لپاره کار پیل کړو. افغانستان ډېر څه لري چې خپلو خلکو ته یې ورکړي خو لومړی باید خلک دا (څه) له هغه څخه وغواړي. هېواد باید ددې وړ کړای شي چې کوم څه موږ ته راکړي.
خلک ځانته د اوبو پرمخ هېواد جوړوي، نو په موږ څه شوي؟ چې تیار ،خدای (ج) راکړی هېواد نه شو جوړولای. زموږ حکومت، زموږ مدني ټولنې، زموږ مطبوعات، زموږ شخصیتونه او لیکوال ښایي وطندوستي خلکو ته وروپېژني، زموږ د ښوونځي په کتابونو کې ښایي ولیکل شي چې موږ به یوازې هغه مهال هېواد پاله او وطندوسته اوسو چې خپل هېواد ودان کړو.
د وطندوستۍ شعارونه ښه دي خو باید معقول اوسي او د وطندوستۍ د زباتولو لپاره باید لارې چارې هم په ګوته شي، وطندوسته افغانان یوازې هغه خلک دي چې خښته پر خښته ږدي، نیالګی کینوي، په ټولګي کې کیني، پوهنه عاموي، ښوونځي جوړوي، ځمکه کري او په وچو لښتیو کې اوبه راولي. همدا خلک که ناري هم نه وهي، تر ټولو ډېر وطندوسته او هېواد پال دي. هغه سیاسیون چې ټوپک لري، خپل هېوادوال وژني، د خپل هېواد ولاړ دیوالونه نړوي، ځنګلونه وهي، تاریخي ارزښتونه لوټي او پر څوکیو ناست دي، وطندوستان نه ،وطندښمنه خلک دي که څه هم تر ټولو ډېر شعارونه ورکوي. هر څوک چې پر کور دننه ډزې کوي هغوی د افغانستان دښمنان دي، خپلو راتلونکو نسلونو ته دا وروپېژنئ او په دې یې وپوهوئ چې وطندوستي یعنې څه.
تر هغو د هېواددوستۍ چیغې مه وهۍ ءتر څو مو د نړۍ له خلکو نه وي اوریدلي چې:
هر چاته خپل وطن افغانستان دی!

# موږ او «ایزمونه»

یو ملګری مې راته د یوې افغاني مظاهرې کیسه کوله، چې په مهاجرت کې شوې وه، د مظاهرې په لومړۍ لیکه کې یو څو ځوانانو پرله پسې شعارونه ورکول ،چې :
مرګ په کمونیزم!
مرګ په مارکسیزم!
او مرګ ... او مرګ ...
مرګ په ژورنالیزم!
د مظاهرې ګڼو ګډونوالو ،چې دا ځل نوی «ایزم» اوریده، نو ګومان یې وکړ چې دا هم ډېر ژور او خطرناکه ایزم دی، نو تر نور ځله یې لاپسې په لوړ غږ ورپسې غبرګه کړه چې « مرګ !!!».
دا خاطره ظاهراً یوې ټوکې ته ورته ده، خو یو خوږ منطق هم لري او هغه دا چې : په سروشنو انقلابونو کې د افغانانو له ټولو «ایزمونو » څخه کرکه پیدا شوه او تردې چې ژورنالیزم یې هم ددې لپاره بدایسېده، چې «ایزم» ورپسې کنجوغه شوی دی.
((ایزمونه)) په ساده ژبه په لاتینو ژبه کې د هر هغه اند دود ورو ستاړی دی چې ټولیز (عمومي) شي او بیا څه پلویان ومومي لکه ، لیبرالیزم، کمونیزم ،نشنلیزم او نور.
دغه بدمرغه وروستاړی په ژورنالیزم پسې هسې نښتی دی، ځکه دا خو یو مسلک او کار دی، په هر صورت موږ افغانانو هر ایزم چې دلته راوړی دی نو دومره زیاتی (افراط) مو په کې کړی چې په نړیواله کچه مو شرمولی دی. یو ایزم له چینه، بل له شوروي، یوبل بیا له مصر یا ایرانه کوم یو یې له اروپایا امریکا نه همداسې یو په بل پسې راغلل او زموږ یو شمېر احساساتي ځوانان پرته له دې چې سم پرې پوه شي پورې ونښتل او تر هغو ، چې یې له خلکو سره د ناجوړۍ او حساسیت په اندازه پوهېدل خبره ترې ورانه شوې وه، د ایزمونو ټکر بیا تر ټولو خطرناکه پېښه وه، همدا دایزمونو ټکرو

،چې دیرش کاله یې زموږ سرونه وخوړل او لا یې هم خوري. افغانستان د ایزمونو د ناکامۍ لابراتوار شو.

## ستونزه چیرې ده ؟

تر ټولو لویه ستونزه داوه چې زموږ ایزم چیان ( د بېلا بېلو سیاسي اند دودونو ډنډورچیان) نه د خپلو پالونکیو «ایزمونو» پر ټولو علمي جزیاتو پوهېدل او نه یې هم د افغاني ټولنې او ولس ځانګړتیاوې پېژندلې، زه نه غواړم د سنت او مدرنیزم د تقابل بحث ته ولاړ شم خو د افغاني ارزښتونو او له بهره د راواردشویو ایزمونو ټکر ته خامخا اشاره کوم.

د ایزمونو مشران په خپلو ایزمونو او افغاني ارزښتونو نه پوهېدل ځکه یې سیاسي مشې او لیدلوری نه درلوده، یوازې یې د قدرت نیولو سر او شنه باغونه لیدل او خپلو پلویانو ته یې ورښوول، ټوله هڅه همدا وه چې دومره پلویان پیداکړي چې کودتا وکړای شي او واک ونیسي پر «ایزم» د پوهېدو مسله ورو ورو هېریده د ایزمبادار انو ( بهرنیو هېوادونو ) پیسې ورکولې او دوی هر څوک چې په ګوتو ورتلل راټولول یې، د انارشۍ او ګډوډۍ زړي همدلته وکرل شول، کله چې چپ ایزم او وروسته ښي ایزم واک تر لاسه کړ د ژمنو، پوهو او سیاسي پلویانو له تشې سره مخامخ شول او یو شمېر پلویانو یې چې د واک لومړۍ ورځې ولیدې نو ګومان یې وکړ چې پایله همدا ده، له وژنو را نیولې تر لوټ او تالانه هر څه یې وکړل،د (( ایزمونو)) کوډې یا خومار دومره زورور وو ، چې له یو شمېر ایزمچیانو یې سړیتوب ، انساني عواطف او زړه سوی هم هېر کړل ، دوی د خپل ایزم لپاره افغانان داسې اسانه وژل لکه میږیان. ولس چې دا هر څه لیدل له هر ایزم څخه یې خوا راوګرځېده او سیاست یې یو خوسا او مردار کار وګاڼه، حزبونه یې له پامه بد شول او له تنظیمونو او سازمانونو څخه یې کرکه وشوه.

او په دې توګه ایزمونه بدنام شول. موږ هېڅ کله افغانیزم رامنځ ته نه کړای شو کله مو د یوه نړیوال سیاستوال کار ګرۍ خولۍ پر سر کړه او کله مو د بل یوه عینکې پر سترګو کړې کله مو د چا پټکی له سره راتاو کړ او بیا مو د کوم بل برګ دسمال په غاړه کې

واچاوه ارمانونه مو دا وو، چې یو ایزم پر ټوله نړۍ واکمن کړو یا مو د پلانې مظلوم ملت د خلاصون ادعا وکړه، د برلین دیوال مو ونړاوه، دهند د بحر تودې اوبه مو د چا له سرو موزو څخه وساتلې خو خپل افغان وړی ماشوم مو تر خپلو پښو لاندې چخپیت کړ او بوډۍ افغانه مو، چې سوال ته را وتلې وه په ګولۍ وویشته دا و د ایزمونو برکت، اوس نو هغه افغان حق درلوده، چې ژورنالیزم ته هم مرګ ووایې.

درپیمه لاره!

موږ باید افغانیزم رامنځ ته کړو. دا یو ځانګړی سیاست دی، چې د اسلام د سپیڅلي دین، ملي افغاني ارزښتونو او ددې هېواد پر واقعیتونو ولاړ وي، نه د برلین دیوال راچپه کړي او نه هم د نړۍ ټولو پرولتار یاوو ته د شعور ورکولو ادعا ولري، بلکې یوازې د همدې هېواد خلکو ته د پوهنې، روزۍ، کار، پرمختګ او هوساینې لارې چارې ولټوي. موږ افغاني «ایزم» جوړوو، چې د پاملرنې په محراق کې یې افغان انسان ولاړوي او هره ښېګڼه دده لپاره وغوښتل شي، موږ ایله همدا وکړو، د ډېرو لویو چیغو لپاره زموږ خولې ډېرې وړې دي. د ویښتیا په پړاو کې باید د همداسې یوه سیاست بنسټونه رامنځ ته شي ،چې د افغانستان له عقیدوي، کلتوري، ټولنیزو، سیاسي او اقتصادي شرایطو سره اړخ ولګولای شي.

هو! دا خبره نه هېروو، چې د نړیوال کېدو Globalization په دې عصر کې موږ له نړۍ څخه جلا نه شو پاتیدای او په دې چټک بهیر کې ،لکه یوه هېره ټاپو ځان نه شو هېرولای، خو داسې به هم ځان دې بوربوکۍ ته نه سپارو، چې کله مو په یوه دیوال وولي او کله مو هم پر بل.

د هر نړیوال ایزم هغه برخې چې زموږ د شرایطو تابع کیدای شي را اخلو یې افغاني کوو یې، په خپلو ارزښتونو یې مینځو ،چې بیا یې دلته وروزلای شو. هر ایزم د ځان تابع کوو، او ځانونه د نورو له ایزمونو څخه نه ځاروو. کمپیوټر راوړو خپل کارونه پرې کوو، خو خپل افغاني هویت نه پرې ورانوو، له ټیلیفون، ټلویزیون، ماشین او موټر څخه د خپلو افغاني ارزښتونو د ځلولو لپاره کار اخلو، نه دا چې د هغو په مینه کې د

لویدیځ پر لوري د سفر څپلۍ په پښو کړو او خپله افغاني تذکره او پاسپورټ د کومې الوتکې په ټټۍ کې ورواچوو.
د نړیوال کېدو یو لوری دادی چې څنګه ټول نړیوال ارزښتونه د خپل ولس په خدمت کې وکاروو، او د ټولو ایزمونو هغه برخې د خپل هېواد پر ځمکه وکرو چې موږ ته دانه او میوه راکړي.
ټول ایزمونه د افغان انسان لپاره!
نه دافغان انسان وینه د پردیو ایزمونو لپاره!
او په دې توګه وینو، چې موږ د ایزمونو په وړاندې بیخي سرراسته مزل پیلوو، نه هغسې چې په ۱۳۴۳المریز کې مو د ډیموکراسۍ او ګوندونو له زیږیدو سره را پیل کړی و. اصلاً هغه مزل سرچپه و او ایزمونو موږ په ځان پسې ورو کاږلو، خو اوس به موږ ایزمونه په ځان پسې راکاږو په دې توګه به مو مدعا اوموخه د افغان انسان هوساینه، پوهنه او پرمختګ وي. درپیمه لاره ډېر ځله د تېرو لارو پر عکس موږ ته سرراسته مزل راښیي.

# زموږ انتقادي اخلاق

همدا چې په افغانستان کې د ډیموکراسۍ او د بیان د آزادۍ نغاره وډنګېده، نو سترګې پټې شوې او خولې خلاصې د نیوکو ډزې پیل شوې، کارپوهان په تلویزیونونو کې راښنه شول او د راډیو ګانو ستوني څېرې شول، پایله څه وه؟
اصلاحات رانغلل خو د انتقاد په وړاندې ټولیز معافیت رامنځ ته شو. د بېخرته، بې مسؤلیته آزادۍ او انتقاد ښکارنده (پدیده) پخپله یوه سیاسي لوبه وه ،چې پر موږ راوتپل شوه. زموږ پوزیشن او اپوزیشن نه دی معلوم ټول لکه مې وریجې سره ګډ دي، د یوه سیاسي سیستم بنسټونه همدې کومیډۍ جوړېدو ته نه دي پرېښي. موږ سیاسي نظام نه لرو او هغه څه چې لرو د سیاسي نظام کومیډي ده.
ستونزه څه ده؟
نیمګړتیاوې ښې ډېرې دي، خو موږ په دې نه پوهېږو چې څنګه چلند ورسره وکړو، زموږ نیوکې نیمګړتیاوې نه اصلاح کوي،بلکې له بد بدتره چې د نیوکو په وړاندې معافیت رامنځته کوي، که کوم چارواکي یا ملامت سړي ته وواییې چې وروره دا او هغه ولې کوي؟ نو درته وایي وروره دا خبرې ډېرې کېږي موږ ژر د چا ومنو ؟
په نړۍ کې د ډیموکراسۍ یوه ځانګړنه داده چې رقابت د دوو ( یاڅو ) ځواکمنو ، سره بېلو سیاسي اړخونو ترمنځ وي، هره خوا ځانته طرحې لري او دا طرحې، پلانونه او پروګرامونه علمي او عملي وي، هر کله چې یو لوری وروسته پاتې شي یا لږ وښوییږي نو سمدستي هاغه بل ( چې په سیاسي کمین کې ناست دی) راپاڅېږي، خلکو ته مخ واړوي او نیوکې وکړي خو له نیوکو سره سم خپله طرح او پلان وړاندې کړي، چې خلکو ! ماته واک راکړئ چې زه دا او هغه وکړم، ددې مسئلې تر ټولو نازک سیاسي اړخ دادی

چې منتقد لوری څنګه ملت ته د خپلې طرحې په اړه قناعت ورکوي او انتقاد کیدونکی لوری څنګه له خپل پروګرامه دفاع کوي، ولس دا دواړه جاجوي او بیا رائیه ورکوي چې څوک باید د هغې چارې د پرمخ بیولو واک ولري.
همدا ده د ډیموکراسۍ منطق، بشپړ واک له خلکو سره دی او هغه څوک چې غواړي سیاست وکړي خلکو ته د ښه کار کولو په برخه کې سیالي کوي، عملي وعدې ورکوي او چې واک ته ورسیده،نو خپلې وعدې عملي کوي ځکه نه غواړي واک له لاسه ورکړي. له همدې ځایه ده، چې هېوادونه او ملتونه پرمختګ کوي.
خو موږ سرچپه روان یو، یا داسې دیکتاتوري رامنځ ته کړو چې څوک له ډاره سوښ نه شي ایستلای او یا داسې بې بندوباره آزادي راولو چې نیوکه خپل اهمیت له لاسه ورکړي او په داسې معافیت کې واکمن لوری تر پوزې په نیمګړتیاوو کې ډوب شي، لکه شهر ناپرسان نه غل معلوم وي نه مل، نیوکه کوونکي او نیوکه کیدونکي دواړه نه پوهېږي چې له ستونزې دوتو لاره څه ده او کومه طرحه ستونزه حل کولای شي.
موږ نه منظم، معقول او منطقي پوزیشن لرو او نه داسې کوم اپوزیشن . سیاسي رقابتونه مو یوازې د څوکۍ، موقف او پیسو د ګټلو، اخلاقي او سلیقوي یا ایډیالوژیکو اختلافاتو پر سر دی، نه ملت ته د کار، ډېرې ګټې رسولو پرمختګ او هوساینې لپاره. د خلکو هم نه له پوزیشنه سترګه سوزي او نه دا پوزیشن خیال ساتي. ( نه کل بانه ، نه کدو ، خاک د سرهردو !) او په دې توګه ملت د ژرندې د دوه ډبرو ترمنځ ګیر دی.
درپیمه لاره :
د افغانستان نوی سیاسي نسل ښایي دوه (یا څو) ملي – پیاوړي او پر علمي طرحو ولاړ سیاسي جریانونه رامنځ ته کړي، دا سیاسي بهیرونه تر هر څه وړاندې ښایي د افغانستان د ثبات، ودانۍ، پرمختګ، اقتصادي ودې، ملي یووالي او پیاوړي کولو لپاره خپلې برنامې جوړې کړي ،چې ددې هېواد له شرایطو سره سم د عملي کېدو وړ وي، دا طرحې ښایي د ملت پر وړاندې کېښودل شي او هڅه وشي، چې د خلکو قناعت پرې ترلاسه شي دا قناعت باید دغه بنسټونه ولري :

۱.عملي وي
۲.را کاپي شوې نه وي
۳.د عملي کولو ابزاریې وښوول شي
۴.زمان او مکان یې قید شي
۵.د عملي کولو اجرائیوی ضمانت یې وښوول شي.

پردې بنسټ باید د خپلو طرحو لپاره له خلکو څخه رائیه وغواړو، د ملت رائیه باید همدې طرحو ته وغوښتل شي نه اشخاصو ته.

هر لوري چې د خپلو طرحو د عملي کولو واک ( نه تش سیاسي قدرت) ترلاسه کړ بیا هغه بل لوری په بشپړه زیرتیا متو جې وي، چې واکمن بهیر څه کوي ؟پر هره تېروتنه، نیمګړتیا او وعده خلافي بنایي منظمه، قانوني او مودبه نیوکه وشي او له نیوکې سره سم دا وویل شي چې منتقد بهیر په کومو وسایلو، امکاناتو او زمان کې دا نیمګړتیاوې لري کولای شي، بیا به نو له قانون سره سم د خپلو اصلاحي طرحو لپاره بیا له خلکو څخه رائیه غواړي او د واک دا لېږد را لېږد به تر هغه روان وي چې افغانستان له هره اړخه ځواکمن او هوسا شي.

دا د افغان انسان حق، مسؤلیت او رسالت دی چې په دې بهیرونو کې ورشامل شي او یا یې له رقابت څخه ګټه پورته کړي. انتقاد د هغه چا حق دی چې په موجود حالت کې د بهترۍ راوستلو صلاحیت ولري. د شکایت او انتقاد یو توپیر همدا دی شکایت دادی چې له نیمګړتیاوو څخه سرټکوو، هر چا چې زیان لیدلی وي د شکایت حق لري او شکایت یوازې د روان حالت ځرنګوالی ښیي. خو انتقاد دادی چې د روان حالت له ښوولو ورهاخوا یې د اصلاح او ښه کولو میکانیزمونه هم معرفي شي. موږ ویلی شو چې زموږ په اصطلاح کارپوهان او سیاسي نقادان یوازې شکایت کوي، انتقاد نه کوي ځکه ډېر کم د اصلاح او جوړولو طرحې ورسر ملې وي.

دا بدمرغي خو لا بیله ده چې که څوک له انتقاد سره طرحه ورکوي هغه یې بیا د عملي کولو توان او اجرائیوي صلاحیت نه لري.

موږ باید د ویښتیا په پړاو کې د شکایتونو له بوږبوکیو څخه راووځو او د ریښتني انتقاد عصر ته ورننوځو. اول، نیمګړتیا په نښه کړو، بیا د نیمګړتیا د له منځه وړلو عملي طرحې رامنځ ته کړو او په دریم قدم کې ددغو طرحو د عملي کولو لپاره سیاسي ځواکمن بهیرونه جوړ کړو، له ملت سره په دې ټوله پروسه کې نږدې سلا مشورې ډېرې مهمې دي، موږ حق لرو په ریښتنیې مانا پوزیشن، اپوزیشن، د نیوکو فرهنګ او د عملي پرمختګ ځواکمن سیستمونه ولرو، د ویښتیا دپړاو افغان انسان ته ښایي ددې ټولو چارو علمي میتودلوژي ورمعرفي شي.

# د ملي مشرۍ تشه

د ډیموکراسۍ له نغارو سره مل یوه نوې نومونه (اصطلاح) چې زموږ پر غوږونو راننه ایستل کېږي، ملت جوړوونه (Nation Building) ده، حال دا چې موږ دې ته اړتیا نه لرو ځکه موږلا له پخوا څخه ملت یو.
هغه څه چې موږ نه لرو، ملي مشري یا (National Leadership) دی.
ملي مشري څه ده؟
هر کله چې یو شخص یا سیاسي حرکت وکړای شي د یوې سترې ملي مسئلې، ستونزې یا پېښې پر مهال یو ملت یا د یوه هېواد بشپړ اکثریت د مثبت حل لوري خواته وروخوځوي او له ستونزې څخه یې وژغوري، ملي مشري یې رامنځ ته کړې ده.
په داسې حالت کې مهمه داده چې دغه شخص یا سیاسي حرکت خپله اراده ولري او د ملت خوځښت یا Mobilize کولو نوښت یې خپل وي.
موږ لسیزې کېږي چې داسې ملي مشر یا ملي مشرتوب نه لرو، دا به نه هېروو، چې د ګوندونو، ډلو حتی حکومتونو مشران ملي مشران نه وي، او د ایډیولوژیو، قومونو، ژبو، څوکیو او ګټو په نامه راپاڅېدلي ډلمشران ملي مشران نه شو ګڼلای او نه هم د هغو پلویان د ټول ملت استازیتوب کولای شي.
ګاندهي د هندوستان په سلګونه میلیونه هندوان، مسلمانان، عیسویان او نور لږه کي د هندوستان د آزادۍ په نامه د خپل عدم خشونت پر فلسفه راوخوځول، چې له انګلستانه خپل هېواد وګټې، نلسن منډیلا د جنوبي افریقې خلک راوپارول چې د توکمیز تبعیض پر ضد یې سره یو کړي، داسې کسان ملي مشران وو.

موږ درې لسیزې شوې، چې د جګړې په اور کې سوزو خو یو ملي مشر مو ونه موند ،چې ټول ملت پر سوله باوري کړي، وروږګلوي، پخلاینې، پرمختګ او ملي پیاوړتیا ته یې وهڅوي.

ستونزه چېرته ده؟

تر هر څه بنسټیزه ستونزه داده،چې زموږ په هېواد کې پر خپله اراده باندې اعتماد او باور له منځه تللی دی، ذهني اسارت موږ دې ته نه پرېږدي چې ملي مشرتوب رامنځ ته کړو، ملاتړ یې وکړو، وروسته ولاړ شو یا یې وپالو، ډېرو کسانو هڅه وکړه د ملي مشرۍ دعوا وکړي خو تر افغان او افغانستانه ډېر په خپله ایډیولوژۍ، قوم، ژبه او سیمه پورې نښتې پاتې شول او تردې وړاندې نه ولاړل، د ملي مشرتوب د ابکتې په اول قدم کې د بهرنیانو سترګې پرې خوږې شوې، پر ځوکیو یې کېنول، پیسې یې پرې وورولې او د لا غټولو وعدې یې ورکړې، همدا و، چې له دوی څخه یې د ملي مشرۍ دعوه هېره کړه او په لنډمهاله ګټه یې خولې ورډکې شوې، یا سیاسي قدرت ته ورسېدل یا پوځي زورته او یا هم ډلو او ګوندونو مشرۍ ته او په دې توګه ملي مشرۍ ته یو هم ونه شو رسیدلای. د ملي مشرۍ په رامنځ ته کېدو کې لومړی خنډ بهرنۍ لاسوهنې وې، دوی هم د ملي مشرۍ د رامنځ ته کېدو مخه نیوله او هم یې خلک له داسې مشرۍ څخه د تل لپاره ناهیلي کول، چې دا باور دلته پوخ کړي ،چې ګواکې افغانان به هیڅکله ملي مشرتوب ونه لري.

کورني خنډونه هم کم نه وو؛ معنوي فقر، کمزورې اراده، د شخصیتونو کمی، له لویو ګټو څخه بې خبري او له افغان محوریت څخه کمزوری درک یې یو څوبېلګې دي.

درپیمه لاره :

د افغانستان د ملي ستونزې د حل یوه لاره د ملي مشرتوب رامنځ ته کول دي. د ملي مشرتوب چورلیز یا اصلي محور باید (افغان انسان) وي.

افغان انسان ددې هېواد هر اوسیدونکي (شهروند) ته وایو، که له هرې ایډیولوژۍ، ژبې او قوم څخه وي خو چې هوسایینه، ډوډۍ، ښوونځی، د ګټې وسایل او بشري حقونه ولري.

هر شخصیت یا سیاسي خوځښت چې غواړي د ملي مشرۍ دریځ ته ورپورته شي، باید لاندینۍ ځانګړنې ولري :

۱.ملي مشر ښايي ټول ملت د ژغورنې لپاره وخوځولای شي.

۲.خپل خوځښت د خلکو له منځه پیل کړي، د ولسمشرۍ ،ډلمشرۍ، یا پردي پالنې له دریځه د ملي مشرۍ پر لوري ورتلل ډېر سخت او آن ناشوني دي.

۳.ملت ته په علمي او عملي طرحو او میکانیزمونو قناعت ورکړي ،چې د ملي مشرۍ صلاحیت لري.

۴.«هر څه د افغان انسان لپاره»وغواړي

۵.د بهرنیو زهرجنو وعدو ښکار نه شي.

۶.د ملت پر اراده تکیه وکړي.

۷.د هر بدلون نوښت یې خپل وي.

۸. د ملي مشر شخصي پانګه ښايي د خوځښت له پیله بیا تر بریالیتوب یا مرګه یوه افغانۍ هم زیاته نه شي ، حتی له مشروع لارې هم.

موږ د ویښتیا پړاو هغه مهال پیلولای شو، چې پر مخ وړونکي یې ملي مشرۍ ته د ورپورته کېدو وړتیا ولري. د ویښتیا او روښانتیا پړاوونه دواړه د همداسې یوه ملي خوځښت په لاسونو بشپړیدای شي.

# درپیمه‌لاره

# د ویښتیا پړاو

## هره ښېګڼه‌د افغان انسان‌لپاره!

زموږ د سیاسي مبارزو لویه ستونزه داده، چې ملي ارمان او لوی ایډیال نه لرو.
په څه مانا؟
زموږ ارمانونه او ایډیالونه واړه دي، د سیاسي هڅو لومړنۍ غوښتنه مو یوې څو کسیزې ډلې ته رسیدل دي، یا د یوه قوم، ژبې، ګروهې، سیمې یا کورنۍ لوړاوی او بس، او بیا په دې وسیله ځانته د ډېرې ګټې رسول، په خلکو کې ځان پړسول، باډیګارډ، موټر، پیسې، کورونه او ... د دا ډول هڅو خیر وطن او ولس ته نه رسېږي او په لویه کې یې زیان تر ګټې ډېر دی، موږ باید ملي ارمان او ایډیال رامنځ ته کړو.
هره ښېګڼه د افغان انسان لپاره!
همداسې یو لوی ارمان او ایډیال دی، دویښتیا د پړاو سریزه د همدې ادعا تفسیر دی.
( افغان انسان) څوک دی؟
د افغانستان هر ښاروند ته افغان انسان ویلی شو.
ښاروند (شهروند)په اوسمهالو سیاسي– ټولنیزو ادبیاتو کې، د هېواد اتباعو ته ویل کېږي چې له ټولو مدني حقونو څخه برخمن وي، په دې کې هر افغان راځي ،که ښاري وي که کلیوال.

(هره ښېګڼه) څه ده!
دا د انساني ژوند د پرمختګ لپاره د ټولو هڅه مجموعه ده چې د یوه هېواد قوانین یې مشروعیت مني.
هره هوساییه، کار، د ژوند ښه شرایط، پوهنه، خواړه، کاري وسایل، هستوګنځی او مدني اسانتیاوې ښايي افغان انسان ته برابرې شي.
په دې توګه وینو چې ددې ادعا پېژندل ډېر سخت نه دي، اسانه مفهوم دی خو یو لوی ارمان او ایډیال یې ګڼلی شو. ډېر کلي او مبهم شعار هم نه دی، خو په دې شرط چې د یوه ملي تفکر په پایله کې ورته د عملي کېدو میکانیزمونه معرفي شي.
همدغې پروسې ته د ویښتیا پړاو وایو.
د ویښتیا پړاو دادی چې ولس، دولت، مدني ټولنې، شخصیتونه، ګوندونه او ټولنیز بنسټونه په دې وپوهول شي چې څنګه «هره ښېګڼه د افغان انسان لپاره» عملي کیدای شي. اجرائیوي ځواک (یا ځواکونه) څوک دي؟ امکانات کوم دي؟ او علمي طرحې یې کومې دي؟
په دې پروسه کې موږ ددغو میکانیزمونو پېژندنه په مخ کې لرو، عامه ذهنیت او خلک باید پرې باوري کړای شي. ملي اعتماد پرې رامنځ ته شي او هر افغان ښاروند په کې خپله برخه وپېژني. په دې پسې بل پړاو چې ددغو بشپړو شویو طرحو او میکانیزمونو د تر سره کولو او عملي کولو بهیر دی هغه ته د روښانتیا پړاو وایو، چې وروسته به پرې بحث وشي.
د ویښتیا په پړاو کې ټول ددې لپاره کار کوي، چې افغانان او نور بشریت پر دې قانع کړي، چې دغه ولس هم د انساني ژوند حق لري. دا ولس یوازې د جګړو او شخړو لپاره نه دی هست شوی. او یوازې د سترو ځواکونو د وسلو آزموییلو لابراتوار نه دی.
د ویښتیا په پړاو کې ښايي موږ له خپلو اقتصادي امکاناتو څخه خبر شو، په دې وپوهېږو چې که خپلې اوبه ولګوو،خپله زمکه وکرو، خپله تر ځمکې لاندې شتمني وکاروو، تر موږ به بډای ولس په نړۍ کې نه وي. موږ پر خزانه ناست سوالګر ښايي نور، را ویښ شو.

موږ کله چې وايو : هره ښېګڼه د افغان انسان لپاره!
د دې ښېګڼې سوال له نورو څخه نه کوو، موږ پخپله هر څه لرو.
ويښتيا پړاو، موږ ته دا راښيي چې څنګه پخپلو لاسونو خپل همدا هرڅه وکاروو او افغان انسان هوسا کړو.
همدا ملي ايډيال او ستر ارمان ښايي د هر افغان انسان د هلو ځلو په سر کې راشي. موږ که وخوځېږو، د ورځې اته ويشت ميليونه خښتې يو پر بل ايښودلای شو، موږ که يو بل ته لاس ورکړو د ورځې اته ويشت ميليونه متره مربع زمکه شنه کولای شو، که اراده وکړو د ورځې اته ويشت ميليونه نيالګي اوبولوی شو، که وغواړو د ورځې اته ويشت ميليونه خلکو ته د ژوند لا ښه شرايط چمتو کولای شو.
د ويښتيا پړاو شعار نه ورکوي، بلکې خلک کار ته رابولي، موږ د افغان انسان د ژغورلو لپاره بايد کار وکړو. د ويښتيا يو راز همدا دی چې دوه علمي تيزسونه د خلکو په مغزو ورننباسو:
۱.له ټوليزې هوساينې پرته وګړنۍ (فردي) هوساينه ناشونې ده. که په هېواد کې (هر افغان انسان) موږ، لوستی، بوخت او دمدني حقونو خاوند نه وي؛ ولسمشر، وزير، رئيس، پانګوال او ځمکوال يوازې نه شي هوسا کيدای دا د بشري ژوند يو اصل دی.نو که غواړو ځان هوسا کړو بايد هېواد او (هر افغان انسان) هوسا شي. دا ارمان کار او هڅې غواړي او د ټولو هڅې.
۲.که پخپله، هر يو ټولو ته او ټول هر يوه ته کارونه کړو، هېڅ پردی به موږ ټول نيکمرغه نه کړي.
کيدای شي کوم ګاونډی يا ځواکمن هېواد زموږ اشخاصو يا ګوندونو ته پټې يا ښکاره پيسې او پټاسې ورکړي خو دا به د هغو د ګټو لپاره وي نه زموږ ټولو د هوساينې لپاره. همدا وطن يا کور دی يا مو ګور.
همدا به پخپله ،د ځان لپاره جوړوو. همدلته ده چې د وطندوستۍ زړه دروغجنه ادعا په نوې او ريښتنې مانا را ژوندی کېږي يعنې موږ دا هېواد جوړوو ،چې پخپله (زه) او

زموږ کورنۍ په کې خوشاله شي. افغانستان باید جوړ شي چې هر افغان انسان او (زه) نیکمرغه شي.

د ویښتیا په پړاو کې ښایي دا دوه تېزسونه د هر افغان انسان غوږ ته ورننباسو او هر افغان انسان د هر افغان انسان د هوساینې لپاره راوخوځوو.

د ویښتیا پړاو د افغاني رنسانس لومړی ګام دی. ددې لپاره هر افغان انسان خپله رغنده طرحه را پېژندلای شي. د درېیمې لارې کړکۍ ستاسو پر مخ پرانیستې ده، راشئ او خپلې طرحې له موږ سره شریکې کړئ. چې څنګه هر افغان انسان د هر افغان انسان د خوشالۍ او ژغورنې لپاره یو څه کولای شي، دا علمي او تجربي بحث غواړي. زموږ ټولو ګډون غواړي.

نو یا الله!

هره ښېګڼه د افغان انسان لپاره!

## د اورپرتوګ

څه موده مخکې یوه ملګري، دې پوښتنې ته ،چې ولې مونږ د وژلو له وسایلو (ټوپک، تورې ...) سره دومره مینه لرو ؟ عجیب ځواب راکړ؛ دی په دې نظر و، چې د تاریخ په اوږدو کې زمونږ ګڼ حکومتونه ددې وړ نه وو، چې له هېواد، خلکو او یا د هر هېواد میشتي له شخصي حریم څخه ساتنه وکړي، د همدې لپاره خلک دې ته اړ شوي، چې د ځان، کور او هېواد ساتلو ته پخپله ملا وتړي ،ځکه نو د ځانساتنې وسیلې (وسلې) ځانګړی اهمیت پیدا کړی دی. له رواني پلوه ددغه اهمیت ډېریدو په ټولیز ( جمعي) روان کې پرله پسې رسوب کړی دی او په دې توګه له تاریخي پلوه ژوبلورو وسلو خپل ارزښت تردې بریده رسولای، چې د ځینو په وړاندې خو د ناموس حیثیت هم لري.
وژونکې وسله په خپل نفس کې بد شی ده، ځکه د جوړولو، رامنځ ته کولو او ساتلو منطق یې بل انسان ته زیان رسول، د ژوند ختمول او ژوبلول دي، خو د ځانساتنې لپاره تر ټولو ښه وسیله ګڼله کېږي. دا د اورپرتوګ نه اغوستلی شو او نه یې ایستلی شو، په پرمختللې نړۍ کې یې اړتیا ځکه کمه شوې چې پر یوه انسان د بل انسان بلوسل کنټرول شوي دي، شخصي امنیت تضمین شوی دی، رواني سکون رامنځ ته شوی دی او د هېوادونو د ملي حریم او ځمکنۍ بشپړتیاساتنې لپاره ځانګړي ځواکونه شته، نو د همدې لپاره له خلکوسره د وسلې ساتلو اود وسلې د ناموس ګڼلو هېڅ اړتیا نه پېښېږي.
که شخصي امنیت او ټولنیز نظم پولیس وساتي، عدالت قضائیه ځواک او عدلي سیستم تأمین کړي، ځمکنۍ بشپړتیا او ملي امنیت ملي پوځونه وساتي نو په کورونو کې د ټوپکو ساتل څه مانا ؟

زموږ تیروحکومتونو دا کارسم نه دی کړی، ځکه خو خلکو د ځان اوکورنۍ د ساتلو لپاره په کور دننه وسله ساتلې او چې کله هېواد تر یرغل لاندې راغلی، د کمزورو او بدجوړښته یا بې جوړښته حکومتونو له امله بیا هم خلکو د هېواد ساتنه کړې ده، له همدې امله بده وسله ښه وسیله شوې ده او د میړانې ګاڼه یې بللې، زیور او نارینتوب ورسره مل ګڼل شوی او تر ټولو ژوبلور او زیان رسوونکی ښه مېړه او ښه اتل بلل شوی دی.

دا « غلط معمول» د پېړیو پېړیو په اوږدو کې زموږ په عادت او کلتوري ارزښت بدل شوی دی ،په لنډیو او شعرونو کې ستایل شوی دی او متل دی چې « ښه وسله هغه ده، چې په بده ورځ په کار شي» یا «ښه وسله هماغه ده چې په بد وخت کې په لاس درځي.» زموږ رواني ویرې، د ناامنۍ تلپاتې احساس او د بې حکومتۍ یا بد حکومتۍ حقیقت موږ مجبور کړي یو ، چې وسلې ته پناه یوسو او دغه بده، ناشولته، ناولې وسیله ښه او ګرانه ملګرې وګڼو. ډېر ځله وسله د خلکو په لاسونو کې د ځانساتنې لپاره نیول شوې ده، خو ډېر ژر ورڅخه د زور زیاتي، یرغل، تیرې، جنایت، غلا او لوټمارۍ لپاره کار اخیستل شوی دی، وسله د جنایت وسیله هم ده .

د نه تېرې، عاطفي ژوند او له قانون سره سم چلند د انسانانو ازلي او ابدي هیله ده خو ،لکه چې هېڅکله په حقیقت نه بدلېږي، ځکه نو د «دفاع» منطق تل عمر شته، خو د ځانساتنې بشري اصل باید قانوني شي او دا بهیر باید په موږ کې هم په سر راسته ښه بنسټ ومومي، څنګه؟

درپیمه لاره :

په ټولیز روان، عامه ذهنیت او جمعي باور کې یو انقلاب ته اړتیا شته. تر هر څه وړاندې د ځانساتنې دنده باید د حکومت پر غاړه ور واچول شي. له شخصي امنیت څخه نیولې، تر رواني سکون او هېواد ساتنې پورې باید حکومت یې تضمین پر غاړه واخلي. ځواکمنه ملي اردو ښایي د افغانستان د خاورې او پولو ساتنه وکړي، ملي او با دسپیلنه پولیس د شخصي امنیت مسؤلیت ومني عدلي سیستم ښایي رواني ټولیز سکون رامنځ ته کړي، بیا نو له کلتوري پلوه د وسلې مذمت او بد ویل پیل شي. موږ

ښايي له ټوپک او توري ځخه خپل کسات واخلو، مات مات يې کړو، موزيمونو ته يې وسپارو او د تاريخ په هديرو کې يې خښ کړو. نور نو ښايي ټوپک ناموس ونه ګڼل شي.

د ويښتيا د پړاو يو اصل همدا دی، چې وسلې د خلکو د روان له محرابونو ځخه لرې شي د افغان انسان اوږه نوره له ټوپک سره ښه نه ايسي. د افغان انسان په لاسونو، مغزو او ژوند چاپېريال کې ښايي د ژوبلورو وسلو ځای د ډوډۍ موندلو، هېواد ودانولو، پوهې او پرمختګ وسايل ونيسي او هر هغه څه معنوي ارزښت ومومي، چې يوه افغان انسان ته د روزۍ موندلو وسيله ګرځي.

ملي دفاعي ځواک هر څومره، چې پياوړی، وسله وال، جدي، زړور او دپرديو ژوبلور وي هماغومره ښه دی، د مېړنتوب او اتلولۍ ټول سرودونه، بدلې او شعرونه هم ښايي يوازې همدغه ملي ځواک ته ځانګړي شي، دا ملي ځواک ښايي بشپړ غير سياسي وي او يوازې افغانستان ساتلو او افغان انسان پاللو ته ژمن وي او بس.

له وسلو ځخه کرکجن، پټې، کار ځای او ښوونځي ته روان افغان انسان، پر خپل ملي دفاعي ځواک ډاډه ،د ويښتيا لومړی ګام پورته کوي.

# د سولې وزارتونه

په راډیو کې یې د افغانستان پر امنیتي وضعیت خبرې کولې او د دفاع، کورنیو چارو د وزارتونو نومونه یادېدل، ملګري مې راته وویل چې په دې وزارتونو امنیت نه راځي، ماته د کرنې، بیا رغولو او ټولګټو وزارتونه راکړه، په دوه میاشتو کې امنیت راولم.

ما ورڅخه وپوښتل، څنګه؟ ملګري وویل : خلک ډوډۍ نه لري، د ډوډۍ بودولو ملکیت نه لري او د ملکیت نه لرلو له امله په هېواد پورې د تړلتیا مزي نشته. په اوله کې مې د ملګري خبرې بابېزه وګڼلې، فکر مې کاوه چې هسې لګیا دی ،خو چې ښه ځیر شوم د روان کړکیچ یو څه ریښې مې په دې ستونزه کې وموندلې.

کله چې د افغان انسان په ښېګڼه خبرې کوو ، نو لومړۍ اړتیا خواړه دي، کار دی د کار وسایل دي او ملکیت دی. افغان انسان باید په دې هېواد کې د ملکیت خاوند شي ،چې روحاً او جسماً په دې خاوره پورې وتړل شي. وږي افغان ته د وطندوستۍ ترانې ټوکې ښکاري او مجبور افغان انسان تر ملا پورې باروت تړي او د څو روپیو لپاره ځان هم وژني. د شخړو یو لوی لامل لوږه، بې روزګاري او فقر دی.

دا مو هم اوریدلي دي، چې افغانستان یو کرنیز هېواد دی، ولې؟ زمکه او کرنه تر ټولو ابتدایي تولیدي وسایل دي. چې که اوبه ، زمکه او ابتدایي وسایل وي، نو انسانان د خپل ابتدایي ژوند امکانات ترې بودولی شي. افغان انسان د تولید نور امکانات نه لري، افغان انسان تولیدي انرژي ( بریښنا )، ماشین، خام مواد ، مناسب بازارونه او تجارتي سیستمونه نه لري، ځکه نو په دې هېواد پورې یې د تړلو لویه وسیله زمکه،

اوبه او کرنه ده. په مجموع کې باید افغان انسان ته کار پیدا کړو . ښاري ته یې یو ډول تولیدي وسایل او کلیوال ته یې بل ډول. د ویښتیا د پړاو یوه اساسي اړتیا همدا ده.
زه ډېر پر افغانستان ګرځم، مانا دا چې تقریبا ټول وطن مې له الوتکې څخه کتلی دی، ښه پریمانه غرونه، ځای ځای ناوې او روانې اوبه، بیا یو کوچنی کلی او یو څو پټي، ځینې ځایونه پراخې دښتې، کله کله وروشوګانې او د وچو ځمکو تر څنګ چټک بهیدونکي سیندونه.
هر ځل چې له هوا څخه د افغانستان زمکه ګورم نو له ځان سره همدا سنجوم چې د ویښتیا د دورې حکومت باید دا سیندونه پردې وچو زمکو را واړوي او خلکو ته دې یې وویشي، چې ځانته ترې روزي بوده کړي، په دې توګه زما د ملګري خبره ریښتیا کیږي هر څوک چې یوه ټوټه زمکه ،په لیښتي کې بهیدونکې اوبه او د خرځلاو لپاره کرنیز محصولات ولري، نو جګړه او جرم نه کوي . هو د ویښتیا د دورې حکومت ښایي افغانانو ته ملکیت، د یوه علمي او عملي میکانیزم پر اساس، ورکړي او بیا یې د تولید شویو محصولاتو د خرځلاو غم وخوري، افغانستان به ژر د آسیا په هالند بدل شي او چارګرده صنعتي دنیا ته به خواړه، سابه او لبنیات ورکړي او پخپله به یې هم کولمې غوړې وي. ښاري نفوس ته به هم د سوداګرۍ او د کرنیزو محصولاتو د پروسس په برخه کې کار پیدا شي، د کلي او ښار اړیکې به وتړل شي، د ښارونو په وړاندې به د کلیو بدبیني ختمه شي او جګړه به د خپلې مور په ګېډه کې وچه شي.
ښه ګران لوستونکي به وایي ،چې: دا که دومره آسانه خبره ده، نو تر تا ( لیکوال) هوښیار خلک په دومره غټو غټو نکتایانو او څوکیو ترې خبر نه دي؟ ټول ترې خبر دي خو هېواد ته ژمنه، وفاداري او کار اهل کار ته سپارل غواړي، دا حکومتونه ددې وړتیا نه لري ځکه خو د ویښتیا د پړاو حکومتونو ته اړتیا شته، موږ ښایي اصلاحات له همدې ځایه پیل کړو.
زما ملګري ویل :
د روښانتیا د دورې روڼ اندي او د عامه ذهنیت رهبري کوونکي ځواکونه باید دغه مسئله په منظمو چوکاټونو کې مطرح کړي، هم حکومت، هم خلک او هم قانون

جوړوونکي پرې وپوهوي. موږ د زمکو له مافیا څخه پازاب یو، ولې؟ ځکه موږ فکر کوو، چې یوازې په ښارونو کې دننه زمکې ارزښتمې دي، حال دا چې هره زمکه چې تولید کولای شي ارزښتمنه ده، یوازې موږ باید ورشو، آباده یې کړو او بې ملکیته خلکو ته یې ورکړو، د زمکې د مافیا دیو به هم مات شي او له احتیاجه به هم راووځو، په ښارونو به هجوم او فشار هم خلاص شي، ملي یووالی به هم عملاً رامنځته شي او حب الوطن به را وټوکېږي، ځکه حب الوطن له حب الملکیت څخه را زېږي او تر ټولو لویه نتیجه چې ټول ټوپک پر اوږه او ګوته په ماشه ځوان نسل به پټیو کې بوخت شي، نو امنیت پخپله راځي. سیاسي مذاکرات او پر کاغذونو لیکلي د سولې شعارونه د جنګ ځای نه نیسي، راځئ دا معادله بل ډول بدله کړو او د جګړې ځای په کار بدل کړو. کار که د جګړې ځای ونیسي نو سوله راوستلی شي، جنګ پخپله خپل ځای سولې ته نه پرېږدي.

درپیمه لاره:

پایله دا ده چې موږ به د خپلې هغې فاسدې چورلیزې کړۍ د ماتېدو چاره ومومو چې لا تر اوسه په کې سربداله یو، تېر اته، نهه کاله مو په دې تېر کړل چې اول اقتصاد ته وده ورکړو که سوله راولو؟ سوله بې اقتصاده نه راځي او اقتصاد بې له امنه، چرګه نه شته چې هګۍ واچوي او چې هګۍ نه وي چرګوړی نه راوځي، په دې. دې کې ژوند را باندې تېر شو.

په همدې روانه جګړه کې باید د خلکو د نسونو غم وخورو، بې روزګاري پای ته ورسوو خلکو ته کار ورکړو او بیا ټوپک ترې واخلو.

د ویښتیا په پړاو کې باید افغان انسان د ملکیت خاوند شي. په لکونو جریبه زمکې د اوبو لښتیو ته اړتیا لري او د افغان انسان متو ته، زما ملګري ریښتیا ویل د امنیت او سولې وزارتونه د دفاع او کورنیو چارو نه ،بلکې د کرنې، فواید عامې او کار وزارتونه دي.

امنیت له ډوډۍ څخه پیل کېږي. په ډوډۍ موړ، د کور او زمکې خاوند افغان انسان د ګاونډیو او دښمنانو چل او فریب ته نه تسلیمېږي، ګاونډیان او دښمنان په دې پوه

شوي دي، چې څنګه یو شمېر افغانان خپلو غوښتنو ته ور مات کړي. زمکې یې شاړې پرېښي، له سیندونو څخه یې هره ورځ میلیونونه متره مکعب اوبه غلا کوي او ځوانان یې په ټوپکو، پوډرو، نشو او بمونو سینګار کړي دي، ګټه یې دوی خوري وینې یې موږ ته راځي.

د ویښتیا پړاو باید دا بهیر سرچپه کړي، خپلې زمکې، خپلې اوبه او خپل ځواک د افغان انسان لپاره، ټوپک او بم د پردیو دښمنو لپاره.

همدا ده در پیمه لاره

# ویښتیا:

## د سولې ښوونځي

په هندوستان کې مې د دغه هېواد د لوړو زده کړو له ځینو چارواکو سره خبرې کولې، مسئله دهغو افغان محصلینو په اړه وه، چې هر کال هندوستان ته د لوړو زده کړو لپاره ځي، ما خو له هندي لوري څخه د دې لپاره د مننې او ستاینې ټول ټکي یاد کړل، خو دې نیمګړتیا ته مې هم ګوته ونیوله، چې ګڼ زده کوونکي سیاسي علوم لولي او زه نه پوهېږم چې دا پخپله د محصلینو د ټاکنې ستونزه ده، یا په نورو څانګو کې شمولیت سخت یا ناشونی دی؟ ما هندوستانیانو ته وویل، چې افغانستان د کرنې، انجینرۍ، وړو حرفه یي چارو، اوبولګولو، وترنرۍ او د داسې نورو څانګو متخصصینو ته اړتیا لري، چې عملاً د دې هېواد اقتصاد په پښو ودرولای شي.
ما په ټوکه ځینو افغان ملګرو ته وویل: ښایي افغان محصلین فکر کوي، چې که په هندوستان کې څوک سیاسي علوم ولولي نو بیا په افغانستان کې ولسمشرۍ ته رسېدای شي.
دې چارې ما ته څو فکرونه پیدا کړل؛ تر هر څه مخکې راته د سولې د ښوونځیو تصور په ذهن کې راوګرځېده او د دې چارې او نتیجې فکري بهیر داسې و:
ستونزه: موږ هر کله چې د افغانستان پر ستونزو ګېږو، نو د ټولیزې پوهې (عامه شعور) د لوړېدو مسئله تر مخې راځي. بیا نو فکر کوو چې د دې ځای خو ښوونځی دی او باید ټول خلک ښوونځیو ته ولاړ شي. ریښتیا هم، چې د افغانستان د ژغورنې پیل له ښوونځیو او پوهنځیو څخه کېږي، خلک باید له دې بې خبرۍ څخه خلاص شي.
خو، چې یو ګام وړاندې ولاړ شو نو پوښتنه را پیدا شي، چې څه ډول ښوونځي؟ فکر وکړئ، د زده کړې وړ ټول نفوس ښوونځی او پوهنځی ولوست او اټکلي فکر وکړئ چې موږ د لس – دولسو میلیونو لسانسه ګانو خاوندان شو، بیا نو څه؟

آیا موږ دوی ټولو ته د کار امکانات لرو؟ په ۱۲میلیونو مامورینو به څه وکړو؟ هغه هم که شپږ ومیلیونو یې حقوق او سیاسي علوم لوستې وي نو دومره جمهورریسان، بهرنیو چارو وزیران، دیپلوماتان یا قضات او څارنوالان به چېرته وړو؟
ژورنالیستان یې همداسې بوله او د طب ډاکتران یې هم. (دا هېڅکله ، خدای مه کړه دغو شریفو مسلکونو ته د کم کتلو په مانا نه ده.)
موږ د تولید لوستي نه لرو. څه مانا؟ موږ حرفوي کارګران نه لرو،دکانونو درایستلو لوستي کسان نه شته، د کرنې مربیان نه لرو، نجاران، د برېښنا تکنېشنان، د سړکونو جوړولو معماران، د بندونو ډیزاینران، د موټر، الوتکې او تخنیکي چارو ماهرین نه شته ما اوریدلي دي چې زموږ د برېښنا ستېشنونو د کوچني ترمیم لپاره له لرې هېوادونو څخه تکنېشنان راغوښتل کېږي او نر غوندې لسګونه زره ډالره جېب ته اچوي اوتر کوم کوچني رغون وروسته بېرته په الوتکه کې کور ته ځي. پیلوټان خو لا څه کوې، چې زه پخپلو بهرنیو سفرونو کې د الوتکو انجینران او آن د الوتکې میلمه پالان هم وینم چې شنې سترګې او سره مخونه درته ودرېږي او وایي :
Sir! Do you want some tea or coffee? ښاغلیه چای یا قهوه غواړې؟
په سړي اور بل شي، چې ښه کوريې وران مه شه دا کار نو افغانان نه شي کولای؟
دویښتیا د پړاو یوه ضروري غوښتنه همداده چې د ډېرو انکشافي، رغنیزو او جوړښتي چارو په مرکز کې افغان انسان ودرول شي او دا خبره یقیني او حتمي شي چې : هو ! موږ یې پخپله کولای شو!!!
**حل لاره :**
موږ ښایي د سولې ښوونځي وپېژنو او پریمانه، پر هرځای کې او هر چاته یې پرانیزو، دا ښوونځي هم سوله راوستلای شي او هم موږ له پردي احتیاجه خلاصوي.
د سولې دا ښوونځي حرفوي مکتبونه دي، لکه زراعت لیسه،د کانونو داستخراج لېسه، میخانیکي لیسه، د برق لیسه، د اوبو لګولو لیسه، د معمارۍ لیسه، د ترکاڼۍ لیسه، د چرګوړو د روزلو لیسه، د اوبدلو لیسه، د نساجۍ لیسه، د بورې د تولید لیسه، د کرنیزو محصولاتو او میوو د پروسس لیسه، د موټرو د ترمیم لیسه، د

هوټلدارۍ اومیلمه پالنې لیسه، د سبو د روزلو لیسه او په لسګونو داسې نورې لیسې، هر ځای، په هر ولایت، هره ولسوالۍ او هر ښار کې. دا لیسې ښایي د دولت په لګښت جوړې شي او وړیا ځوانان اونجونې ومني. آن چې دا لیسې باید لیلیې ولري چې د لرو پرتو سیمو ځوانانو په کې ژوند وکړي او موږ بالاخره د یوه مسلکي او رغوونکي نسل د روزلو شاهدان اوسو.

دا ښوونځي ولې د سولې په نامه؟

ځوانان له وزګارتیا، بې وزلۍ، رواني فشارونو، ورک برخلیک او پر راتلونکي د نه اعتماد له لاسه جګړو ته مخه کوي، دلته نو هر څه ورک دي، ټوله تشه! نو یوازینی انتخاب ټوپک او سنګر دی، موږ د سولې ښوونځي ترلي او د جګړې سنګرونه مو پرانیستلي دي، تاسوووایاست ځوانان چېرته ولاړ شي؟

دا ځوانان، چې د سولې ښوونځیو ته راځي له روږدیدو ( اعتیاد) جنایاتو او اخلاقي ښوپیدنو څخه هم ژغورل کېږي.

تر هر څه مهم دا چې، داسې ښوونځي پر حکومتونو د خلکو اعتماد او باور هم رامنځ ته کولای شي. که د لرې پرتې سیمې یو ځوان بستره پر اوږه داسې ښوونځي ته روان وي، لومړی څه چې پر زړه ور ګرځي همدا ده، چې : والله بچی یې لوی کړې، دغه دی حکومت زما د زده کړې، راتلونکې او ګټې غم خوري، نو « که دی که نه دی، لکه پلار و مور مهربانه دی پاچا».

یوه بله ښېګڼه :

له تېرو څو کلونو راهیسې موږ شاهدان یو، چې په زرګونو ځوانان پر ښوونځیو د کم اعتمادۍ له امله ښوونځي ته نه ځي، ځکه هر کال په لسګونوزره ځوانان له ښوونځیو څخه وځي، خو په پوهنتونو کې ځای نه وي، یوازې د لوړو نومرو ګټونکي پوهنځیو ته ځي اونورپه حسرت ورته ګوري، بې سرنوشته ځوانانو ته بل ځای نه شته، د سولې مسلکي ښوونځي کولای شي ټول ځوانان، ولو که په نظري اوتیوریکو زده کړو کې ډېر با استعداده نه وي هم، ومني د حرفې او مسلک، تخنیک اوتولید زده کوونکي دې ته اړتیا نه لري چې ډېرې پاڼې واړوي را واړوي او فورمولونه حافظې ته وسپاري، دی

باید خپلې ګوتې له ماشین او پلاس سره بلدې کړي، دا مو نه دي اوریدلي چې : « دهقاني هنر دارد، کتاب نیست که پرپر بخواني».
موږ ټولو هغو ځوانانو ته د زده کړې مراکز جوړولای شو، چې د ښوونځیو درسونه ورڅخه پاتې وي او یا هم د لوړو زده کړو موسساتو ته نه شي تلای. حرفوي ښوونځیو ته د منلو معیار ښایي له کار او تولید سره مینه او علاقه وي نه د فورمولونو او تیوریو حفظ کول.
درپیمه لاره :
په روسیه کې یو شمېر افغانان راټول شوي وو، له ما یې وپوښتل چې دوی او په نړۍ کې نور تیت و پرک افغانان چې په لاس او وس کې یې د مرستې څه شته څنګه کولای شي خپل وطن او خلکو ته ګټه ورسوي ؟ ما ورته د همداسې ښوونځیو د جوړولو او تمویل وړاندیز وکړ، عجیبه وه چې له دې فکر سره یې علاقه وښوده او زه ایله پوه شوم ،چې دداسې ښوونځیو پلویان ډېر دي. نو درپیمه لاره به داوي چې :
۱.د سولې د ښوونځیو پېژندنه او جوړونه عملاً پیل شي او په دې برخه کې یو لوی شمېر افغان ځوانان او پیغلې بوخت کړای شي.
۲.افغان لوری ښایي بهرنیانو ته قناعت ورکړي چې خپلې پیسې په ((جندربیلانس))، د ښځو د زیږون زده کړې، فېشن شو، او د بشري حقونو په اړه تش په نامه او بې فایدې ورکشاپونو باندې ونه لګوي او پر ځای یې ددغسې ښوونځیو جوړول پیل کړي. بهر ته استول شوي محصلان باید هلته په همدې برخو کې زده کړو او تخصص اخیستلو ته وهڅول شي، چې همدوی بیا په داسې ښوونځیو کې د متخصصو ښوونکو په توګه کار وکړي.
۳.حکومت، مرستندویه ټولنې او نړیوال باید ددې چارې د عملي کولو لپاره ګډ کار وکړي او دعملي کولو لپاره یې باید له افغانستان سره له مرستو څخه یوه برخه ورته بېله شي.
۴.د داسې ښوونځیو داهمیت، ارزښت او ونډې په اړه باید په ولس کې د عامه پوهاوي پروګرامونه عملي شي چې ډېر ژر په میلیونونو افغانان دې ښوونځیو ته ورننوځي.

**۵.** تر ټولو مهمه دا چې د لومړۍ دورې تر فارغيدو پورې ښايي حکومت ددغو فارغانو د بوختيا او کار موندنې غم هم وخوري.
د ويښتيا پړاو يوه اساسي برخه د افغان انسان لپاره د کار موندنې او اوږد مهاله بوختيا زمينه برابرول دي، د افغان انسان له بشري ځواک څخه ښايي په توليدي برخه کې کار واخيستل شي او د کار اوتوليد د دنياميزم معادله ښايي په معقوله بڼه د افغانستان اقتصادي بنسټ رامنځ ته کړي.
د سولې ښوونځي د جګړې سنګرونه تړلای شي!

# د افغانستان د ایل کولو لپاره پینځه نسخې

څو ورځې مخکې ځینو بهرنیو او کورنیو کړیو د خوشالۍ او ویرې یو ګډ خبر خپور کړ :
«افغانستان یو تریلیون ډالره زمکلاندې سرچینې لري.»
بل پسې ورغبرګه کړه :
«نه! دا یو تریلیون نه بلکې درې تریلیونه او حتی کېدای شي تردې ډېر وي.»
دا خبر لکه مرخیړی، ناڅاپه راشین شو او خلک یې حیران کړل، تردې وړاندې داسې فکر کېده، چې د افغانستان سیاسي - جغرافیایيGeo-strategic اهمیت ډېر د پام وړ دی، ځکه دا هېواد د منځنۍ آسیا دروازه هم ده او د جنوبي آسیا (زرین هندوستان) لاره هم، پر منځني ختیځ هم مشرف دی او د چین تر زنې لاندې هم پروت دی، ځکه نو لوی قدرتونه ټول غواړي په یو ډول نه یو ډول دلته وخت تېر کړي او له دې ځایه خپل سیالان وویروي، خو اوس ددې اهمیت بل اړخ هم را څرګند شو، چې ګواکې یوازې د زمکې سر نه، بلکې تر زمکې لاندې یې هم خزانې پټې دي، دا خبره دومره ساده نه ده، «دا د پټې سر دی پټې بېرته سورور دی!» راځئ زه به ددې لوبې کیسه درته وکړم.
زه لا ماشوم وم، په کلي کې د میداني جومات پیتاوي ته به سپین ږیري او پاخه خلک له موماجان څخه راتاوو وو، موماجان خپل سیاسي تیزس په ساده ژبه داسې توضیح کاوه :
«اوغانستان له سروزرو ډک دی، په زمکه کې ډېرې پټې بلاوې لري، دا کوپار به دا خزانې راوباسي، دوی نه د اسلام له غمه مړه دي، نه د اوغانستان، دوی په خپلو ګټو پسې ګرځي ...».
زه چې زلمکی شوم، ډېر ځله مې د موماجان د خبرو په هکله فکر کاوه، خو تل راته بابېزه او د یوه کلیوال نالوستي سپین ږیري نظر ښکاریده، خوعجیبه داده چې تل مې په لاشعور کې راګرځېده، د کانونو په اړه د څو ورځو مخکې ناڅاپي خبر، تر هر څه وړاندې د موماجان تېزس ته بوتلم او خپل نالوستی کلیوال لږ د کراماتو خاوند راته ښکاره شو. زه لا هم نه پوهېږم چې موماجان دا خبرې له کومه اوریدلې وې خو په دې خبر

یم چې لوی اقتصادي ځواکونو د افغانستان مادي او جغرافیایي ارزښت ته له ډېر پخوا څخه ځیروو، داسې اسناد شته چې د قدرتمندو هېوادونو فضایي او زمکپوهنیزو (جیولوژیکو) مرکزونو آن له اویایمې میلادي لسیزي څخه د افغانستان د کانونو ارزښت موندلی و، خو ځانونه یې پرې ناګاره اچولي وو، مانا دا چې د لسیزو لسیزو سیالي یوازې د افغانستان پر جیوستراتیژیک اهمیت نه، بلکې پرزمکلاندې شتمنۍ هم وه.

لسیزې پخوا ځواکمنو هېوادونو خپلو څېړنیزو موسسو، د بشر پېژندنې انستیتونو او د ټولنیزې اروا پوهنې آزمېښتځایونو ته دنده وسپارله، چې د افغانستان د ایل کولو ( تابع کولو) چل پیدا کړي او په صبر، ورو ورو د ور ننلوتلو لاره ور وښیي. د اقتصادي قدرتونو په وړاندې دا حقیقت پروت و، چې افغانان هر څه زغملای شي خو پردی پر خپله خاوره نه پرېږدي او ټول عمر د خپلواکي لپاره جګړه کوي، خو هېڅکله خپلواک نه دی، دوی پوهېدل، چې افغانستان که خپلواک نه دی نو ښکېلاکګر هم ورنه سخت په عذاب دي او په دې خاوره کې د هېچا په کولمو کې اوبه نه دي تودې شوي، دانګریزانو برخلیک ټولو ته په مخ کې پروت و.

لویدیځوال پر خپل عقل ډېره تکیه کوي او هرې ستونزې ته لابراتوار لري، دوی فکر کوي چې د پوهې په مرسته ډېر څه کولای شي او حتی د افغانستان د ایل کولو لاره به هم ومومي د همدې لپاره یې خپلو څېړنیزو موسساتو ته پناه یووړه او د افغانانو عادتونه، ژوند چارې، جغرافیا، تاریخ، اروایي جوړښت، دودونه، ارزښتونه، عقاید او هر څه یې خپلو لابراتوارونو ته ور وسپارل او بیا یې داسې پایله ترې راوایستله:

((هو!

افغانستان ایل کېدای شي!

دا ممکنه ده، چې افغانستان هم د زمکې پر سر او هم تر زمکې لاندې وخوړل شي، خو لومړی باید دغه پړاوونه ووهل شي))

د افغانستان د ایل کېدو پړاوونه:

۱.د یوې اوږدې او ستومانه کوونکې جګړې پیل :
ډېر کلک ملتونه هم بالاخره ستومانه کېږي د « فرسایشي جنګ» اصطلاح د همدې لپاره په سیاسي قاموسونو کې رامنځ ته شوې ده. دا جګړه باید دومره اوږده وي چې څو نسله په کې ووژل شي، وران شي او له پښو وغورځول شي، تر څو چې (د ژوند حق) ورته تر ټولو لوی نعمت ښکاره شي.
د فرسایشي اوږده جنګ لپاره باید بهرنی او کورنی بستر آماده شي، موجود سیاسي او ملي چوکاټونه په کې مات شي.
تر هر څه وړاندې د یو افغان وژل د بل افغان په لاس، داسې شي لکه د یوه غوړپ اوبو څښل. دې لومړیتوب ته کار پیل شو، تر هر څه مخکې د شوروي پښنه راننوته او د سره ښکېلاک په وړاندې پاڅون راوپاریده، ټوپکونو کار پیل کړ، توپونه او الوتکې تشې شوې، یو شوروی، شل افغانان پر زمکه را ولویدل، شورویانو عقل ته مراجعه وکړه او پښې یې سپکې کړې، خو افغانانو لاهم پرماشو ګوتې کلکې کړې او په خپلو کې یې له وژل شویو څخه غرونه لوړ کړل. داسې جنایتونه ،چې یادول او را په زړه کول یې د څو نسلونو ترمنځ د دښمنۍ اور بل ساتي، د مېړانې او خپلواکۍ ګټلو ځای کرکې او بې رحمۍ ونیوه او دا د افغانانو په ټولنیزه ارواپوهنه کې لومړی بدلون و. اتل یعنې وژونکی او وینه تویول یعنې قهرماني، د لویو قدرتونو فکري ماشینونه لاهم لګیا وو او د افغان په لاس د افغانانو د وژلو سناریو یې جوړوله، لاهم ډېر ریزرفونه وو او شته، چې ویې کاروي: چپ، ښی، کافر، افراطي، القاعده، صلیبي، پښتون، تاجیک ، ازبک، هزاره، لویدیځ پلوی، جاسوس، وروسته پاتې، شیعه، سني، سکشوی ... بس وژنه ! چې نن دې وار دی، فرسایشي جګړه د لسیزو لپاره روانه ده او لاهم پریمانه امکانات شته چې لاهم اوږده شي.
د ستومانه کوونکې جګړې لپاره ګاونډیان چمتو ناست وو، دا پروژه یې په ټیکه واخیسته، ګاونډیو څو ګټې درلودې یو خو پخپله هم افغانستان ته په غلا ناست وو او زړونه یې ورته ډک وو او بله دا، چې د لویدیځو ځواکونو غوا ورته را لنګه شوه، خدای(ج) ورکړل، د خپل دښمن د ځپلو لپاره، وسله او پیسه د بل، بچی په کې د افغان

وژل کېږي، بس ته ورته د خير په غونډۍ کينه او دوی به يو بل وژني ته بس پېسې او وسلې ورکوه او خپل ډالر اخله، افغانان هسې هم ددی پړانګان دي، چې يو بل ووژني فقط له وژونکو څخه لوی لوی قهرمانان جوړوه چې خپل کار کوي.

**۲.د ارزښتونو ورانول :**

لويديزو قدرتونو د علمي –تحقيقاتي موسسو دوهمه نسخه داوه، چې د افغانستان د ايل کولو لپاره ښايي هلته موجود ملي محورونه او شته ارزښتونه مات شي، له هغوی څخه بايد ټول عقيدوي، ملي او دوديز بنسټونه واخيستل شي او بې اعتباره شي، څو بيا له بهرني زېښناک سره د مقابلې لپاره پرې راټول نه شي. دا کار هم د ګاونډيو په مرسته پيل شو، (ملي) کلمه د کفر معادل شوه د (افغانستان) له نامه سره مخالفت پيل شو، د سپېڅلو اصطلاحاتو په نامه بې ګناه او بې چاره خلک ووژل شول، د دين له نامه څخه داسې ناسمه ګټه پورته شوه، چې د خلکو باورونو ته زيان ورسېده، جرګه، مرګه، افغانيت بدنامه شول، د ملي مشرتوب ځای چل، غلا، دروغو او ټوپکوالۍ ونيوه، ډېر ژر د ارزښتونو رنګول پيل شول، نور نو افغانانو نه په مذهبي موعظو باور کولی شو، نه په ملي او سياسي شعارونو، داسې وخت راغی چې افغانانو په هر څه باور له لاسه ورکړ. هر حرکت، هر نوم او هر شعار ورته تېرايستونکی او دروغ ښکارېده؛ سوله، ملي يووالی، مشرتوب، جنرالي، استادي، قوماندانې، خپلواکي، ديموکراسي، حزب، سياست، حکومت، پارلمان، روغه جوړه، مصالحه، عدالت، پوښتنه، مسؤليت، پوليس، قانون، اخلاق، عاطفه ... ټول بدرنګه شول، بې ارزښته شول، وسوليدل او خلکو پرې باور له لاسه ورکړل د فاسدو حکومتونو جوړول، کار اهل کار ته نه سپارل، په حکومت کې د څوکيو د ويش معيار د توان او استعداد پر ځای د قومونو ټيکه دارانو او زورواکو ته ورکول هم ددې پروسې برخه وه او په دې توګه د افغانستان د ايل کولو دوهمه نسخه هم کاميابه شوه.

**۳.د ځوانانو ځپل، انحراف او اخلاقوژنه :**

د بنکېلاک علمي مراکز ځوانانو ته هم متوجه وو، د ځوان نسل چاره هم باید شوې وای، د لوڅ انترنت، فلمونو، انګریزۍ، نایټ کلپ، هالیوډ او بالیوډ، بازاري موزیک، تلویزیوني انحراف، د لویدیځ شنه او سره باغونه له یوې خوا ، وژنو، ځانوژونکو یرغلونه، سیاسي مدرسو، خشونت او قهر له بلې خوا ځوانان سره وویشل.
یوه برخه ځوانان د «ایشوارا رای» او هالیوډي سکس په خمار کې ډوب شول، بله برخه د ځان وژونکو بمونو او ماینونو جوړولو ته کیناستل، یوه لویه برخه په ایران، پاکستان او عربو هېوادونو کې د یوې مړۍ ډوډۍ موندلو لپاره په مزدورۍ کې خوړین شول، په لکونو یې پوډریان کړل، ډېر یې لندن، امریکا او استرالیا ته د رسېدو په لاره کې یا نهنګانو وخوړل یا هم زندانونو، بختور یې ورسېدل او په هوټلونو کې یې کارپېل کړ.
ځوان نسل ته ټول علم، ټوله نړۍ په انګریزۍ او کمپیوټر کې راوړه شوه، ښاري ځوانان د یوې ګرل فرینډې په درلودو پسې ړانده شول او کلیوال د مزدورۍ یا ټوپک ګرځولو او افغان وژلو ایډیال خپله ټوله نړۍ وبلله.
اخلاق د هوس. وزګارۍ او بې رحمۍ ترمنځ ووژل شول.

۴.بې تولیده پانګوالي (سرمایه داري) :
لویدیزو ځواکونو ته د هغوی د تحقیقي – فکري مرکزونو ځلورمه نسخه اقتصادي نسخه وه، چې د بازار اقتصاد تر بالاپوش لاندې راننوته او هر څه بازاري شول، ډالر بنه پریمانه دي، خو تولید نه شته، خلک په بې تولیده ډالرو روږدي شول، د افغانستان د اقتصاد بنسټونه ونړېدل، لښتي او ویالې وچې شوې او شاړې زمکې هماغسې شاړې پاتې شوې. له کلیو څخه ښارونو ته په ډالرو پسې کډې بار شوې او ښارونه له خلکو داسې ډک شول، چې د اقتصادي جوړښت او کړۍ نظم یې مات کړ، ښار هم له تولیده پاتې شو او کلي هم له ټوپکو او مورچلو پرته بل څه نه لري. (اقتصاد) لویدیځ ته د احتیاج او ګدایي نوم شو، او لویدیځ هغه رضاعي مور شوه، چې هره شیبه د خپل تي څوکه د دغه احتیاج ملت له خولې څخه لرې کولای شي.

په دې منځ کې یوه ډله ټوپکوال، ډالروال، سیاستوال، موټروال او پانګوال چاغ شول، همدوی هم سیاست کوي، هم تجارت او هم د مرګ و ژوند پریکړه او ملت یې په یرغمل کې دی. لویدیځ هم له دوی سره معامله کوي او ګاونډیان هم له دوی سره لوبه کوي.

**۵.د دوو جبهو خلاصول :**

تحقیقي مرکزونو خپلو ځواکمنو سیاستمدارانو ته ددې حالت د استمرار او دوام لپاره پینځمه نسخه هم ورکړه او هغه دا چې راتلونکي نسلونه د ښوونځي او مدرسې په جبهو وویشل شي او د دوی ترمنځ دې یوه تلپاتې دښمني روانه وي. مکتب لوستي، مدني او پرمختګ غوښتونکي دې کافر، واجب القتله، صلیبیان او مزدوران وبلل شي او ددې په مقابل کې؛ د دیني چارو فعالان، مدرسه لوستي، علما او طلبا . خدای مکړه . وروسته پاتې، افراطیون، متحجر، د بشر د حقونو ضد او څه او څه ... وبلل شي او هغه د چا خبره چې :

ټول ملت مې یا قاتل دی یا مقتول

درپیمګړی نه لري.

له فکري او رواني پلوه به دغه تقابل او دښمنی تر هغه روانه وي، چې له تیغه پاتې محدود افغانان هومره ستومانه، نا امیده، بې باوره او زړه توري وي، چې د لویدیځو ځواکونو هرې غوښتنې ته هو ! وواییې او د رضایت خوله ورته جینګه کړي.

بیا به څه کیږي؟

پایله د زبرځواکونو غوښتنه ده :

یو محتاج، نالوستی، تابع، ستومانه، له پښو غورځیدلی، مات له ارزښتونو څخه خلاص، بې هویته، له ګاونډیو څخه ویریدلی، عصبي مزاجه او وژنو ته چمتو ملت چې خپل تر زمکې لاندې کانونه او سرچینې د ګیډې مړولو لپاره په دوو توتانو وپلوري، زبرځواکونو ته د هوایي ډګرونو په لاره کې سره غالۍ وغوړوي او هر کلی یې وکړي او بیا زبرځواکونه د خلیج انرژي، د سیمې اومه سرچینې، ددې جغرافیا له بشري ځواک

سره يو ځای په واک کې ولري، خپله ټکنالوژي راوړي او د توليد کارخانه دلته جوړه کړي همدلته هر څه شته : هم ترانزيتي موقعيت، پريمانه او ارزانه کانونه، ارزانه او تابع بشري ځواک او کارګران، نالوستي او بې خبره، ايل شوي ملتونه . دوی ته بايد بشري حقونه او ډيموکراسي (!) ور وپېژندل شي او که نه په ځانمرګيو بريدونو کې وژل کېږي. ټکنالوژي او اداره به د زبرځواکونو وي او نور هر څه به د سيمې د خلکو. ګټه به هم د زبرځواکونو وي خو يوه مړی ډوډۍ به د سيمې خلکو ته هم ورکوي، ځکه نور نو د زاړه ښکېلاک وخت تېر دی، دومره عدالت خو شته، يو څه خو دا خلک هم حق لری، اخر انسانان دي. په دې توګه معاصر او د بشري حقونو د وخت ښکېلاک او زبېښاک له دې ځايه پيلېږي او د انساني تاريخ يو بل پړاو به وآزمايل شي.

زبرځواکونو ته د تحقيقي اوعلمي موسسو نسخې هو به هو عملي کېږي، هر څه سم روان دي، افغانان لاهم ډېر اسانه يو بل وژني او ارزښتونه يې نړېږي، ځينې ځوانان لاهم د هاليوډي نجونو سپين بدنونه په خوب کېويني او څه يې د حورو په تمه په ځانونو پوري بمونه تړي، پرژوه بريالی ده.

درېيمه لاره :

د ويښتيا او روښانتيا پړاوونه بايد پيل شي. هره ښېګڼه د «افغان انسان» لپاره!

ترهر څه وړاندې بايد خپلو ارزښتونو ته وروګرځو او هر ډول، چې کېږي د افغان په لاس د افغان د وژلو ، لوبه پای ته ورسوو.

زبرځواکونو خپله لوبه له همدې ځايه را پيل کړې ده (يعنې يو افغان بايد بل ووژني!) موږ ( افغانان) بايد دا لوبه له همدې ځايه ودروو، د سپيڅلي اسلام له مقدسو ارشاداتو څخه مرسته واخلئ « د يوه مومن انسان وژل تر ټولو ستره ګناه ده!» ديني علما مرستې ته راوبولئ او د زبرځواکونو مکر او خدعې ته يې پام ورواړوئ د «افغان انسان» ارزښت او قيمت وځلوئ. هېڅ سياسي ارمان، مبارزه او هدف ددې ارزښت نه لري، چې د هغه لپاره د يوه افغان مسلمان يو څاڅکی وينه تويې شي. هېڅ سياسي ارزښت د افغان له ژوند ه مهم نه دی.

موږ د وحشي، بې عاطفې، وژونکي او ... نومونه ولې ګټلي دي.

هم مې و وژني پخپله، هم په ما باندې ژړا کا
څه ښه يار دی ښه يې مينه وژل هسې شيون هسې
موږ د خپلو درې ټريليونو کانونو، روانو اوبو او جيوستراتيژيک موقعيت قربانيان يو.
راځئ موږ هم علم او عقل ته مراجعه وکړو، له خپلې سپېڅلې عقيدې څخه مرسته وغواړو، ملي اخلاق وساتو او له خپلو امکاناتو څخه د توليدي اقتصاد بنسټ کېږدو.
له زبرځواکونو سره د ټوپک په خوله خبرې نه کېږي.
لوی دښمن ماتول پوهه ،لويه اراده او لوی ځواک غواړي
ويښتيا او روښانتيا غواړي
مدني مبارزه غواړي، مدني مبارزه له اقتصاد او د معقول سياست د ميز له شا څخه پيل کېږي، نور سنګرونه او ډزې ګټه نه لري دا بې ځايه زړورتيا نه ، عقل غواړي، پوهه غواړي.
يوازې له خپلو سرچينو څخه د ځان مړولو، هېواد آبادولو او ويښتيا او روښانتيا د پراوونو له بريالي بشپړلو لپاره ښايي کار واخلو.
لوڅ فلمونه او ځانمرګي واسکټونه دواړه د ښکېلاک او زبېښناک سوغاتونه دي :
افغانستان او افغان انسان ترې وژغورئ!

# چې په تنګ شي نو په جنګ شي

ملګري مې په ټیلیفون کې ګیله وکړه، چې ځینې په اصطلاح فرهنګیان، روښانفکران او لوستي خپل ملي مسؤلیت په لوی لاس هیروي، چې ګواکې سیاست یې بد راځي او نه غواړي په ساستمدارانو کې شمار شي.
زه فکر کوم، چې په افغانستان کې سیاستونه دومره بدنامه شول، چې اوس هر څوک له سیاسي بدنامۍ څخه ویرېږي. یو شمېر ځانساتي فرهنګیان په لوی لاس مکتب لوستي او باسواده افغانان دې ته نه پرېږدي چې د افغانستان د خلکو په مرګ، لوږه، بې سوادۍ او بده ورځ فکر وکړي. دوی وایي : نه! فرهنګیان باید له سیاسته لرې وي، یوازې شاعري وکړي یا کیسه ولیکي یا هم کره کتنه وکړي، ځینې نور بیا وایي سیاست ککړ شی دی او هر څه له ځانه سره ککړوي، په دې برخه کې زه قطعاً نه غواړم له سیاست څخه دفاع وکړم او یا هم دا ووایم چې روښانفکران دې هرومرو سیاست وکړي. خو بنایي دومره ووایم چې د ویښتیا او روښانتیا د پړاوونو په وړاندې ټول مسؤل او مکلف دي او هر څوک چې د خپلو هېوادوالو سلاخي (قصابي) لوږه او په نړۍ کې تر ټولو بد حالت ته لاس تر زنې کیني او بهانه یې هم فرهنګي طهارت او تقوا وي نو ګومان مې نه شي چې دا تقوا یې قبوله شي.
ستونزه : درې لسیزو سیاسي نېرنګونو، د پردیو لاسوهنو، په زبرځواکونو پورې تړلیو سیاسي ډلو او مکارو سیاستوالو خلک د سیاست له نامه سره حساس کړل.
تردې چې سیاست د دروغو، چل او تېر ایستلو بل نوم شو، په عامو خلکو کې داسې دود شو، چې څوک له چا سره ناریښتیني چلند وکړي، نو مخامخ لوری په ګیله ورته وایي : ګوره وروره له ما سره سیاست مه کوه! بنایي سیاست همداسې یو شی وي، خو عملي سیاست له دې ملي او انساني احساس او کار سره کاملاً متفاوت دی، چې څوک دې د خپل ملت او هېواد د ژغورلو لپاره فکر وکړي او عملاً دې په زړورتیا سره د

ژغورلو غږ پورته کړي، دا خوځښت له شوقه نه ،بلکې له مجبوريته کيږي ، ځکه وايي : چې په تنګ شي ، نو په جنګ شي !

عملي سياست څه دی : په ساده ژبه عملي سياست هغه دی چې څوک يا سياسي قدرت په لاس کې ولري او يا هم ددغه قدرت د ګټلو لپاره عملاً مبارزه وکړي.

ددې ترمنځ د سياسي فشار او ريفورميستو حرکتونو رامنځ ته کول هغه څه دي، چې مدني ټولنه او د ويښتيا او روښانتيا ځواکونه يې ترسره کولای شي. ښايي د روښانتيا غورځنګ هېڅکله ونه غواړي چې حکومت راوپرځوي يا خامخا ځان سياسي قدرت ته ورسوي خو د دوی ملي مسؤليت او مکلفيت دادی چې هېواد او ملت له سقوط، ناورين او مرګ څخه وژغوري.

د افغانستان لوستي، اغېزمن، روښانفکره او فرهنګي څېرې مسؤلې، مکلفې او مجبورې دي چې د افغانستان د روښانتيا غورځنګ پيل کړي، چې هېواد او افغان انسان له رواني فاجعې څخه وژغورلای شي.

افغانستان يو ځل بيا د راپرځېدو (سقوط) پر څنډه ولاړ دی، نړيوالې دسيسې، سيمه ييزې توطئې او کورنۍ لنډه غرې ډلې غواړي دا هېواد درې ورې کړي، افغانان ووژني او ښوونځي يې ور وسوزوي په همداسې حال کې ځينو لوستيو او روښانفکرو فرهنګيانو له دې ويرې، چې دسياست ټاپه پرې ونه لګيږي، د تارک الدنيا ژوند او فنافي الخيالات سوړې ته پناه وړې ده او په دې توګه سياسي ټولنيز ډګر يا بې رحمه ټوپکوالو، قاچاقبرو، مافيايي سوداګرو او وژونکو ته ور پاتې دی او يا هم د سيمه ييزو کړيو ګوډاګيانو او نړيوالو جواسيسو ته، هومره چې ګوته په شمېر ملي او پر افغانستان دردمن سياستوال هم د دوی د بدنامه سياستونو په بوږبوکيو کې ورک دي او په اصطلاح (در کان نمک رفت ونمک شد).

درپیمه لاره :

يو ملي فکري او عملي محور بايد رامنځ ته شي او د روښانفکرو، لوستيو، فرهنګيانو، متنفذو، اغېزمنو شخصيتونو او د نېکنامو سياستوالو په ګډون ښايي د

ویښتیا غورځنګ سررا پورته کړي، چې ملت له سقوط څخه د ژغورلو تر پولې ورسوي، که څه هم ونه غواړي چې ځواک ونیسي او یا کوم حکومت را وپرځوي خو افغانستان او افغان انسان باید وژغورل شي.

ملت ولې پریشانه دی؟ ولې د خپلو پوښتنو ځواب نه لري؟ ولې د همدې څو تکراري څېرو او ډلو په فوټبال کې راګېر دی، ځکه ګڼو روښانفکرانو او فرهنګیانو خپل رسالت نه دی ترسره کړی، دوی ښایي د یوه منظم ملي جوړښت په دننه کې منسجم شي، د افغانستان لپاره یوه علمي اقتصادي طرحه رامنځ ته کړي، پر حکومت فشار راوړي چې هغه عملي کړي، افغان انسان باید د پوهې اوملکیت خاوند شي، دویښتیا غورځنګ باید افغانان له ملي، سیمه ییزو او نړیوالو دسیسو څخه خبر کړي او له دې لومو څخه یې د راوتلو لاره هم وروښي.

د ویښتیا غورځنګ باید د افغانانو د عامه ذهنیت رهبرۍ ته ځان ورسوي او وکړای شي،چې د مبهمو سیاسي پرمختګونو په دې توپان کې خلک ویښ وساتي، پوښتنو ته یې ځوابونه ومومي او د اصلاح او مثبت خوځون پر لور او لارې یې ورسم کړي. دعامه ذهنیت د رهبرۍ د ترلاسه کولو لپاره کړنلارې زموږ په نورو بحثونو کې معرفي شوي دي.

د دریيمې لارې په دې برخه کې په ټولو روښانفکره افغانانو غږ کوم، چې دویښتیا د غورځنګ د رامنځته کولو حیاتي او تاریخي وخت دی، که مو دا هم له لاسه ورکړ، نو وطن له لاسه وتلی بولئ.

موږ په تمه یو ،چې د یو چا له خولې واورو :

ـ هه! زه مخکې کېږم راځئ راپسې،. د ویښتیا او روښانتیا په لور! ـ

# افغانستان،دوېښتيا غورځنګ

# او بهر میشتي افغانان

هرهېواد ته چې ولاړم ، له خورو ورو افغانانو سره مې وليدل ، مېلمه يې کړم، مينه يې وکړه ،د وطن لپاره يې وژړل، څوک دې ته خوشاله وو ، چې له هېواده څوک راغلي او د وطن کيسې ورته کوي او څوک سخت په غوسه وو ، چې ولې په وطن کې جګړه لاهم روانه ده، فساد ښکر او لکۍ پيدا کړي اود سياست، اقتصاد او قانون ميدان ټوپکوالو اومافيايي ډلو ته ورپاتې دی. د بهر ميشتو زړونه د افغانستان لپار درزيدل، ځينو يې ويل هره شپه ځان په وطن کې په خوب کې ويني، چا ويل غواړي بېرته وطن ته ستانه شي او يو څه وکړي، څوک سخت نااميده او زړه تورن وو، چا زموږنسل ته نصحيت کاوه چې ويښ اوسو او پخوانۍ تېروتنې تکرار نه کړو او ...

ماته دوه انګېرنې پيدا شوې :

۱.ګڼ افغانان ،هر چېرې چې دي، افغانستان يې نه دی هېرکړی او غواړي يو څه وکړي ،خو دقيقاً نه پوهېږي، څه وکړي او څنګه يې وکړي؟

۲.الحمد الله، چې افغانان هر چيرته په خپل افغاني همت ژوند کوي؛ ځېنې ښه اقتصاد لري ځېنې يې منځنی او ځينې يې هم کمزوری، خوټول غواړي افغانستان او افغان انسان ته يې ګټه ورسېږي.

يو ې ستونزې ته مې هم پام شو ، له بده مرغه يو شمېر افغانانو بې اتفاقي هم له ځانه سره بهرته وړې، سليقه يې اختلافونه، په ايډيولوژيو سره ويشل کيدل، حزبي دښمنۍ او

... يې لاهم په ماغزو او زړونو کې د پټو وسوسو په څېر ښوري را ښوري خو له دې سره سره د وطنپالنې لپاره ټول يو بختور حسادت لري، چې ښايي قدر يې وشي.
هر ځل چې بېرته راستون شوی يم او د سفر ستوماني مې ايستلې ده، ددغو عزيزانو د فکرونو او احساساتو په اړه مې فکر کړی او بالاخره دې پايلې ته رسيدلی يم:
هو! بهر ميشتي افغانان ډېر څه کولای شي او بايد ويې کړي، دوی د افغانستان او افغان انسان ژغورنې لپاره تر هر چا ډېر کار کولای شي او دلايل يې هم دادي :
۱.دوی نسبتاً په آزادو او ديموکراتيکو ټولنو کې ژوند کوي او غږيې تر ډېرو ځايونو پورې رسيدلای شي.
۲.اقتصادي حالت يې تر هېواد ميشته هېوادوالو ښه دی او هر مثبت بدلون، سياسي فعاليت او د ملي رهبرۍ د رامنځ ته کولو لپاره هڅه يوه اقتصادي ملاتړ ته اړتيا لري .
۳.له رواني او فکري پلوه دوی پياوړي دي، ځکه نسبتاً په آرامو شرايطو کې ژوند کوي، دکورنۍ د نفقې غم يې هره شيبه نه سکونډي، او د بهرنيو هېوادونو د سياستوالو له تجربو څخه يې زده کړه کړې، په دې پوهېږي چې په سړو مغزونو او ګرمو زړونو کار کول غوره دی او ښايي دا يې هم زده کړي وي چې د هغوی کوربانه (د هغو هېوادونو خلک چې دوی په کې اوسېږي) څنګه له خپلو هېوادونو سره ريښتنې مينه لري.
۴.دوی مجرب او بانفوذه خلک دي ،ځکه پخوا يې په افغانستان کې په نسبتاً ښو شرايطو کې زده کړه او کار کړی او اوس اوس د نورو هېوادونو د سياست کار او مبارزې تجربه هم لري، ځکه يې نو اعتبار هم په افغاني ذهنيتونو کې بد نه دی.
۵.دغه شمېر افغانان د هغې پېژند ګلوۍ او اړيکو پر بنسټ چې له نړيوالې ټولنې سره يې لري د يوه ملي لابي ګروپ په توګه د نړيوالو د ذهنيت په چمتو کولو او د يوې ملي رهبرۍ د رامنځ ته کېدو په ګټه د نړيوالو د پام را اړولو ډېر توان درلودلای شي.

د همدغو دلایلو پر بنسټ بهر میشتي افغانان دويښتيا دغورځنګ په بریالیتوب کې، چې د یوې ملي رهبرۍ تر سیوري لاندې د افغانستان د ژغورنې او ودانۍ علمي – عملي پروګرام پرمخ بیایي، بنسټيز رول لوبولی شي.
درېیمه لاره :
اوس به نو د څه کولو او څنګه کولو پر میکانیزمونو رڼا واچوو.
ټول بهر میشتي افغانان چې دافغانستان او افغان انسان لپاره د څه کولواراده لري بنایي دهمکارۍ او همغږۍ یو نړیوال جال جوړ کړي. دوی که په خلیج کې دي که په اروپا یا امریکا او استرالیا کې، که د پخوانۍ شوروي په هېوادونو یا د افغانستان په ګاونډیو، هند او یا بل ځای، د ویښتیا د غورځنګ بهر میشتی زړی (هسته) جوړولای شي، چې بیا په کور دننه (افغانستان کې) د ویښتیا د غورځنګ هڅې پیاوړې کړي. په افغانستان کې دننه د ملي رهبرۍ لپاره هڅې او بیا له دې لارې د ژغورنې د علمي او عملي کړنلارې د رامنځ ته کولو او عملي کولو لپاره د بهر میشتو مرسته خورا ضروري ده، د بهر میشتو افغانانو مرسته په لاندینیو مشخصو برخو کې مهمه ده :
۱. د ګډونونډې ( حق العضویت)، بسپنې، مالي مرستو او تجهیزاتو په برابرولو کې ونډه.
یادونه : د ویښتیا غورځنګ بنایي په خپله د بهر میشتو افغانانو په مرسته داسې یو شفاف او حساب ورکوونکی سیستم رامنځ ته کړي چې هر مرسته ورکوونکی افغان بشپړ ډاډ ولري چې یوپول یې هم بې ځایه نه ځي. مانا دا چې دا به د هغو NGO ګانو یا فرهنګي ټولنو په څېر کار نه وي چې له بده مرغه د بهر میشتو افغانانو اعتماد ته یې زیان وررسولی او دوی یې له نورو مرستو څخه زړه توري کړي دي.
۲. له نړیوالو مثبتو لوریو سره د تماس اود افغانستان د ملي ګټو لپاره د داسې بین المللي اړیکو جوړول چې د یوې ملي رهبرۍ په رامنځ ته کېدو کې لږ تر لږه خنډونه له منځه وړلای شي او نړیوالو ته داسې ذهنیت ورکړای شي، چې د ویښتیا دغورځنګ بریالیتوب یوازې د افغانستان نه ،بلکې د ټولې نړۍ په ګټه دی.

۳.د پوهې، تجربې او عملي هڅو پر بنسټ د جوړوشویو طرحو او فکرونو رالېږدول، بهر میشتي افغانان ښايي له دې اړخه هم دويښتيا غورځنګ پیاوړی کړي.
۴.د سختیو پرمهال له بهره دملاتړ لاس راغځول :
دويښتيا د غورځنګ هېواد میشتي فعالین خامخا له ګوابن، محدوديتونو او ډول ډول ستونزو سره مخامخ کېدای شي.
دا مهال نو بهر میشتي د پراخو اعتراضونو، خبرونو او دنړۍ د ديموکراتو، پر بشري حقونو ولاړو او د آزادۍ سرلارو غورځنګونو، بنسټونو او شخصيتونو مرسته راونښوي، او په اصطلاح د مظلومو روښانتياپالو افغانانو چیغه پورته کړای شي. نن سبا د مدني ټولنې نړیوال جال شته او په هر هېواد کې د مدني بنسټونو او شخصيتونو غږ نړیوالې څپې رامنځته کولای شي. د افغانستان د مدني غورځنګونو غږ بهر میشتي افغانان ښه ترا او چتولای شي.
د ويښتيا او روښانتيا په دواړو پړاوونو کې بهر میشي افغانان ژوند بښونکې ونډه درلولای شي، موږ فکر کوو: دا د افغانستان د ژغورلو یوازینۍ لاره ده چې پر یوه ملي اوعلمي محور راټول شو ( پر علمي محور ځکه ټینګار کوم چې ښايي د افغانستان د خپلو شرايطو پر بنسټ له فکر او غور وروسته جوړ شي).
په دې اړه یو ځل بیا ستاسو د غبرګون په هیله

# لەنويو سياستونو سره زموږ زوړ چلند

دا څوومه سياسي غونډه ده، چې زه ورڅخه زده کړه کوم، خو زموږ هغه سياستوال چې يو څه کولای شي او اجرايي صلاحيت لري لاهم له دې زده کړې څخه ناخبره دي. دا زده کړه څه ده؟

موږ بايد له ګاونډيو او نړيوالو زبرځواکونو سره څه ډول چلند وکړو؟

نهه کاله کيږي چې موږ زبرځواکونو ته د خپلو ګاونډيانو له لاسه شکايت کوو، ورته ژاړو، خدای او قرآن ورته شپې (شفيع) کوو، ګوابښ ورته کوو، اسناد ورته را باسو او ... خو نه زبرځواکونه را باندې رحميږي او نه هم ګاونډيان را څخه لاس اخلي، دا ولې؟

ستونزه:

اصلي ستونزه داده چې موږ روانه جګړه نه ده پيژندلې، له پيښو سره زوړ چلند کوو. او په سياسي مناسباتو کې عقيده، اخلاق او عواطف لټوو.

غوارم همدلته يې وو ايم، چې روانه جګړه له عقيدې، عواطفو او اخلاقو سره هيڅ ډول ميکانيکي اړيکه نه لري، دا جګړه يوازې او يوازې د ګټو او ځواک جګړه ده هر څوک

(د جګړې هر لوری) په خپلو ګټو پسې دی، نه زموږ د دين او ايمان غم ورسره دی، نه يې پرموږ زړه سوزي او نه هم زموږ په وړاندې کوم اخلاقي مکلفيت لري، خو زموږ برخورد ورسره داسې دی چې :

۱. کله ورته ژاړو ، چې خدای او رسول ته وګورئ له موږ لاس واخلئ، ګورئ بچي مو وژل کېږي ښځې را کونډېږي، وطن را خرابېږي ... دښمن زموږ په دې وضعيت کړس کړس خاندي او زموږ له کمزورتيا او مجبوريت څخه خوند اخلي.

۲. کله کله اسناد په لاس راشي او خوشاله شو چې هه! دادی ثابته مې کړه چې پلانی ګاونډی او پلانی زبرځواک زموږ په چارو کې لاس وهي، له موږ سره صادقانه چلند نه کوي او په خپل قول نه درېږي او دادی موږ اسناد په لاس لرو، ددې په مقابل کې مخالف لوری لا پسې په کړس کړس وخاندي او وايي هو ! دا هر څه کوم ورځه لاس دې خلاص، څه کولای شې؟

په دې کې موږ بيا خپل (تش لاس) ته وګورو او : لکه يتيم له ژړا ډکې سترګې چاته واړومه؟!

۳. نهه کاله کېږي چې موږ د روانې ستونزې دعواملو په پېژندنه تېر کړل، دا غر په هغه غره ولو، د کارپوهانو ډلې ډلې تلويزيون په تلويزيون او راډيو په راډيو ګرځي، حکومت هم د کميسيونونو دروبڼ جوړ کړي، نړيواله ټولنه هم دتحقيقاتو وعدې ورکوي، بس ټول سره ورک دي چې د کوم څه (؟) عامل او معلول معلوم کړي. خو ،پخوا د کلاوې سر ورک و ، اوس ټوله کلاوه ورکه ده، نه علت معلوم شو نه معلول، هغه څه چې کم دي ددې اساسي پوښتنې ځواب دی چې « څه بايد وکړو ؟).

موږ له (علت پلټنې ) څخه (عمل کولو) ته نه يو وراوښتي. او عمل ځکه نه شو کولای چې وس يې نه لرو او وس يې ځکه نه لرو چې موږ پر ملي ارادې دتکيه کولو توان نه دی رامنځ ته کړی.

موږ له خپلو ګاونډيو او زبرځواکونو څخه د ګيلې حق ځکه نه لرو، چې دهغوی په وړاندې د څه کولو وس نه لرو، که يو ګاونډی ښه په ښکاره زموږ په چارو کې لاس وهي

نو موږ د هغه دمخينوي لپاره څه کولای شو؟ کوم وسايل لرو؟ چې د هغه مخه ونيسو؟ وسايل يوازې توپ او ټوپک نه دي، وسايل د افغانستان د ټول ملت متحرک کول دي؟ (که د افغانستان نفوس ۲۸ميليونه فرض کړو) د ۲۸ميليونو افغانانو قانع کول يوه لويه وسله او لوی قوت دی، خو موږ لاهم ۲۸ميليونه افغانانو ته خپل دښمن نه دی ورپېژندلی او دوی ته مو د قوت کېدو لاره چاره نه ده ورښوولې. ولې ؟ ځکه، چې موږ په دې فکر نه دی کړی، موږ ددې پر ځای چې ۲۸ميليونه افغانان سره يو کړو او په ځواک يې له ګاونډيو او زبرځواکونو څخه لاره ورکه کړو، ايله مو د څوکيو پر ويش ناندرۍ وهلې، د پيسو ګټلو هڅه مو کړې او د وروستي موډ دريشي اغوستلې په مرمۍ ضد موټرو کې سپاره شوي يوو، زموږ لپاره د حکومتوالۍ ټول معيارونه همدا دي.

نو ټاکلې ستونزې دادي :

۱.افغانستان دښمنان لري!

۲.دا دښمنان نه عقيده پېژني، نه له خدايه ډارېږي، نه يې زړه سوزي او نه هم اخلاق لري؟

۳.دښمنان د خپلو ګټو لپاره زموږ دښمنان دي؟

۴.خو موږ خپلې ګټې نه پېژنو؟ لا مو خپلې ګټې نه دي تعريف کړي.

۵.دا ګټې زموږ تر جيب، موقف، څوکۍ، ډلې او قوم پورې را وړې شوې دي.

۶.د ګټو تعريف اسانه دی، خو که معيار يې (افغانستان) او (افغان انسان) وي.

۷.د (څه بايد وکړو!) مهم اصل مو هېر دی.

درېيمه لاره :

تر هر څه وړاندې بايد له دښمن سره د برخورد بنسټونه نوي کړو.

د هغوی د رحم، اخلاقو او عقيدې را ننګول پرېږدو. دا زموږ کار نه دی چې په ګاونډيو کې اخلاق ورزو، د ملامتولو لپاره يې اسناد برابر کړو يا ديني موعظې ورته وکړو.

موږ باید خپل ټول قوت د ځان جوړولو لپاره را غونډ کړو او خپل ملي قوت د دې لپاره وکاروو چې د کړو خولو د سمولو لپاره سوک ولرو.
(د ځان پیاوړي کول) د ټولو ستونزو د حل کیلي ده، خو ځان به څنګه پیاوړی کوو؟
تر هر څه وړاندې باید ۲۸میلیونه افغانان په پورتنیو واقعیتونو خبر کړو او په دې یې وپوهوو چې یونه، څو لوی دښمنان راته په کمین کې ناست دي او دا دښمنان د ۲۸میلیونو افغانانو ملي زور څخه ډېر ویرېږي، ځکه خو یې یو کیدو ته نه پرېږدي.
۲۸میلیونه افغانان باید د ۲۸میلیونه افغانانو د ژغورنې، پرمختګ او هوساینې لپاره سره یو شي (هر څه د افغان انسان لپاره!)
راځئ له خپل ملت سره خبرې وکړو! رهبري یې کړو او د ژغورنې استقامت ته یې ورسم کړو.
د ویښتیا د ملي غورځنګ لومړی ګام باید داوي چې د سیاستوالو او ملت ترمنځ د پوهاوي پول جوړکړي، که ملت مو خبر کړ او بیا مو ورته (د څه کولو) علمي. عملي میکانیزمونه ور وښوول هر څه په ډراماتیک ډول سمېږي.
بیا د روښانتیا په پړاو کې د (ځان پیاوړي) کولو لپاره د ۲۸میلیونه افغانانو عمل دی، هره ورځ ۲۸میلیونه خښتې یو پر بل کېښودل کېدای شي، هره ورځ ۲۸میلیونه نیالګې کینول کېدای شي او هره ورځ ۲۸میلیونه کیلو غنم کرلای شو، هره ورځ ۲۸میلیونه لیتره اوبه پر خپلو دښتو ورسمولای شو، خو باید د ۲۸میلیونه افغانانو لپاره ملي رهبري رامنځ ته کړو، دا رهبري اسانه رامنځ ته کېږي د ویښتیا د پړاو دنده همدا ده چې له نویو سیاستونو سره زموږ چلند نوی کړي او ملت پر خپل ځان را غونډ کړي. د دې لپاره چې ۲۸ میلیونیز ځواک رامنځ ته کړو، نو (هر څه د افغان انسان لپاره) باید معرفي شي، ټول سیاستونه باید افغانستان محوره شي.
مخ پر وړاندې د ودان افغانستان په لور!

# ملت–دولت

## داړیکو اړواپوهنه

په ولسواکو ټولنو کې د دولت (دریواړو ځواکونو : اجرائیه، مقننه او قضائیه) او ملت ترمنځ د اړیکې ډېره ساده پیژندنه دا ده: ملت رایه ورکوي او دولتي اراکین ټاکي، دولتي اراکین ددې لپاره کار کوي چې د خلکو رضایت ترلاسه کړي او واک وساتلای شي ، مخالف ګوند (ګوندونه) چې په اپوزیشن کې دي غواړي خلک په دې قانع کړي چې دوی( اپوزیشن) تر حاکم ګونده ډېر څه کولای شي ، ځکه خو بل ځل بنایي خلک دوی ته رایه ورکړي. دا رابطه خامخا جزئیات لري او تر دې ساده شرحې یو څه پېچلې ده، خو ډېر عام منطق یې همدا دی.
په پورتنۍ معادله کې دغه عناصر شته:
۱– ولس (رایه ورکوونکي)
۲– ګوندونه (رایه اخیستونکي)
۳– پوزیشن (واکمن لوری)

۴- اپوزیشن (دواک ترلاسه کولو لپاره سیال لوری)
۵- د خلکو رضایت اودلا ښه کار او پرمختګ لپاره عملي سیاستونه او هڅې یا خدمت (دسیالۍ معیار)
۶- ددولت ددرې ګونو څواکونو دچاروا کو ټاکل (پایله)
ددې عناصرو تر منځ دهڅو داسې یوه منظمه اړیکه شته چې دهر بدلون لپاره ذهنیتونه چمتو کوي، په دې لیکنه کې غواړو په همدې اړیکه تم شو، ما ورته د اړیکو ارواپوهنه ویلي، کیدای شي سم نوم به وي یانه؟
اول ښایي یادونه وکړو ، چې له پورته یادو شویو عناصرو څخه دهریوه کمښت یا کمزوري ټوله معادله ګډوډولای شي.
دوهم ، دا چې که داړیکو او سیالۍ معیارونه بدل شي بیا هم ګډوډي پیښیږي ، څکه عامه ذهنیت ته نور ارزښتونه (ممکن منفي) ورننوځي په دې حالت کې ډیر څله سیاسي کړکیچ را منځ ته کوي.
دریپم دا چې ،که ټوله معادله د یوې ټولنې له ارزښتونو ، ټولیز شعور او معتقداتو سره په ټکر کې وي یا په مصنوعي او تقلیدي بڼه پرې تپل شوې وي بیا هم کار نه ورکوي.
زموږ ستونزه:
اول خو موږ د ولسواکۍ ټوله معادله له خپلو ملي ، کلتوري او عقیدوي ارزښتونو سره نه ده سمه کړې.
دوهم د معادلې ټول عناصر پوره نه دي ، د بیلګې په توګه لا هم ریښتیني سیاسي ګوندونه،چې هم سراسري –ملي وي ، هم د افغانستا ن د ژغورلو لپاره علمي –عملي طرحې ولري ، نه لرو.
تش په نامه سیاسي اپوزیشن تر دې چې په سیاله برخه کې وي تر غوږو په حکومت کې ننوتی او په چور تالان بوخت دی ، هم حکومت خوري او هم د اپوزیشن پیښې کوي.
دسیالۍ معیار هم د خلکو رضایت او خدمت نه ، بلکې له څوکۍ څخه په واک کې د پاتې کیدو او ګټې وټې لپاره کار اخیستل دي.

څرنګه چې دسیالۍ لوري د ګوندونو پر ځای افراد دي او د اړیکو داروابېوهنې له مخې افراد که دییا ګټلو لپاره دهڅوګوندي مسولیت ونه لري نو مستبد کېږي ، په تیره بیا چې دا افراد له استبداده ډکه سابقه ولري او دواک اوسنی چاپیریال یې هم استبدادي وي. دا وګړي له ځانه سره فکر کوي: هسې هم د بیا څوکۍ ګټلو چانس د خلکو درایې پراساس کم دی نو راځه له لنډمهالي واک او ځواک څخه کار واخله پیسې وګټه او ځان لا زورور کړه،ځکه د همدې پیسو او زور په مرسته بیا ځلې رایې په پیسو اخیستلای شي.

دلته نو دوه ډوله سیاسي معادلې زموږ تر مخې دي :

۱- د خدمت ، پرمختیا او ریښتینولۍ پر بنسټ د ملي . سراسري ګوندونو تر منځ دواک تر لاسه کولو لپاره د ولس درایو تر لاسه کول او دولت ته راتلل یا په اپوزیشن کې پاتې کیدل.

۲- دپیسو اوناقانونه زور د ډیرولو لپاره د خلکو رایې په زور او زر اخیستل او واک ته رسیدل او په واک کې بیرته د لګول شویو پیسو څو چنده ګټل ،چې بل ځل یې بیا په انتخاباتو کې ولګولای شي . په دې معادله کې منظم اپوزیشن نشته ځکه واکمن لوری په روان چور تالان کې اپوزیشنونو ته هم څوکۍ په بډو کې ورکوي او په دې توګه له هغو څخه دسالمې سیالۍ توان او اعتبار اخلي.

دلومړۍ معادلې حاصل زیاتېدونکی خدمت، پرمختګ، ملي سوکالي اودهېوادني ځواک ډیریدل دي خو ددوهمې معادلې حاصل زیاتېدونکی فساد ، د دولت او ولس تر منځ دواټن ډیریدل اوملي وروسته پاتې والی دي،چې دهیوادني ځواک پر ځای په کې د افرادو یا مافیایي ډلو ځواک ډیرېږي. د دوهمې معادلې لوبغاړي افراد او یا هم ډله ییز مافیایي جوړښتونه دي او هڅه کوي د ملي – سراسري ګوندونو درامنځته کیدو مخه ونیسي .

درېیمه لاره:

دویښتیا او روښانتیا پراوونه ښایي بدلون ته لاره هواره کړي ، داسې چې دروښانتیا په پړاو کې دملي . سراسري ګوندونو درامنځ ته کیدو هڅې پیل شي ، ددې هڅو فعالین ښایي ولس د دواړو معادلو په حقیقت خبر کړي او د ریښتینو ګوندونو د رامنځ ته کیدو اړتیا په ملي سطحه مطرح کړي. پر ګوندونو او ګوندي سیاستونو د خلکو بایللی باور بېرته را ژوندی کړي او ټولنه د روښانتیا پړاو ته ننباسي ، د روښانتیا په پړاو کې باید ګوندي سیالي پیل شي او د سیالۍ مثبت معیارونه دفردي او مافیایي ګټو ځای ونیسي ، په دې توګه په ملي سیاست کې یو رغوونکی بدلون راتلای شي.
ګوندي فعالین ښایي د دولت او ولس د اړیکو پر اروا پوهنه پوه شي ، خلکو ته یې وروپیژني او په ټول بهیر کې یې د ښاروندانو مسولیتونه ، حقونه او پایلې عامې کړي.
دویښتیا غورځنګ مکلف دی په دې اړه پراخ بحثونه او ساده شرحې د خلکو منځ ته ورننباسي او په دې توګه ولسي خوځښت ته لاره هواره کړي.
تر هغو چې دواک لپاره دسیالۍ لوري د افرادو پر ځای ګوندونه نه شي او داصلي معادلې ټول عناصر په خپلو خپلو ځایونو کې رامنځ ته نه کړو ، خدای خبر چې د هېواد دروان ناورین کورني عوامل له منځه ولاړ شي او تر هغو په کور دننه پیاوړي نه شو ددغه ناورین له بهرنیو عواملو سره هیڅ نه شو کولای.
هېوادوالو ! د ویښتیا په ملي غورځنګ کې د درېیمې لارې مزل پیل کړئ او د ریښتینو ګوندونو مثبتې سیالۍ ته لاره هواره کړئ ، چې ټول د ودان افغانستان ځنډن ارمان ته په ګډه سره ورسیږو .

# ګوندونه ، سیاسي ځواک او خلک

په ترکیه کې مې د ټولنپوهنې له یوه استاد سره د افغاني او ترکي ټولنو په مشابهتونو خبرې کولې، ټوکي او خوښمزاجه استاد و، د سیاسي ګډوډیو پرمهال یې د دوو ساندوګانو ( د دوو خویندو مېړونه) کیسه کوله چې یو سیاستوال و ، بل سوداګر . سیاستوال دکوم ګوند مشر شو او دا بل، چې سختې سیالۍ راپارولې و، خو د سیاست پوهه او حوصله یې نه درلوده ،کوم چا ته ډېرې پیسې ورکړې چې دده په نامه نوی ګوند ثبت کړي. دې طنز ته مو ښه وخندل او مجلس بلې خواته ولاړ ... خو ماته یې دځینو ځینو افغاني سیاسي جوړښتونو بېلګې راپه یاد کړې. اودا پوښتنه یې راوپنځوله چې د ګوندو د جوړیدو انګیزه څه ده؟

دلته ګڼ ګوندونه ددې لپاره جوړیږي ، چې ځینې وګړي پرې واک ته ورسیږي. دا به بنایي ناقانونه او ډیر هېښوونکی کار نه وي، خو د ګوندونو د جوړیدو او وجودي منطق پرخلاف کار هرومرو دی.
دګوندونو د جوړیدو سمه معادله دا ده، چې یو شمیر وګړي په یوه داسې فکري تګلوري سره سلا شي ، چې ددوی پراند دانساني ژوند دلاښه کیدو لپاره ترنورو تګلوریو غوره وي . نورو ته دهمدې فکر ورپوهاوی( تفهیم) او ترنورو فکري جوړښتونویې ښېګڼې زبادول د ګوند دمانوفیست بنسټ ګرځي او د دغه فکر عملي کول دګوند دمبارزې تاداو وي. تر دې ورهاخوا ګوندونه د خپلو چارو د سمون او دغږیتوب ، کار او سیاسي چارچلند لپاره نورې کړنلارې هم لري ، چې د ګوند دسپلین تنظیموي.
له پورتنیو یادونو څخه زبادیږي ، چې د ګوندونو لپاره داسې علمي– عملی تګلوری د ملاتیر دی، چې دهغو په مرسته دې دخپلو خلکو د انساني ژوند پرلا ښه والي هغوی قانع کړای شي.
اوس راځئ د یوه بریالي ګوند یوشمیر ځانګړنې وشمیرو :
.دانساني ژوند دلاښه والي لپاره دیوه علمي . عملي سیاست او فکر رامنځته کول ، پالل، پرمختګ او په بیلابیلو تاریخي شیبو کې یې نوي کول.
.دداخلي چار چلند لپاره منظبط او دسپلین راوستونکي قوانین.
. پاکلمنی، ژمن او خلکوته دمنلو وړمشرتوب، ترهغه بریده چې په داسې کیش شخصیت وانه وړي، چې په ګوندي دیکتاتوریې بدل کړي.
په دې کې شک نشته ،چې دیوه ګوند لپاره سیاسي ځیرې ډیرې مهمې دي ، ځکه خلک .په تېره بیا په افغانستان کې.تر دې وړاندې چې وپوښتي: دا ګوند څه غواړي ؟ لومړی دا پوښتي: چې څوک په کې دی ؟ یا چا جوړ کړی دی؟ خو بیا هم ،بریالي ګوندونه هغه دي چې فکر محوره وي ، نه شخصیت محوره.

.دګوند بنسټ بنايي په خلکو کې وي نه په نظامونو او ځواکونو کې، دا په دې مانا چې ځواکمن او سراسري ګوندونه هغه دي چې د پرګنو له منځه راپاڅي او په ولس کې اغيز او منښت ولري . البته د ويرولو ، پيسو او ګوتڅنډنې په زور اغيز او دروغجن( کاذب) نفوذ نه، بلکې فکر ي منښت او اغيز.

. ګوند بنايي د دې لپاره هڅې وکړي چې دانساني ژوند دښېګڼې لپاره خپله فکري ستراتيژي عملي کړي او هر امکان ( دسياسي ځواک په ګډون) دهمدې موخې لپاره وکاروي، نه دا چې د ځواک ګټل يې يوازينی هدف وي. او که نظام وغواړي د هغه فکري ستراتيژي ورعملي کړي ، نو ګوند ته نه بنايي چې خپل وخت او توان پر واک ګټلو ولګوي.

اوس يې نو تاسو وسنجوئ ، چې موږ څو داسې ګوندونه لرو ؟

# ملي شرم

ويکي ليکس هم زوروره بلا ده ، د ډېرو لمنې يې پر سر راواړولې، خو له بده مرغه دملي ګټو په وړاندې دبې پروايۍ معافيت دومره زورور دی، چې ملي شرم څوک شرم نه ګڼي. ويکي ليکس ويل : داسې بناغلي او اغلې شته (آن د ځينو پارلماني بناغليو ترلوړ بريده) ،چې له ګاونډيو څخه بنې پريمانه پيسې اخلي او بيا د هېواد دملي ګټو پرخلاف د ګاونډيو دکوردجوړولو په نيت خپل کور ورانوي. پخوا هم داسې څېرې وې

چې د ګا ونډي ګوره يې په جيب کې ساتله، خو دا به واړه مخبرين وو او که رسوا شوي وای نو دومره به شرمېدل، چې مرګ يې تر دې رسوايۍ بهتره ګاڼه . خو اوس خبره لويه شوې، ډير غټ غټ نوموونه په داسې شرم ياديږي، خو متل دی:(( زه چې نه شرميږم ، ما به څوک وشرموي)).

په هر ډول غواړم ، دلته يوه نوې خبره وکړم ، دا نوې خبره دا ده: چې د افرادو له خوا له ګاونډيو څخه پيسې اخيستل ملي شرم دی. ګران لوستونکي به وايي : دا خو څه نوې خبره نه ده!! ښه نو که په دې پوهيږو ، نو ولې لاهم غټ غټ خلک له ګاونډيو څخه پيسې اخلي او خپل کورپرې ورانوي؟ راځئ په دې ليکنه کې دې پوښتنې ته ځواب ولټوو :

دسړې جګړې پرمهال د افغانستان ملي ګټې دګاونډيو په لمن کې وروغورځيدې ، دجګړې له سره اوره پناه اخيستونکو افغانانو د ګاونډيو په خاوره کې سر خوندي کاوه ، نو پيشو خو هسې هم د خدای(ج) لپاره موږک نه نيسي ، ګاونډي هم زموږ له غمه نه وو مړه ، زموږ په جګړه کې يې ډيرې ښېګڼې وې، هم يې ځان ساته او موږ يې جنګولو اوهم يې موږ ځانته راڅملولو. دشوروي يرغل دوی ته اسانه په لاس وروستو؛ په دې دوه نيمو لسيزو کې يې زموږ ګټې رانه هيرې کړې او خپلې ګټې يې په سترګو راننباسلې، د اوږدې مودې کړکيچ يو تاوان موږ ته دا و ، چې د ګاونډيو ګټو زموږ د ګټو ځای ونيوه او ډير ځله يې د دين، مذهب ، قوم او يا هم شخصي او ډلييزو ګټو په نامه افغاني ګټې تر پښو لاندې کړې.

شته داسې ښاغلي چې په ښکاره يې وايي: موږ د ملي ګټو په نامه کوم څه نه پيژنو ! دا ځکه چې دوی پر ګاونډيو داسې پلورل شوي ،چې د ملي ګټو چېلنجول ورته د روښانفکرۍ يو فلمي اکټ ښکاري. خو اصلي ستونځه دا هم نه ده. ستونځه تر دې ژوره ده او هغه دا چې موږ افغانستان دې ته نه دی جوړ کړی ، چې خپل بچي داسې په غيږ کې ونيولای شي چې په پرديو باندې ونه پلورل شي. دا ښاغلي يااغلې ،چې د پرديو ګټې تر خپلو غوره ګڼي، ددې لپاره د افغانستان تذکره په جيب کې ګرځوي چې د هېواد ګټې په نورو وپلورلای شي. دوی له افغانستان سره د تملک عاطفي تړون نه لري

. ددوی په رګونو کې د ګاونډیو شیدې ګرځي او موږ په دې نه یو بریالي شوي، چې ددوی په رګونو کې افغاني شیدې جاري کړو. موږ بایدد بیا افغاني کیدو یوه دوره بشپړه کړو.

درپیمه لاره:

د ویښتیا په پړاو کې ددې شعور عامول مهم دي چې : (همدا هېواد به مو یا کور وي او یا ګور) او (د ښېګڼې هره هڅه دافغانستان لپاره!)

دویښتیا ملي غورځنګ باید ملي شرم خلکو ته وروپیژني . دوی باید له ګاونډیو او پردیو څخه دهیواد د ملي ګټو پر ضد دکولمو غوړول او دجیبونو ډکول ملي خیانت اعلان کړي. او داسې یو روښانتیايي بهیر پیل کړي، چې ځینې ښاغلي او آغلې، ګاونډوی تر خپل هیوادواله نږدې او دایه تر موره مهربانه ونه ګڼي.

ددې تر څنګ ښایي افغانستان ددې وړ شي چې خپل بچې د تملک په اړیکې په ځان پورې وتړي. دوی ښایي په افغانستان کې ملکیت ولري او دهمدې ملکیت پر بنسټ ژوند وکړای شي ، ګوندې ځینې ځینې د همدې ملکیت له برکته بیا ځان پر ګاونډیو ونه پلوري او ځان د همدې وطن کړي. هوښیار سرکار ( حکومت) هغه دی چې د خپل ملت غم په کور دننه وخوري ، د وطن له امکاناتو څخه دهغوی د مړولو لپاره کار واخیستلای شي او دپردیو له احتیاجه یې خلاص کړای شي. په کور دننه داسې ټولنیز-کولتوري ډاډمن ژوند چاپیریال ورته برابر کړي ، چې بیا یې ګاونډی د دین، مذهب، اقلیت و اکثریت یاکومې بلې عقدې په نامه تېر نه باسي. په دې اړه د ویښتیا او روښانتیا پړاوونه ښایي دا چارې تر سره کا :

۱.ملي شرم ، دهغه چا لپاره، چې د هېواد ګټې پر نورو پلوري . دمعافیت دوران ښایي پای ته ورسیږي .

۲.کډوال ښایي بیرته راپر کور شي.

۳.دبیا کډوال کیدو له ویرې څخه عامه ذهنیت پاک کړي.

۴.همدا هېواد یا کور دی یا ګور ، دافغان لپاره بل ځای نشته ،راځئ همدا هېواد ځانته پخپله جوړ کړو.
۵. ښايي هر افغان په دې ډاډه کړای شي، چې که دې هېواد ته په زړه سوي کار وکړو ، نو له همدې خاورې څخه ځان مړولای شو، دې ته اړتیا نشته چې له پردیو څخه د څه اخیستلو ملي شرم پر ځان ومنو.
۶. هیڅ ګاونډی د خدای درضا لپاره موږ ته څه نه راکوي ، که دګریوان تڼۍ راګنډي لاندې پرتوک رانه باسي.
هوښیار خبردار!!!

# دانسل دې نور تاوان نه ورکوي!

## کوم نسل؟

کيدای شي ځوان نسل ورته وواېو ، خو په دې توپير، چې يوازې دعمر له پلوه ځوان نه ، بلکې دفکر او هڅو له پلوه ځوان نسل وي، که هر څومره کلونه پرې او ښتي وي. د دې نسل په پيژندنه لږ تم کيږم :
هر هغه افغان چې همدا اوس د افغنستان دژغورلو او دافغان انسان د هوساينې لپاره فکر او هلې ځلې کوي او يا يې لږ ترلږه ارمانجن وي. هرهغه سپينږيری يا په عمر زلمی افغان چې بل افغان يې نه وي وژلی او هرهغه مشر ياکشر افغان، چې د دې هيواد په لوټ تالان کې لاس ونلري. هر افغان چې په چپ يا ښي افراط کې دومره نه وي ډوب شوی چې دهغه لپاره يې دبېګناه افغانانو مرګ روا بللی وي او دخپلو هيوادوالو او هيواد دشتمنۍ په لوټولو کې يې لاس نه وي ککړ، هر افغان چې دپرديو ايډيولوژيو لپاره يې دافغاني ارزښتونو پلورلو ته زړه نه وي ښه کړی اوهر افغان چې د پرديو لپاره يې په خوشخدمتۍ کې خپل هېواد ته زيان نه وي رسولی. هر افغان چې (افغان انسان) او افغانستان ترخپلو شخصي، ډله ييزو او يا بل ډول ګټو نه ځاروي، په دې نسل کې شامل دی او له نيکه مرغه، چې دا نسل يو لوی اکثريت دی. نن زه دهمدې نسل په هکله خبرې کوم او نن زما مخاطب ، ايډيال او دبحث وړ نسل همدا نسل دی، چې زه دلته ورته ځوان نسل وايم او بيا يې تکراروم چې له ځوانۍ مې موخه عمر نه، بلکې پاکي او پاکلمني ده.
دا ځوان نسل دې نور د تيرو سياستبازيو تاوان نه ورکوي.
نن که دغه ځوان نسل وژل کيږي ، که له انساني ژونده محروم دی، که ښوونځي و پوهنځي و کارځي نلري ، که له کار او سالمې بوختيا څخه محروم دی، که ملکيت نلري او که رواني ستونځې يې ځوروي دا هر څه دتيرو او روانو ناسمو سياستبازيو تاوان

دی چې دغه معصوم او بېګناه نسل يې ورکوي. ايا دې نسل کله هم له ځانه پوښتلي چې ولې؟
ولې دهماغو تيروتنو ځينې استازي لاهم پر دوی واکمن دي او ځوان نسل زيبښي ، زمولي او خوري يې؟ يو لامل يې دادی چې موږ بېځايه په خپله سابقه کې ورک او پټ يو ، نن او سبا ته مو پام نشته.

**ستونځه:**

موږ لاهم په تاريخ کې جنګيږو ، موږ لاهم د هغو څيرو په دفاع يا غندلو وخت تيروو، چې نور نو دتاريخ برخه ګرځيدلي دي او زموږ دنن اوسبا دښه کولو لپاره څه نشي کولای، ولو که همدا اوس دهېواد په سياسي سټيج کې لوبيږي هم. زه دبحث په مجلسونو ، سياسي خبرو، مطبوعاتو، افغاني ويبپاڼو او ناستو ولاړو کې وينم، چې ځوان نسل ددې پر ځای چې پر خپل برخليک فکر او خبرې وکړي يا خپله نن او سبا وڅيړي د هغو سياستونو او څيرو په اړه دد دفاع يا غندنې هڅه کوي چې ددوی لپاره هيڅ هم نشي کولای. دچا لپاره يو تاريخي سياستوال سپيڅلی او منلی دی او دبل لپاره يو بل ټوپکوال خاين او وطنپلورونکی ښکاري. يو ديوه ننګه کوي اوبل دبل غندنه ، په دې ناندريو وخت ، اينرژی او فکر ضايع کوي، ان چې پخپلو کې سره دوښمنۍ ته اړ کيږي، دخپلو ادعاوو لپاره دلايل پيدا کوي او زور وهي، چې خپله خبره زباد کړي ، خو په دې هېڅکله فکر نکوي چې ددې ټولو هڅو څه ګټه ؟ دا هرڅه ددوی د ژوند د ښه کيدو لپاره څومره بدلون راوستلای شي؟ دجګړې او بحران د زمانې يو تاوان دادی چې زموږ ځوان نسل يې د تاريخ په دعوو کې ښکېل کړی دی. زه ځوان نسل له تير نسل څخه دهغوی د تيروتنو او بحران راوستلو لپاره کسات اخيستلو ته نه رابولم خو دهيرولو سپارښتنه يې ورته کوم. زه له تاريخ او له تاريخي پيښو څخه دزده کړې او تجربې اخيستلو منکر هم نه يم، خو په تاريخ کې ورکيدل او پوپنا کيدل هم نه غواړم. د

ځوان نسل لپاره تاریخ يوازې ددومره لوستلو وړتيا لري ، چې تيروتنې يې تکرار نشي او بنې تجربې يې نوې کړای شي او بس!
کله چې تاريخ يادوم موخه مې يوازې پيړۍ پيړۍ پخوانۍ پيښې ندي ، همداپرون دشنبې ورځ هم دتاريخ برخه ده ، همدا تيره ديرش کاله جګړه هم تاريخ ده، چې پرته له تجربې اخيستلو په بل هيڅ نه ارزي ، ځکه موږ يې نه خپلواک کړي يو او نه يې ماړه کړي يو ، په ميليونونو ووژل شو ، خولاهم وږي ، دبل تر اغيز لاندې ، محروم او بيچاره يو.
که دځوان نسل دوه تنه د پلاني خان او استاذ پلاني يا کوماندان بستاني يا هم بل بناغلي په سر يو دبل سرونه مات کړي، خو هغه بناغلي زورور پرې خبر هم نه وي دا به ځوان نسل ته څه ورکړي؟
ځوان نسل ( بيګناه نسل) په همدې لانجو کې دپخوانيو دتيروتنو او خيانتونو تاوان ورکوي ، داتاوان څومره ځورونکى دى ، ځکه يو خو يې له دې نسله هرڅه اخيستي دي ، د محروميت په وچ ډاګ يې کينولى دى اوبل داچې په يوه رواني جګړه کې يې بنکېل کړى ، داسې يوه جګړه ،چې لاهم ځان نشي ترې ژغورلاى . دا تاوان يوازې دومره ندى چې له دې نسله يې هرڅه غلاکړي دي، بلکې داسې هم دى چې ددوى راتلونکى وروژني دوى يې د تيرو نسلونو په تورولو يا سپينولو داسې بوخت کړي چې دراتلونکي درونښولو توان او وخت نه مومي ، دا تاوان ډير لوى تاوان دى. ملامت سياستبازان، ځوان نسل په خپل ملاتړاو ځان سپينولو بوخت ساتي ، يو خو غواړي ددوى دمعصوميت تر شا پټ شي او بل له دوى څخه د پرمختګ امکان واخلي ، ځکه که ځوان نسل د پرمختللو هڅه وکړه بيا نو ملامت سياستبازان خلکو ته مخ نشي وربنودلاى، دوى غواړي؛ خلک له بده دبدتر حالت په ليدو دوى ته دوعا وکړي او وايي : خداى دې پخوانى کفنکش وبښي!!!

**درپيمه‌لار:**

هر څه‌پای ته‌رسيدلي!!
هرڅه‌له‌سره‌پيل کيږي!!!

تيرې پيښې يوازې يو درس دی، چې ښه‌به‌يې په نوې بڼه‌تکراروو او بد به‌يې دتاريخ ګودال‌ته‌ورسپارو.

تر دې پرته‌نور ښايي له‌خپلې سابقې سره اړيکې پرې کړو. يو نوی افغانستان جوړول په ځينو پخوانيوکړلارو ازمويل شويو څيرو نه جوړيږي . دنن او سبا افغانستان به همدغه ځوانفکره او ځوانعمله ( همدغه بېګناه) نسل جوړوي اودې ته به ځان وزګاروي.

درپيمه‌لاره همدا ده چې دا نسل دې نور دتيرو تيروتنو او خيانتونو، وطنپلورلو او جګړو تاوان نه ورکوي ، تېر سياستونه دځينو د مړولو ، ځواک ته رسېدلو او ځان چاغولو لپاره پرموږ راتپل شوي وو ، موږ نور دهغو په اور کې ځان نه لولپه کوو. دهغوی په غندلو يا ستاينو ځان نه ستومانه کوو ، ددرپيمې لارې نسل ايله همدومره وخت ،توان ،اينرژي او پوهه ولري چې خپله نن او سبا جوړه کړي او خپله ترخه ماضي هيره کړي .

که موږ نن وږي ، محروم، وران ، بې ملکيته ، له پوهې او پرمختګه لرې ، بنګېل، بې مشره او بدمرغه يو آيا دا ددې په مانا نده چې پر خپله سابقه د وياړ کولو لپاره ډير څه نلرو ؟

آيا نه ښايي موږ دپرون د پيښوپه اړه دشرم احساس وکړو؟ آيا دنننۍ بدمرغۍ لپاره پروني ملامته ندي؟

نو آيا، که موږ نن دا هرڅه هېر نکړو او دسبا لپاره متې راونه نغاړو د سبا نسل به موږ همداسې ملامت او خدای مه کړه مختوري ونه ګڼي ؟

د ملي ويښتيا او روښانتيا یوه لويه برخه کار همدا دی چې د ځوان نسل پام سبا ته راواړوو. شاته مه ګورئ ، دمخته تللو لپاره وړاندې وګورئ او که نه سر به مو بيا په ډبره ولګيږي.

تير ملامت سياستبازان له تاسو سره هيڅ مرسته نشي کولای ، هغوی له تاسو څخه خپل سپيناوی غواړي او بس. تير ملامت سياستبازان غواړي ستاسو دسپيڅلتيا تر شا ځانونه پټ کړي او خپلې غلا کړې شتمنۍ ستاسو پر اوږو وچلوي ، هغوی لرې وغورځوئ ، خپل همزولي ويښ او روښانه کړئ او دودان افغانستان لپاره نوې لارې پخپله رامنځته کړئ .

پام !!

ځينې نومونه هسې لوی ښکاري ، تر هغو تاسو ډير پياوړي ياست ، تر هغو تاسو پاکلمني ياست او تر هغو تاسو دخلکو د ډاډ وړ ياست ! تاسو يې کولای شئ!! دباور او اعتماد بحران چې هغوی رامنځته کړی، تاسو يې له منځه وباسئ!

دا شعارونه ندي دا دويښتيا او روښانتيا د ملي غورځنګ غږدی، هر څه له سره پيل کړئ او نور د پخوانيو تيروتنو تاوان تاسو مه ورکوئ! دتيرو د ګناهونو ، خيانتونو يا تش په نامه وياړونو او شهکاريو سپينول او تورول هيڅ په دې نه ارزي چې تاسو ځانونه (سره) او (شنه) کړئ ، دتيرو ګناهونو په ټس کې يوبل مه سوزوئ ، ځکه تاسو بېګناه ياست ، تاسو ددوی دتېروتنو له امله ډلې ډلې مه کيږئ ، دوی پرته له دې چې هرڅه درنه واخلي هيڅ هم نشي درکولای ، په رنګونو پسې مه ځئ ، ځانته يوه سپينه اوسپيڅلې سبا جوړه کړئ ، همدا ده دويښتيا او روښانتيا پيل .

## ما ولې (افغان انسان) د هرې هڅې منځټکی کړ؟

له یوې مودې راهیسې د (درېیمه لار) په لړۍ کې زما لیکنې خپرېږي ، له نیکه مرغه یو شمیر دوستانو دا لیکنې خوښې کړي اوزه یې د دې لړۍ دنویو کړیو لیکلو ته هڅولی یم، خو له دې سره سره یو شمېر دوستانو او آن زما دفکري لارې له ملګرو سره د ځینو نوموونو په اړه پوښتنې راپیدا شوي دي، له داسې نوموونو څخه یو ه هم (افغان انسان) دی، له یو شمېر ملګرو سره ویره پیدا شوې ده ،چې ګواکې زه (افغان انسان) د نورو انسانانو (روسي انسان، ایراني ، اروپایی یا کوم بل انسان) په وړاندې دروم او له دې څخه دکوم ډول راسیزم یا بل( ایزم) بوی راځي، ماته لومړی د خپلو ملګرو اندیښنې ډیرې جدي نه ښکاریدې ، خو په دې وروستیو کې خبر شوم ، چې ښاغلي س. ح. روغ په کومه بریښنا پاڼه کې د ( درباره وطن وهموطن ) په نامه یو ه لیکنه کړې او د افغان روښاندی په اړه یې څرګندونې کړي ، په دې لیکنه کې زما یوې مرکې ته هم اشاره شوې ده، چې پکې ما ( افغان انسان) خپل ایډیال پیژندلی . ښایي له ښاغلي روغ سره هم په دې اړه پوښتنه پیدا شوې وي ، نو دې پوښتنو ورو ورو اړ کړم؛ دې ته ځواب ووایم ، چې ولې ما (افغان انسان)د ټولو هڅو او فکرونو منځټکی ټاکلی او ولې وایم، چې هره ښېګڼه د افغان انسان لپاره!

دا ځکه چې افغان انسان وږی دی، محروم دی، د نړیوالو د سیاسي لوبو بلهاري دی ، او هیڅ له بهره راتپل شوی ( ایزم) یې په ښه ندی ورغلی. یو شمېر هغه دوستان له

راسیستي ټاپې ځخه ډیره ویره لري ، چې دنورو په پناه کې ژوند کوي او ښایي ګومان به کوي ،چې دغه ( نور) بیا ورنه ګیله ونکړي. زه په افغانستان کې اوسم او ماته د (نورو) ترحم په بله جامه (ټوپک ، بم ، سیاسي دسیسه ، استخبارات ....) کې راغلی دی، خو سره له دې یې سپینه وایم چې له راسیستي افکارو ځخه د کرکې تربریده بېزاره او لرې یم.

زما تیسس دادی ، چې په تیرو نږدې ځلویښتو کلونو کې چې د بشردوستې نړۍ ټول ټوپک او توپونه دافغانانو پر وژنو وازمویل شول په نړۍ او دننه افغانستان کې د ( افغان انسان) دوینې تویولو دومره ارزاني راغله چې (لرې له بشري کرامته) داروپا او امریکا دسپي او پیشو مړینه هم ورځخه لویه غمیزه ګڼل کیږي. نړیوالو چې هره وسله جوړه کړه ، چې دهرې استخباراتي دسیسې ازمویلو ته یې زړه وشو ، نو افغانستان ته یې مخه کړه او ( افغان انسان) یې د لابراتوار پر میز وغورځاوه ، پخپله افغانان یې دومره دایزمونو ، ایډیولوژیو او سیاستبازیو په حب او بغض( مینه و کرکه) کې بېسده کړل ، چې دمړیو له نڅا نیولې د پولیګونونو تر ډکولو ، په سرونو کې له میخونو وهلو نیولې د ښارونو تر اقتصادي محاصرې ، متروکو ، ټولوژنو او د خندا لپاره د وژنو تر کولو پورې یې یو پر بل وازمویل. هرچا دخپلې سیاسي یا تش په نامه ایډیولوژیکې موخې لپاره پر ښارونو توغندي وورول پر کلیو یې بمونه وغورځول او په ځانمرګو بریدونو کې یې دبیګناه او بیچاره (افغان انسان) پریمانه غوښې اسمان ته والوځولې ، دا هر څه ولې ؟ ځکه چې ( افغان انسان) بې ارزښته شوی و ، د( افغان انسان) وینه مباح وه او هر څه د (افغان انسان) د تباهۍ او وژنې لپاره روان و. عجیبه دا ده چې دغه ټولې هڅې د( افغان انسان) دله منځه وړلو لپاره راسیزم نه بلل کیده او اوس چې موږ وایو ډوډۍ ، ښوونځی ، او دانساني ژوند حق د( افغان انسان) لپاره ! دا خلکو ته پوښتنه پیدا کوي؟! موږ غواړو روانه نږدې ځلویښت کلنه معادله ( هرڅه دافغان انسان د تباهۍ لپاره) سرچپه ( هره ښېګڼه دافغان انسان لپاره) کړو. په دې کې څه ستونځه ده؟ موږ دبل هیڅ انسان ډوډۍ یا ښوونځی نه ورڅخه اخلو ، بلکې د (افغان

انسان) خپله ډوډۍ او ښوونځی ورته غواړو ، موږ غواړو له (افغان انسان)څخه لوټل شوی ارزښت بیرته ورکړو او د مباح الدم له هویت څخه یې راوباسو. دا مسله ډیرې پیچلې فلسفې ته اړتیا نلري ، بلکې د نړیوالو او پخپله دافغانانوپام دې ته را اړول دي ، چې د (افغان انسان) وژل هم د نورو انسانانو په څېر غمیزه ده ، دی هم چې وژل کیږي نو له بدنه یې وینه راځي نه اوبه. موږ تر هغو هرڅه د (افغان انسان) لپاره غواړو ، چې د نورو انسانانو په څېر ارزښت ورکړل شي. موږ غواړو دا معادله سرچپه کړو چې : د( افغان انسان) له منځه وړل دټولو وسلو ، ایډیولوژیوا و سیاستونو د تجربې لپاره ! تاسو ولیدل ، چې دلته د(ټولو وسلو ، ایډیولوژیوا و سیاستونو د تجربې اصل) دپام منځټکی (محور) دی ، موږ غواړو ( افغان انسان) دپام منځټکی کړو او دا غیرانساني معادله داسې کړو چې : ټول مشروع سیاستونه او ایډیولوژۍ ، هڅې او فکرونه د(افغان انسان) د هوساینې لپاره! انصاف وکړئ ! په دې کې ستونځه څه ده ؟ ولې نور ودان او ماړه انسانان په دې خپه کیږي ، چې موږ دې ( افغان انسان)ته هم دژوند هغه انساني شرایط وغواړو ، چې دوی یې لري؟ کیدای شي یو شمېر وګړي په نړۍ کې داسې هم وي چې د( افغان انسان) وینه یې دخپلو ایزمونو ، وسلو او سیاستلوبو په لابراتوار کې وړیا پکاروي او که تا دومره ورته وویل چې : ولې؟ وروره اخر افغان هم انسان دی ، بیا نو دوی درته وایي : هله دا راسیست وګورئ ، چې (افغان) ته هم انسان وایي او وینه یې ارزښتمنه بولي. که نړیوال موږ یوازې د وژونکو ، ترهګرو ، پوډر پلورونکو او د ډبرپېر ژوندي موجودات ګڼي بیا نو موږ هم حق لرو ووایو چې نه ! هرڅه د (افغان انسان) لپاره ، چې موږ هم پر دې زمکه د ژوند حق ترلاسه کړو. کیدای شي یو شمېر دوستان د نړیوال کیدو (ګلوبالایزیشن) په پېر کې نه غواړي (افغان انسان) له دې کاروانه لرې ووینې او یا یې ګواکې د (افغان انسان)په یادولو سره دنورو انسانانو په وړاندې ودروي ، دا سم فکر دی، خو زه به دومره ورته ووایم چې اوس له ماسره (چې په ځنکدن کې یم ) د نورو انسانانو د پاللو وس نشته ، ځکه (تو کار زمین نکو ساختي ، که به آسمان نیز پرداختي؟ ) دومره مې پریږدئ ، چې په کور

دننه یو ځل د (افغان انسان) انساني هویت زبات کړم ، او دنړۍ په هغو ولسونو کې یې ودروم چې لږ ترلږه دانساني ژوند حق درلودلای شي. ښوونځي ته د تللو رښته (حق) ولري، له خپلو سرچینو څخه دډوډۍ بودولو حق لري ، انصاف وکړئ، آیا دا حقونه همدا اوس له (افغان انسان) څخه ندي اخیستل شوي؟ هغه څوک چې دا حقونه یې لوټلي (که بهرنی دی که کورنی) آیا پوهول یې ندي پکار چې د(افغان انسان) حقونه دې بېرته ورکړي ، آیا پخپله په (افغان انسان) کې ددې ارادې راویښول ،چې ځانته پخپلو مټو د انساني ژوندشرایط رامنځته کړي راسیزم دی؟

سمه یې دا ده، چې موږ د راسیزم تعریف سم ندی پیژندلای، یوه ډیره ساده پیژندنه یې دا ده چې څوک دې خپل توکم تر نورو لوړ وګڼي او یا دې نور تر خپل توکمه ټیټ وبولي.

دا راسیزم ندی ، چې څوک دې خپل ملت ته ښېګڼه وغواړي او دهغه د هوساینې لپاره دې کار وکړي.

درنسانس یو فکري بدلون همدا و چې د منځنیو پېړیو په خرافاتي دوره کې په اروپایي انسان هغه څه راغلي وو ، چې په لږ و ډیر توپیر نن پر موږ راغلي دي، د بیا راویښېدو ددورې مفکرینو هڅه وکړه چې د انسان ارزښت وځلوي او اروپایي انسان د ټولو هڅو منځټکی کړي ، د ساینسي پوهنو د پرمختګ ډینامیک لامل همدغه فکر و. له طب او چاپ څخه نیولې تر سیاسته ټولو پوهنو غوښتل د اروپایي انسان دهوساینې شرایط رامنځ ته کړي ، ایا زه اوس خپل هیوادوال ته دهمداسې بیا راویښیدنې لپاره هلې ځلې نشم پیلولی ؟ چې لومړی دهغه د ژوند دښه کیدلو په موخه بهرنیو او کورنیوته (افغان انسان) منځټکی وټاکم او پرته له دې چې د نورو په وړاندې یې ودروم هره ښېګڼه دهغه لپاره وغواړم، ایا دا د روښاندۍ په فلسفي تاویل ماویل کې څه ستونځه راپیښوي؟ که تاسو غواړئ چې زه دې په ځنکدن کې د ټولو اروپایي او امریکایي انسانانو لپاره هم څه ښېګڼه وغواړم ( ددې لپاره چې روښانفکره ښکاره شم یا مې څوک راسیست ونه بولي ) داخو ماته دخندا خبره ښکاري.

چې رالنډه يې کړم ، په ما کې همدومره متره پاتې ده، چې ايله (افغان انسان) دخپلو هڅو په محور کې ودروم، زه ډېر هیومانیست یم او دهر انسان په درد ځوريږم ، خو لومړی باید (زه) یو څوک شم او لومړی باید زه دخپل کور پر مړيو ، وږيو ، او محرومو له ژړا څخه وزګار شم ،چې بيا پر نورو هم اوښکې وبهوم. زه د(افغان انسان)هوساپينه غواړم او که په دې کې هر څوک د هر(ایزم) ټاپه راباندې ولګوي ، دا به يې د (افغان انسان) په وړاندې يوه بله دوښمني وبولم او بس.

تر هغو چې (افغان انسان) دخپلو ټولو هڅو په محراق کې رانه ولو ، همداسې به وژل کیږو تړل کيږو او محروم ، وږي ، وزګار ، او بې ښوونځي به يو . يو شمير له راسيزم څخه بیزاره او هیومانیست(!) نړیوال به مو واجب القتله ، مباح الدم ، وحشي، ترهګر، دپوډرو قاچاقبر او دډبرپېر (عصرحجر) موجودات ګڼي، خو موږ ځانونه له دې نوموتو پاکولای شو ، خواري کوو، چې له داسې پيژندنې څخه ووځو او همدا ده د (افغان انسان) د ژغورنې منطق.

یوځل بيا د(افغان انسان)دويښتيا او روښانتيا په هیله !

او هره ښېګڼه دافغان انسان لپاره!

## بدلون څه مانا؟

موږ په داسې یوه ټولنیز ، سیاسي او اقتصادي حالت کې ژوند کوو ، چې هر افغان یې بدلېدل غواړي. ښه اوس نو پوښتنه داده،چې دا بدلون څه ډول دی؟ له کومه پیل کیږي؟ څوک یې پیلوي ؟ او نورو ولسونو څه کړي دي؟
ریښتینی بدلون هغه دی، چې خلک په شعوري توګه د مثبت بدلون راوستلو په پار هڅه پیل کړي.
د افغانانو د انساني ژوند د ښه کېدلو لپاره هره هڅه (بدلون) دی، او د هر افغان له ارادې او پرېکړې څخه پیل کېږي. د کور په انګړ کې دیوه نیالګي کېنول، د کور د مخې پاکول ، خپله کوڅه له خځلو خلاصول، د زوی اولور ښوونځي ته لېږل او د ټول افغانستان لپاره د فکر او عملي څه کولو پریکړه بدلون راولي.
خو لوی بدلون دادی ،چې زموږ په ناسمو انګېرنو او فکرونو کې بدلون راشي. زموږ کاره باورونه سم شي او دټول هېواد په اړه د( زما یې پرې څه) فکر بیخي هېر شي. یو ناسم فکر دادی ،چې افغانستان باید یا شورویان جوړ کړي یا امریکایان او انګریزان؟
موږ دې ته په تمه یو ، چې داوبو ښاه هم راته کفار وباسي اوپر ویاله هم راته پول ، دوی جوړ کړي، کنه نو ، ښځې او ماشومان به مو ورڅخه خېژونه وهي. بل ناسم باور مو دادی

چې هر څه بنایي حکومت وکړي ، حکومت باد راوړی او باد به یې وړي، دا دسرکار کار دی او زما پکې کار نشته؟ هېواد دخلکو کوردی ، خلک د پرګنو ټولګه ده او پرګنې د وګړیو (افرادو) مجموعې ته وایي. که فرد جوړ شي ، پرګنې به جوړې شي او دپرګنو اراده به هېواد جوړ کړي.

وګړي بنایي څنګه جوړشي؟
موږ دملي اخلاقو څواکمنتیا او روزلوته اړتیا لرو . ملي اخلاق څه دي؟
دهغو فکري .عملي ظوابطو مجموعه ده ،چې عملي کول یې هېواد ته ملي ګټه رسوي او هېرول یې ټول هېواد ته تاوان. مهمه داده چې په دې ګټه او تاوان کې زموږ هر یوه ګټه او تاوان نغښتی دی، په حقیقت کې موږ ځکه دټولیزې ګټې او تاوان لپاره پر فکر کولو مکلف یو ، چې خپله ( فردي ګټه او تاوان) راته مهم دي. فکر وکړئ: یو افغان وایي زما یې پرې څه که په زرنګار پارک کې ونه ووهل شي؟ دونو همداسې وهل کېدل او ورکېدل د تنفسي ناروغیو لامل ګرځي او دهمدې افغان بچی یا وژني یابنایي په ډیرو پیسو ورغول شي ، داګټه او تاوان وسنجوئ ! او په دې اړه په ملي اخلاقو کې یوه برخه ورزیاته کړئ. د وګړیو له خوادملي اخلاقوپر بنسټ خپل مکلفیتونه په پام کې ساتل ټول ولس سمې لارې ته وربرابروي او دټولیز التزام علمي بنسټ جوړوي . هر څه زما لپاره ، ځکه نو هر څه دافغانستان لپاره! او داد دې لپاره چې (زه) یعنې افغانستان او (افغانستان) یعنې زه.

زه دافغانستان لپاره ؟ که افغانستان زما لپاره؟
په عادي شرایطو کې هېوادونه دخپلو اوسېدونکو او اوسېدونکي د خپلوهېوادونو په وړاندې حقوق او مکلفیتونه لري ، خو په کړکېچنو حالاتو کې ددغو حقونو او او مکلفیتونو په انډول کې توپیر راځي ، افغانستان اوس نشي کولای د هر افغان لپاره دژوند هغه شرایط چمتو کړي چې سویس یې یوه سویسي ته ورکولای شي، خو ددې په

بدل کې هغومره هڅې چې يو سويسي يې بايد دخپل هېواد لپاره وکړي موږ افغانان مکلف يو ،چې دهغو څو چنده دافغانستان لپاره وکړو. يوه ناسمه تمه چې موږ يې لرو هغه داده ، چې ډېر ځله په دې فکر کوو ، چې افغانستان موږ ته څه راکولای شي ؟په دې کې بايد بدلون راولو او په دې فکر وکړو ، چې موږ افغانستان ته څه ورکولای شو ؟ موږ بايد افغانستان ته ډير څه ورکړو ، ډېر څه ورته وکړو ، هله به دا هېواد ددې وړ شي ،چې زموږ بچو ته يو څه ورکړلای شي.

افغانستان وينه نه ،خولې غواړي!
دجګړې يو شوم ميراث داشعار دی: موږ حاضر يو چې د دې او هغه لپاره خپله وينه وبهوو!
ولې؟
افغانستان تر وينې زيات خولو تويولو ته اړتيا لري( دا نه هيروو، چې په هر تاريخي پړاو کې دهغو مېړنيو افغانانو درناوی او قدر پکار دی ، چې د هېواد دخپلواکۍ ، عقيدوي او ملي ارزښتونو دساتلولپاره يې ريښتينې قربانۍ ورکړې دي) ،خو ايا کله مو پر دې فکر کړی ،چې بايد دخپل هېواد لپاره خولې هم وبهوو؟په اوسني بشرپاله او پرمختللي نړيوال شعور کې د خولو ارزښت تر وينو ډير دی ، خولې تويول د انساني ژوند د لاپسې ښه والي مانا لري او دوينو تويول د تاوتريخوالي او مصيبت نښه ده. که دپرمختګ لپاره خولې ونه بهوو ، نو ټول عمر به په وينو بهوولو کې پاتې شو.
يو بدلون چې موږ يې ښايي دخپل هېوادپاله ټوليز شعور په بنسټ کې راولو هغه دوينې تويولو پرځای دخولو تويولو هوډ دی.

دا بدلونونه رهبري غواړي :
هر ملي.ټولنيزاو سياسي خوځښت ،چې غواړي دافغان او افغانستان دښېګڼې لپاره څه وکړي ، ښايي دداسې بدلونونو د پېژند او رهبرۍ لپاره اغېزمن ، علمي

مېکانیزمونه رامنځته او عملي کړي. موږ که دهر افغان په شعور او ذهن کې داسې بدلون راوست نو افغانستان به مو دتل لپاره له ترخو او بدو بدلونونو څخه ژغورلی وي.

## موږ و لې همدردي نلرو؟

((اوږدې مودې مادي فقر معنوي فقر زېږولی دی، موږ وږسترګي یو ، سترګې اوروان مو وږي دي ، ځکه خو همدردي نلرو. ))
له خپل یوه ملګري سره د یوه دوست په واده کې ناست وم ، په خبرو خبرو کې دغو ټکو ته راورسېدو ، چې بیا مې ملګري په ټینګار راڅخه وغوښتل چې ددغې مکالمې پایله ددرېیمې لارې په لړۍ کې شامله کړم.
واده دښار په یوه خورا مجلل او لوی هوټل کې و ، چا ویل درې زره مېلمانه یې راغوښتي ، درې ډلې سندرغاړي لګیاوو او دمېلمنو له غوږونویې پنبې الوزولې ،تر نکاح وروسته ډوډۍ راغله پر هر میز لس کسان او بیا نو د هوټلي زلمیو منډې ... په درنګ شیبه کې پر لوی میز د لوښیو دایښودلو ځای نه وو او هوټلیان اړ شول چې ځینې لوښي سر پر سر کیږدي ، اووه ډوله پولاو ، ډول ډول غوښې ، میوې او ..... ما حساب وکړ پر هر میز دومره ډوډۍ کتاره شوه چې په عادي وخت کې پینځه کورنۍ پرې ښې مړیدې ، ما او ملګري مې باور درلوده چې دهمدې هوټل تر څنګه په خوارو ختینو

کورونو کې لسګونه ښځې وږې ویدې شوې دي او ډیر ماشومان به دیوه لوښي وریجو خوړ بوی په خوب ویني ....
موږ ولې داسې یو؟ ولې دهغوی دلوږې په اړه فکر نه کوو؟
ځکه هغوی زموږ څه نکیږي !
زموږلپاره داسې لوی تاوان کول د لویې په مانا ده او ددې لپاره چې تر نورو مو توپیر جوت شي او خلکو ته مالداره ښکاره شو د بډایتوب همداسې مظاهره کوو.
موږ پیړی پیړی په ټولنیز مادي فقر کې تیرې کړي دي ، زړونه مو ډک دي ، عقده لرو او ددې لپاره چې د فقر په وړاندې خپله رواني عقده ماته کړو ، داسې لیونتوب کوو.
مادي فقر په معنو ي فقر اخته کړي یو او که کوم وخت مو د یوه فرد په توګه مادي فقر پای ته ورسیږي لاهم داوږدمهالي ټولنیز معنوي فقر له لاسه ځوریږو او ددې لپاره چې خلکو ته ځان وښییو چې : هې خلکو ! وګورئ زه بډای شوی یم او کولای شم داسې مېلمستیا وکړم او یا هم د خپل وروستي موډل ګاډي د ټایرونو خاورې او دوړې په ډیره چټکۍ سره د هغو ماشومانو مخ ته وروشیندم ، چې دسړک پر غاړه په سوال او زاریو دیوې مړۍ ډوډۍ پیسې غواړي.
زه نه غواړم اخلاقي نصیحت وکړم چې داسې باید وکړو یا داسې ونکړو، بلکې پر هغې ځانګړې ټولنیزې ستونځې به لږ تم شم چې له موږ څخه یې همدردي هېره کړې ده.
ستونځه :
موږ دهغې اوږد مهالې بې وزلۍ له امله چې له پیړیو پیړیو ورسره مخامخ یو د ځانولۍ پر عقده اخته شوي یو ، که بډای کېدل لږ هم شوني و ي، نو په حلالو او حرامو پسې نه ګرځو ، په قانوني یا ناقانونه کړنې فکر نه کوو ، بس له سمې یا ناسمې لارې څخه ځان پړسوو، اوددې لپاره چې خلک مو هم له شتمن کیدو خبر شي ، د ځانښوونې لارې چارې لټوو، لږ ځله دنورو د بې وزلۍ په هکله فکر کوو او په دې پسې نه ګرځو، چې څوک وږي دي او څوک جامې نلري ، که د یوې لمانځنې یا سیاسي شوې مذهبي ورځې لپاره کوم ګاونډی

. دخپلو سیاسي موخو لپاره . پیسې راکړي نو په لکونو ګزه ځوځې په ښار کې راځوړندوو او بیرغونه ترې جوړوو ، خو دومره دخیر لاس نلرو چې لوڅو لپړو ماشومانوته یوه جوړه جامې برابرې کړو.
له بلې خوا دنړیوال جوال دراخلاصیدو ، جګړو، د مافیایي ډلو دواک، فساد ، دقانون دکمزورۍ اوبېواکه اداري له لاسه دافغانستان د خلکو په ژوند کې یو ناانډوله بدلون راغلی ، ډیر ې کم شمېر کورنۍ دومره شتمني شوې ، چې د خوارو هېوادوالو پر مخ دتکبر اروړمي راوباسي ، یو شمیر خلک هم د منځني پوړ شتمنۍ ته ورسېدل ، خو لویشمېر افغانان لا پسې دپولۍ ټک ته کیناستل. دمادي فقر له امله رامنځته شوي معنوي فقر همدردي ووژله او دا یې له شتمنو څخه هېر کړل، چې دنورو ناشتمنو په اړه هم فکر وکړي ، یو ښاغلی په همدې کابل کې ژوند کوي ،چې هر سهار یې د بزکشۍ اسونه هومره کیلې ، هګۍ او نور ځواکبښوونکي خواړه اودرمل خوري ، چې په بیه یې پینځه زره وږي افغانان مړیدای شي.
موږ په دې لیکنه کې هیڅکله له دې څخه شکایت نه کوو ، چې ولې ځینې افغانان شتمن شوي ، زموږ ستونځه دا ده چې شتمن نپوهیږي ، چې څنګه له خپلې شتمنۍ څخه دعامه ګټې او انساني همدردۍ لپاره کار واخلي .

درپیمه لار:
عقیده ، اخلاق، قانون او عاطفه له موږ سره مرسته کولای شي . اسلام بې ځایه اسراف نه مني ، اخلاق حکم کوي ،چې دځانښوونې پر ځای د اړ (مجبور) افغان لاسنیوی وکړو، قانون راته وایي چې په داسې لارو پیسې ونه ګټو چې دبل پکې تاوان وي، او عاطفه مو دې ته نه پریږدي ، چې دخپل ګاونډي وږی ماشوم هیر کړو اوپه خپل کورکې پینځلس ډوله خواړه پاخه کړو او چې پاتې شول نو په خځلوښي کې یې واچوو.

دویښتیا په پړاو کې ښایي په پراخه پیمانه عقیدوي ، اخلاقي ، قانوني او عاطفي ارزښتونه وځلول شي او خلک په دې وپوهول شي چې دمعنوي فقر علاج پکاردی ، خدای مهربانه دی مادي فقر به له منځه ولاړ شي ، خو که موږ د معنوي فقر مخه ونیسو ، ددغه فقر دله منځه وړلو لوی وسایل همدا څلور ( عقیده ، قانون ، اخلاق او انساني عواطف) دي .

موږ باید د خلکو همدردي بېرته راویښه کړو ، یو دبل په اړه خواخوږي ورزو او په دې وپوهیږو چې :

ترهغو پورې وګړی( فرد ) نه شي هوسا کیدای ، څوچې ټولنه هوسا نشي!

ترهغو پورې چې یو افغان انسان وزګاره او وږی وي ، موږ د څو ډوله خوړو پخولو او ډیر لوکس ژوند حق نلرو !

دروښانتیا په پړاو کې ښایي هغه علمي لارې چارې اومیکانیزمونه رامنځته شي او د عملي کولو لپاره یې هڅې وشي ،چې له شتمنو سره په سمه پانګونه کې مرسته کولای شي داسې پانګونه چې خیر یې هم شتمن او هم نورو خلکو ته ورسیږي. دهغه واده په بې ځایه لګښت باندې د چرګانو یو وړوکی فارم جوړیدای شو ، کاشکې زه خبروای اوخپل دوست ته مې وخته مشوره ورکړې وای ،چې په واده کې ددومره افراطي لګښت پر ځای یو وړوکی فارم ، یا دبوټونو دجولولو یو کوچنی کارځای جوړ کړي، ګټه به ګټه وکړي، څو وږي افغانان به دکار خاوندان شي او له بهرني احتیاجه به هم خلاص شو ، هم خرما هم ثواب.

دویښتیا پړاو د ټولنیزې روزنې پړاو دی ، دهمدردۍ دراویښولو پړاو ، خو دا همدردي یوازې دزړه سوي تر بریده نه ، یوازې د نغه نغه کولو او ځان خلاصولو تر ښوونې پورې نه ،بلکې د عمل کولو ، بدلون راوستلو او له مادي او معنوي بې وزلۍ څخه دځان تر ژغورلو پورې پرمختګ دی ، ددې عملي میکانیزمونه به دروښانتیا په پړاو کې دومره عامیږي ، چې خلک پخپله بدلون راوستلای شي. بیا به نو هر شتمن په


Download from:aghalibrary.com

واده کې د لوټونو دشیندلو پرځای له خپل احتیاجه هیوادوال  سره مرسته کوي چې په یوه تولیدي چاره بوخت شي .
همدا ده دټولنیزې اصلاح په لور دویښتیا او روښانتیا مزل ،
له دې سره ملګري شئ !

**Download from:aghalibrary.com**